زلکاوی گیډی

لیکوالی : علی محمد سوبمن

پښتو ټولنه

۱۳۵۵

اهـدا

دفولکلوریکوموادو

دغه ګیلۍ

د افغان ملت ځوان نسل ته وړاندې کوم چې داولسي شتمني
د خاورونه راپورته اودنیستی دبادنه یې وساتي اوراتولولو ته یې
دسینې نظروارۍ ....

علی محمدسوبمن

مـــنـــنه :

دپښتو ټولنې رئيس څېړنوال محمدصديق روهی ته کورودانی وایم چې دښه نيت او مينې له مخې يې دکتاب دچاپولوپه برخه کې پوره مرسته کړې ده.

* * * *

دکتابونو کميټې گرانو ملگرو ښاغلو څېړنوال دوکتور عبدالحکيم هلالی ، څېړنوال دوکتور سيدال شاه فولاد ، څېړنوال دوکتور دولت محمد څېړنمل دوست محمددوست او څېړنمل عبدالرحيم رحيم ته دعمر اوږدو الی غواړم چې ددوی دډېر زيار او ښه نظر له مخې کتاب دچاپ دپاره تيارشو.

* * * *

دوکتور سيدال شاه فولاد او دوست محمد دوست نه تشکر کوم چې دکتاب داصلاح اوسمون په برخه کې يې پوره کومك کړی دی .

* * * *

دخپرونې لوی مدير څېړنوال محمداکبر معتمد روغتيا غواړم چې دکتاب دخپرونې اوچاپ په وخت کې يې دښه نظر له مخې لازم کومك کړی دی .

* * * *

دمحمد شيرين سنگرې نه ډېره ډېره مننه کوم، چې دده په اهتمام او خورا زيارسره کتاب دخپرونې ډگر ته راووت .

علی محمد سوبمن

سریزه

دسریزې دلیکلو په چرت کې وم چه ناخاپه مې دوړو کتوب‌دو خت یوه خاطره سترګوته ودریده .ښایی دلسو کلو په منګ‌به وم چه یوه ورځ مې سترګه رپیده. مورته مې وویل : «ادې ،سترګه مې رپیږی.» دې پوښتنه وکړه : «کومه سترګه؟»

ماورته وویل : «ښی‌سترګه »

مورمې وویل : «ولاړشه ، دباندې وګوره. ښایی پلاردې له سفرنه راغلی وی .»

ـلومړی ـ

زه چه دباندې وو تم چه بابك داو ښ مهارنیولی کو رته رارو اندی.
په منډه راغلم په ادې مې زیری و کړو چه بابك راغی .داځل بابك او ښ په
انګو رو او خټکوبار کړی و .

له دې پیښې و روسته به هر وخت چه زمانې سترګه رپیده ډ بر به
خو شحال و م او له ځان سره به مې ویل چه هر وسر و یوه خوشحالو و نکی
واقعه د پیښیدو په انتظار کې ده .که کینه سترګه به مې رپیده نو ډبر به
خپه و م او فکرمې کاوه چه ښایی له ناوړه پیښې سره مخامخ شم. د پو هنځې
په دو ره کې ایله په دې پوشوم چه د اخرافات دي خو سره له دي ،په
غیر شعو ری توګه دې خرافاتو زمانه ذهن کې په پټه خپل کار کاوه .
ګمان نه کو م چه زه یابل دې بالکل له خرافاتو څخه بیګا نه شوی و و .

په لرغو نو او لو مړ نیو ټولنو کې انګیرنې او خرافات دیو زیات شمېر
پیښو مسؤ و ل ګڼل کیږی. انګیرنې خلکو ته مشو ره و رکوی چه په یوه
کار پیل و کړی یایې و نه کړی. انګیرنې دنتیجې په باب پخوا له و خته
خبر و رکوی .انګیرنې دوست او دښمن ،صادق او خاین ، پرا وو رراته
معرفی کوی . انګیرنو دملتو نو د سر نوشت دټاکلو په برخه کې اساسی
نقش درلو د. مثلاً یوه و اکمن به دفال یا شګون له مخې فیصله کو له چه په
جګړه لاس پو ری کړی که نه .دیوه تو رن دمسؤ و لیت دټاکلو په باب به
له انګیرنو څخه دشر یعت په توګه کار اخیستل کیده .د مثال په توګه

په لرغون یونان کې به دتورن (متهم) په مخکې دوې د روازې وې او ددوارو دروازو کونجې (کلې) به تورن ته ورکول کیدې. تورنو الکدرلودچه هره دروازه خلاصوی .دیوې دروازې ترشابه زمری او دبلې ترشابه یوه ښکلی پیغله وه . په ستود یوم کې به نندار چیان ناست وو او د محاکمې انتظار به یې ایسته. که زمری به راووت تورن به یې خیری کړنو ددې سنعاداوه چه تورن واقعاً مجرم و او که پیغله به راووته هغې به لهدهسره واده کاوه او د جشن او خوشحالی دودبه پرځای کیده .

په سنځنیو پیړیو کې به تورن ته سره اوسپنه په لاس کې ورکول کیده. که تورن بهوسونو طبعاً پراومجرم ګڼل کیده .دغه ډول دودونه په هرځای کی وو. حتی همداوس ،پهخوست ،سنګلو ، ځد رانهو او دپښتنو په ځینو نورو سیمو کې (د کټوې لړل) دجرم داثبات دپارهٔ د یوې عمده وسیلی پهحیث استعمالیږي .تورن خپل لاس په ایشید ونکی کټوه سندی اوکانې را اخلی ،که کانې راوباسی نو سپین (بری الذمه) اوکه راوې نباسی نو تور (مجرم) دی .

خرنګه چه انګیرنې دولسو نو د او ډ دو تجربو په ترڅ کې لاس ته راغلی دي ځینو یې په عملی ژوندکی ګټور اړخونه هم درلودلی‌دی . دمثال په توګه ،ما شوم ته ویل کیږي دبام په ژی مه ګرځه شیطان

به دې لا ندې وغو رڅوی یا داچه خلاص کړی چا کو یا خنجـر په لاس کی مه گر ځوه چه دښو خلکو ارواوې (ارواح) په غو څیړی.

که سو نیر دغه انگیرنی په غو رو گورو له هغو څخه د و لسونو د اقتصادی وضعی ، اجتماعی مناسبا تو ، اوکلتو ری ارزښتو نو په باب معلو ما ت تر لا سه کولی شو . لهښه مرغه ، د د ې کتاب لیکونکی ځای په ځای دا نگیر نو منطقی پس منظر هم ښو دلی دی چه دغه ډول معلو مات دولسی ژو ند له تحلیل سر ه پوره سرسته کوی .

زمو نیر افغا نی ټو لنه دفو لکلو ر یو ه لو یه او شتمنه خز انه د ه . که څیړونکی دڅو و رڅو دپاره دمیزتر شاکا رپرېږدی . کلیو اوبانډ و ته ولاړشی . دیو ه علمی میتو دپه رڼا کی فو لکلو ری مو اد را ټو ل ،تنظیم اوتحلیل کړی په با و ری توگه و یلی شوچه د اکا ربه دتا ر یخ ، ټو لنپو هنې ، او بشر پیژندنی په څا نگو کې ډیر نوی مو اد اضافه کړی . ښایی یو څو ان مینی راونغاړی دماشو مانو کیسی را ټول کړی ، بل ولسی لو بی ولیکی یو بل دودونه راغو نډ کړی ،کو م بل د پخلی چا ړې اوخو راکو نه ، یو بل فولکلو ری درملو نه اوطبا بت ، یو بل ولسی سند ری ،اټنونه، متلونه او نو ر ، اوکوم بل داجتما عی مناسبا تو ، د بیلو بیلو طبقو دژوندد څرا نگوالی په باب څه‌ولیکی‌اویوبل‌دقبایلی‌ژوندټول‌خصوصیات‌وڅیړی....

په‌د ې ترتیب گو روچه دڅو انانو په مخکی په‌سلگو نو موضوعات پرا ته

ـ څلو رم ـ

دی مګر دوی دسیز تر شا ناست دی قلم یې په ګوتو کې نیو لی او نه پوهیږی چه کومه موضوع ولیکی .خوانان باید له ښوونځی او پوهنځی څخه میتود داخلی او په خپله ټولنه کې یې تطبیق کړی . زمونږ ټولنه د انتروپالوجستانو ، ټولنپوهانو ،فولکلوریستانو ،او تاریخ لیکونکو د پاره ډیر زیات موادلری . د(فولکلوري ګیډی) مؤلف ښاغلی علی‌محمد سو بمن د فولکلور دباغ څخه یوه ښکلی ګیډی ترتیب کړی ده. داسی ښکاری چه‌دی به‌په راتلونکی وخت کې نوري ګیډی هم جوړې کړی او دخپلې ټولنې د ژوند دروښانولو په لاره کې به خپل خدمت ته دوام ورکړی . مونږ ښاغلی سو بمن ته سو به او بری غواړو .

څیړنوال محمدصدیق روهی
د پښتو ټولنې رئیس

ددغه اثر په باب يو څو خبر ی

دايوه تشه دعوه نه ده چې افغانستان دآريايي لرغونی تمدن اولر غوني فولکلور ځانګوبولي .آريايي لرغوني قبايل چې لاپه خپل لومړي تاتوبي : بلخ ،پامير ،دهندوکش په لمنو او دافغانستان په نورو سيمو کې ميشته وو روښان تمدن يې لاره . فولکلور چې اولس دپوهې معنالری دا ولس دعيني او ذهني شرايطو څرګندوی دی .

دپخوانيو آريايانو داولسی پوهې آثار له هرڅه زيات په اويستاکې پاتې دی. خودمحققينو وروستی تحقيقات وايي چې زمونږ تر عصره رارسيد لی آريايی اولسی پوهه (فولکلور) ددووسلسلو پاتې شوني دي :

الف: دباختريانو له لارې چې همدغه اولسی پوهه (خصوصا دحماسې په ډول) له هرڅه زيات داويستاپه متنونو اغيزه کړې ،هغه يې اخستی دی او دزردشتی دين دعقايدو جزأ ګرزيدلی دی .

بـ:دساکو اولسي پوهه.دزړدشتیانوسره دایدیالوژ یك اختلاف له امله دهغوی اولسي پوهی داویستامتنونو ته لاره پیدانه کړه خوله یو پ سینې نه بلې ته نقل اوو روسته له هرخه زیات په فارسي زاړه ادب کې منعکس شول(دساری په ډول درستم حماسي دفردوسی په شهنامه کې)

ساك او باختریان څوك دی ؟

ددغې پوښتنې په ځواب کې دمستشرقینو و روستی نظریې په جرء تو ایې چې ساك او باختریان د پښتنو داوسني توکم په جوړولو کې سترهبرخه لری. په بل عبارت ساك او باختریان د پښتنو دوه لرغونې پښې دی.

ددغسي تحقیقاتو په رڼا کې (چې تفصیل یې دلته مونږ له موضوع څخه لرې کوي) و یلای شو چې د پښتنو هرې سیمې او هرې ځانګې بډای فولکلور درلود اولري یې ،خو متاسفانه مونږ تراوسه و نه کړای شول چې دهغه په څیړلو اوراتولولو کې زحمت و باسو.البته د پښتو داولسي ادب په باب څه کار شوی وی او تر یوې اندازې راتول شوی دی چې دهغه ارزښت ته په درنه ستر ګه ګورو، خود اولسي پوهې لکه د پښتنو دودونه ،کورنۍ ګو زاره فالونه، معاملې او نورو تراوسه دوسره نه دي څیړل شوی.

د پښتنو هرسیمه او هرقوم ځانته بیله بیله اولسي پوهه لری چې ټول په یوه قالب کې نه شی ځایېدلای او په هرځای کې باید په بیل بیل صورت و څیړل شی او راټول شی.

زه دښاغلي علي محمد سوبمن دغه نسبتاً ډېر اړه اثر ته په ډېره درنه ستر ګه ګورم چې

دخپل توان سره سم يې د پښتنو ديوې لرغوني او تاريخي سيمې — پکتيا او لسې پوهه راټوله کړې ده ،دادرونده کار که څه هم ديوه تن له لاسه معمولاً لکه څنګه چې لازمه ده هغسې پوره نه وي خو ده په قوي انرژۍ، پوره حوصله او زيات زحمت دغه څيړنه تر زياتې اندازې بشپړه کړې ده. زه شاغلي علي محمد سوبمن ته د دغه زحمت له امله کوروداني وايم او هيله لرم چې دده اثر به نورليکوال هم دې ته تشويق کړي چې د پښتنو د هري سيمې اوهر قوم اولسي پوهه په يراخه اندازه راټوله کړي. ځکه که دغه کار ته کلک او جدي پام ونه شي، شك نشته چې زمونږ دلرغونيکو نو دغه ستر ميراث به رانه د زمانې سيلي ديوې ژ بدلې پانې په شان دنشت اوفنا په لور يوسي.

څيړنې نمل دوست — ۱۳۵۴/۱۲/۱۸

فولکلور یا داولسی ادب خزانه

د اولس خورا لویه شتمنی او پا نګه د اولس ژبه ده ، د بشر ی افکارو او تجربو زیرمه چه په زرګونو کلونو کې دفولکلور په ذریعه راټوله شوې له نیکه مرغه په الفاظو کې خوندی ساتل شوی ده .داولس فکر ، هوښیاری، ملی تاریخ ،اجتماعی جوړښت،ژوند، جهان بیني کړه وړه اوعادتونه په فولکلور کښی په ښکاره اوقوی ډول څرګندشوی پښتو چه دبار یکیواواستعاروڅخه ډکه ده دفولکلور برخه یې خورا غنی او بډای ده ،دغه فولکلور زیات اقسام لری اولکه په وزرونو باندې د یوې پیړۍ نه بلې او د یوه نسل نه بل ته اوځی او د یوې خوا نه بلې ته ځی .

د ژوندټولې پښې په فولکلور کښې ځای شوی د ی اولکه چه دژوند پښې او روا بط ډ پر دی همدغسی د فولکلور ښاخونه بی شماره دی .

-نهم-

له ډېر پخوانه د ژوندانه د پوهې او تجربو په محصول (فولکلور) کښې دخلکو خوشالې اوغمونه ، خندا اوژړا ، مینه او کینه باور اوبې باوری ، رښتیا اودروغ ، سم چلند اوتګې ، زیاراوانې ،حقایق او او هام ،عقبی او دنیا، اخلاق اوفساد او داسې نورې په ژوندانه پورې مربوطې چارې ځای شوې چه سونبر ورنه عبرت اوګټه اخلو اوزمونبر داستفادې یوه ستره منبع ګڼله کیږی لوی پرولیتاری شوروی لیکوال مکسیم ګورګی په داسې حال کښې چه داولسی اثار واهمیت بیانوی د فولکلور په باره کښې داسې لیکی: «د فولکلور په ساده الفاظو کښې تر ټولو لوی حکمت پروت دی ، متلونه اوسندری چه د فولکلور ښاخونه دی تل لنډې وی خوفکر اواحساسات پکې د یو کتاب په اندازه ځای شوی وی).

فولکلور چه د پوهې اوحکمت چینه ده دا په اصل کې ژوند د جریان نه راوتلی دی ، دلته د یو پوه د اخبره رایاده شوه چه (ژوند د پوهې څخه نه دی پیدا بلکه پوهه د ژوند د جریان څخه پیدا شوې ده) ، دلته ددې خبرې ویل ضروری چه د فولکلور نسبت شخص ته نه شی کیدای، د فولکلور خلاق اولس دی او فولکلور داولس مال دی ، کومه شهکاری، حکمت اوفلسفه چه په فولکلور کښې ځان ښکاره کوی د هغو نسبت اولس ته کیږی ، اواس په اجمالی او مجموعی ډول سره عالم ، حکیم ، مبتکر اوفیلسوف دی او د ټولو کمالاتو منبع ، چینه او مرکز همدا

او ټس دی ، سونږ پوهیږو چه کوم نوابغ ، عالمان مجتهدین او څېړونکی چه دبشریت د پاره خدمت کوی همدغه اولس وړاندې کړی دی او کوم افتخار چه په ټولنه کښې اشخاص ګټی دغه په حقیقت کښې داولس افتخار دی، څرنګه چه پښتنی اولس ټول یو اولس دی نو د فولکلور کوم اجزا لکه متلونه ،لنډی، کیسی، سندرې، بګټی داسې نورچه د پښتونخوا په ختیځه پیځه کی او ریدل کیږی هغه تاسی د پښتونخوا په لوی دیځه کښې هم او ریدلای شی او لکه و او ره چه په هیڅ ځای کښې خپل رنګ او سپینوالی دلاسه نه ورکوی همدار نګ پښتنی فولکلور د پښتو نخوا په هیڅ سیمه کښې خپل رنګ او خپله ملی صبغه نه بدلوی او په هماغه پښتنی اولسی بڼه پاتی دی

څېړنو عالمانو پښتنی فولکلور د هغې د یوې سره تشبیه کړی دی چه د تل د پاره بله وی مګر ځای یې معلوم نه وی چه چیرې ده او وخت یې معلوم نه وی چه دکله را هیسی بله شوې ده خو پښتانه نسلونه یې په پیړیو پیړیو یو بل ته سپاری او بله داچه په پښتنی فولکلور کې د خوشامندی او غوړه مالی آهنګونه نشته او د مداحی قصیدې او نغمې پکی نه اوریدل کیږي ، موضوع یې څرګنده او بنکاره وی ، فکر پکی ظاهر او بارزوی ، الفاظ یې په صراحت سره پخپله معنی دلالت کوی او مضمون او مقصد یې عمیق او ژور وی .

کله چه په فولکلور عمومی نظر واچول شونو داخبره کوم چه

ـ یو ولسم ـ

ښاغلی علـــــی محمـــدسو بمن د خپل اثر د پاره یو ه ډ یره غو ره موضوع (فولکلو ری گیډی) خو ښه کړې د ه او ښه خبر نه یې پکښی کړ ی د ه ، د فولکلو رزیاتره ا رخونه یې را و ړی دی او مناسبه رنایی و ر باندی ا چولی د ه ، د ه په عمومی ډ و ل د پکتیا فولکلو ر و ړا ندی کړ ی خولکه ما چـــه پو رته و و یل پښتنی فولکلو رسره شریک دی ا و کوم د یا د و لو و ړ فرق نه کوی ، د لته د اخبره کوم په پکتیا کښې د پښتنی فولکلو ر ستره ذ خیره پرته د ه او زما په فکر د دې کار یو علت دادی چه د غـــه ځای ته تحریری ا د ب نسبتاً و روسته رسیدلی دی ا و د د غه ځای خلک همدا اوس هم خپلی تجملی ا و تغنی ا رتیا وی په فولکلو رپو ره کوی او زیاتره د فولکلو رنه خوندا خلی ، زه د ښاغلی علی محمد سو بمن زیار چه د فولکلو ری گیډی په لیکلو کښې یې و یستلی دی ستایم او په د ې لا رکښې لا نو ر توفیق هم و رته غواړ م ..

زه خپله و ینا په دې شعار بس کوم چه پښتنی فولکلو ر دې له ضیاع نه و سا تل شی .

محمد اکبر معتمد پښتو ټولنی

د نشر یا تو لو ی مدیر .

ـ دو و لسم ـ

فلکلور ی ا رزښتونه

فلکور زمونږ دژوند په کړو وړو کی ژوره اغیزه لري. په فلکلور کې زمونږ دوګړو تاریخی روایات ،عقاید، کړه وړه، دودونه ،ا فتخارات، ماتې او نیمګړتیاوې پرتې دي. دهمدې کبله پوهان فلکلور داولسی ژوند دذهنیت اوسلی کرکټر هیند اره بولي .

ترڅوچه دیوه اولس فلکلوري خواوې را ټولې او چاپ نه شی، تر هغه وخته پورې مونږ خپله ټولنه لکه څنګه چه بایی داسې نه شو پیژندلی .څومره چه مونږ خپله ټولنه ونه پیژنو په هغه اندازه زمونږ اوټولنې ترمنځ

ـ دیارلسم ـ

فاصله زیاتیږي . څوسره چه دغه فاصله او بیلتون زیات وي په همغه‌اندازه ددوی دپرمختګ بدلون اوسمون په‌برخه‌کې زمونږ پرټکړې نیمګړې دي داجتماعی ژوند دسمون اوبدلون په برخه‌کې مونږته باید د خپلې ټولنې فلکلوري ارزښتونه، ذهنی وده اونیمګړتیاوې راسعلومه وي . زمونږ هرعمل اوکړنه باید دپورتنیو ټکیو په نظرکې نیولوسره وي . څوسره چه مونږ خپل فلکلور راټولوو په همغه اندازه خپله ټولنه یوه‌بل ته ورپیژنواوسره نږدې کوو یې .

له بده سرغه‌تراوسه پورې زمونږ دهیواد دوګړو غنی فلکلور په برخه کې چاړه‌برکارنه دی کړی ،هغه یونیم کارچه په دغه‌لاره کې چاکړی ډیرلږ دی .ولې بیاهم مونږ دغه لږکار په دې خاطرچه دکار د فقرسره مخامخ یوپه‌ډیرشمیرواوپه درنه سترګه ورته ګورو.

کوم کارچه شاغلی علی‌محمد سوبمن دخپل هیواد داولس دفلکلور دګلونونه یوه غوره (فلکلوري ګیډی) جوړه کړې‌ده ، داولسی پوهې ډیرفلکلوری‌روایات یې پکې خوندي کړې‌دي،مونږ ده‌ته په‌دغه لاره‌کې دنورو زیاتو ګیډیوجوړولوتوان اوریالیتوب غواړو.

په درناوی

ځیږنمل عبدالرحیم رحیم
-څوارلسم-

فولکوري شتمنی

د و ر و سته پا تې تولنو کلیوالي ژوندۍ او ولسي ادبیات لکه: سندرې، منظومې کیسې، نکلونه، متلونه، اصطلاحات، توکې، ترانې... دو دونه، رواجونه، عقاید، کرکې، طرز تفکر... خپلوی، دژوند آداب، دخپلوانو نومونه ... او لسی قوانین لکه: روغه، ناغه، ننواتې، تیره... اجتماعي لارې چارې لکه: اشر، بسپنه، تولندره... دزړو آثارو په باب روایات، ودانۍ، عامیانه او یادې تاریخ... ستوري پېژندنه، پال نیونه، رو غوي پېژندنه... جامې، پسول او نور لوازم... پخلی او دخوړو فولکلوریك پخول... جغرافیایی فولکلوري معلومات لکه: داسمان جوړښت، دمځکی جوړښت، دستورو، سپوږمۍ او لمر په باب خبرې، دمځکې پای، اخروي موجودات، دغرونو او سیندونو جوړیدل... طب او ډاکتري لکه: له ځینې بوټو او نورو څېزونو څخه دنارو غیو د لیرې کېدو له پاره کارا خیستل، وینه ایستل، د څارویو پوستکي اغوستل، دهډوماتی ټرل... کرنه او مالداری لکه: دځارویو او بوټو د جوړښت

او روزنې په‌باب معلومات او نظر يې، کرکيله ...اقتصادی لارې چارې لکه: دجنس‌په جنس مبادله ...دانسان پېژندګلوی او د هغه د پيدا کېدو په‌باب افسانې او اساطير او په‌پای کې داولسی‌خلکو کړه وړه، داټول‌فولکلوري سوارېث او اولسي‌پانګې دي‌چې وکړپوهان او ټولنپوهان په‌خپلو خپرنو کې دې‌موادو ته‌زيات ارځښت ورکوي او دډېر اهميت‌وړ‌بې بولي. همدا سبب دی‌چې‌په‌نړۍ کې دفولکلوري‌پانګو دراغونډولو او خوندي‌کولو له‌پاره‌لويې —لويې اکاډيمی او ټولنې‌په‌کار بوخت‌يې‌دي، کې‌شمېر متخصصان خپرنې پرې‌کوي او د خپرونو‌موسسی فولکلوري‌پانګې په‌ډېر زيار، اهتمام او اما نتدا ری سره په‌کتا بو، رسالو او مجلو کې خپروي او دلوی امانت په‌توګه يې‌دخپلو ټولنو راتلونکو نسلونو ته په ميراث‌پرېږدي.

دپښتنی فولکلور دراغونډولو په‌لاره کې‌سره له‌دې‌چې‌لوړنې‌ګامونه اوچت‌شوي او څه‌ناڅه کارشوی خو څرنګه چې زموږ‌فولکلور‌ډېرو‌ډېر او پراخ دی‌له‌دې‌کيله يې‌ډېرې خواوې‌بکرې اولاس‌ناوهلی پرتې‌دي او دهېواد دحساسو ځوانانو دلټون، خپرنې او زيارګاللو انتظار باسي. دلته داخبره دزيات پام‌وړ‌ده‌چې سره‌له‌دې‌چې‌دپښتنی‌فولکلور کليات په ټولو پښتنو کې سره‌يو راز‌دي‌خو‌دپښتنو په‌بيلو— بېلوسيمو کې د فولکلوري شتمنيو داسې ګټور او مهم جزئيات هم شته چې که‌را ټول نشي‌او زمونږ د فولکلور‌دعلمي خپرنو په‌وخت کې‌په‌لاس کې‌نه‌وي‌نو زمونږ ددې خپرنو زياتې خواوې به کنډوې او نيمګړې‌پاتې شي. له‌همدې‌کبله‌زه عقيده لرم

—شپاړسم—

چې لوړی بايددهرې‌سيمې فولکلوري‌شتمنی دحساسوخوانانولەخواپەمينه
او امانتداری‌سره راغونډې شي، بياد دې‌راغونډشو سوادولەمخې دپښتنی
فولکلور اوسه سوادسره وو يشل‌شي او په‌دې‌وسيله دژورواوا کاډيميکو
څېړنولە پارەچمتو شي .

شاغلی‌علی‌محمدسو بمن چې‌دپښتيا(پکتيا)دسنګلو پەسيمه کې‌فولکلوري‌څېړنه کړې
اولە دې‌سيمې‌نه يې راز — راز فولکلوري‌سوا دراغونډ کړي او په دې
«فولکلوري کډۍ کې» يې‌دمحترمو هېوادوالو مخې‌ته ږدي، په‌دې‌برخه کې
يو مهم او ارځښتناك کار ترسره کړی‌او دپښتني فولکلور يوه په زړه پورې
برخه يې‌خوندي کړې‌او لەمنځه‌تګ‌څخه‌ژغورلې‌ده. ددەداکار به‌دهېوادنورو
سيمو ځوانان دې‌ته‌وهڅوي‌چې‌هغوی هم‌دخپلو — خپلو سيموفولکلوري‌پانګې
راغونډې کړي‌او په‌نتيجه کې‌به‌دپښتون‌اولس‌دبشپړفولکلور يوه‌خزانه‌ترلاسه‌شي.
زه‌په‌خپل‌و ارشاغلی‌سو بمن‌ته‌ددې کار په ترسره کولوسره کورودانې ورکوم
او هم‌ترې غواړم چې‌د سنګلو د سيمې پاتې فولکلوري مواد هم راغونډ
او دفولکلور علا قمندانو ته‌وړاندې کړي‌او هم هيله‌دەچې دهېواد نور
ځوانان ددې‌ملی کارپه‌ترسره کو لوکې پەسينه برخه‌واخلي او د خپلو
سيمو فولکلوري‌شتمنی راغونډې‌او خوندي کړي . په سينه

حبيب الله رفيع
کابل ، بر بښنې ،
۵۴/۱۲/۱۹

-او و لسم-

ددی کتاب په باب یو څو خبری

دفولکلوري ګیډی کتاب‌چې ماداهتمام په وخت کې‌له نیژدې نه وکوت نو ډېرسې خویښشواودامې د ځا ن سر ه پریکړه وکړه چې څه پرې ولیکم : ځکه ددې کتاب‌سواد ډېرپه زړه پوری اوښکلی وو، زما په نظر دایو ډېرښه ارزښته کتاب دی ، کوم فولکلوری روایات چې په‌دې کتاب کې ایکلی شوي دی. داټول د ګران هېواد په ټولوسیمو کې په ډېر او ډېر تو پیرولس کې رواج لري.دایو په‌پکتیا او دپښتنو نورو سیمو کې نه بلکې‌په‌دریژ بوسیمو کې هم خلك دغه‌فولکلوری او ولسی روایات لري .

-۱ تلاسم-

دفولکلوري ګډې د کتاب په ساهیت زه پوره پوهشوی یم، نوهمداو جه وه چې داول نه تر آخره پورې مې دغه فولکلوري ګلدستی ولوستې چې تر اوسه پورې په داسې موضوعاتو باندې چا کار نه وکړی، خو بناغلی علی محمد سوبمن په دې پیرانه دغه سهم کار سرته ورسوو ،زه خپله د کتاب لیکونکی سره له نیژدې نه پیژنم، څه وخت چې د ه په دې شکلی کتاب لاس پورې کړ، نو په دغه وخت کې دی ناروغه و اودغه فولکلوری ګډې یې په بیمار وجود دفولکلور سینو دپاره په پوره زیار ولیکله او دپښتو تولنې له خواهم ورته دچاپ دپاره لار هواره شوه .دادی دغه اوی او باارزښته کتاب یې دچاپ ډګر ته راوویست که څه هم په کتاب کې به ځینې نیمګړتیاوې وي او دغه نیمګړتیاوې به بناغلی مؤلف په نظر کې نیولې وي چې په راتلونکی وخت کې به یې سرته ورسوی ،داچې ده په کتاب کې ژبه کړې ده چې دو همه برخه به زړدعمل میدان ته راوباسم نوباوردی چې په دې به د فولکلوراوولسی پوهې شتمنی نوره هم پسې شتمنه اوغنی ټی .

اوس زه ددغه نوموړی زیار اوزحمت ته په درنه ستر ګه ګورم اود دلوی او توانا خدای ورته توفیق او رو غتیاغواړم چې په دوهمو اربه نور فولکلوري مواد، دبل کتاب په بڼه راوباسی اودهیواد ځوانان به ورنه ګټه واخلی. په درناوی

محمد شیرین «سنګري»

کابل - شهر آرا - ۱۳۵۴/۱۲/۲۷

- نولسم -

دلیکونکی سریزه

له دې اوږدې سودې نه را په دې خوا مې دا نیت وچې د پښتو ن ټبر فولکلوریک روایتی ارزښتونه راټول کړم .ځکه د غه کارما ته دا فغان ولس اوګنمو پرګنو د پاره د ې پر غوره بر ښیده په د غو فولکو ریکو روایاتو کې زمږ نړدولس ډیر تیر واقعات، افتخا را ت ، عقا یدا و غو ره عنعنات خوندي دی، پورتنی ا رز ښتو نه چې هر یو یې- په خپل ذات کې زمونږ د ټولنې د پېژندنې په لړ کې د ې پر مهم عنصر شمیرل کیږی په خپل اصلی شکل یې ثبت کول بو ډیر ضروري او غوره کا ر دی د د غوا ر ز ښتو نو له مخې ز مو نږ د ټو لنې ډیر ې -

-شلم-

د اسې تیاره خواوې چې تراوسه پورې د هغو په برخه کې چاته څرك غوندې هم نه دی شوی رڼا کیږي .... دد غه کار د ټول غوره والی سره سره ز مونږ په هېواد کې لا تراوسه پورې د فولکلور په ابتدایی اساساتو هم چا کار نه دی کړی . دهمدې کبله په د غه کار باندې لاس پورې کول ماته خه اسان کار نه و ، پهد غه برخه کې زړه نازړه وم بالاخره مې پرېکړه وکړه چې د هیڅ نه کولونه لږ کار کول هم غوره دی . هغه وچې په د غه کتاب مې د لیکلو لاس پورې کړاو د پکتیا ولایت د کلیو اوبانډو د خلکو شفاهی ادب پښتو ژبې په یوه شنه ورشو (منګلو) کې مې ورپسې لټه وکړه ، څه چې لاس ته راغلل راغونډ ې کړل ، خود غونډولو په ترڅ کې داراته څرګنده شوه چې زمونږ دولس فولکلوري خواړه پره پره اوغنی ده .....

که چیرې مونږ خپلې د غې فولکلوري برخې ته زرتر زړه پاملر نه ونه کړونو دا باید ومنو چې د موجوده چټکو پرمختګونو ، بدلونونو او اجتماعی روابطو د ټنګېدو له کبله د خپلې د غې ارزښتنا کې پانګې یوڅه برخه له لاسه ورکړو ، پهد غه کار کې بیړه اوچټکتیا په کار ده ، دا دیوه اود ووتنو کار نه دی . په د غه کار کې د ډېرو ځوانانو ډېرزیار په کار دی ، کوم کارچې ما کړی دی هغه به پوره نیمګړی وي ، پوره کول اوتعقیب کول بې د ځوانانو د نده ده .

تراوسه پورې کوم کارچې په د غه لړ کې لیکوالو کړی دی

-یوویشتم-

هغه د زرګونو سرغلرو د جملې نه یوازې یو څو دانې په یوه شلېدلې تارګې پیل شوې دي، ددوی د غه لږ کار هم د زیاتی ستاینې وړدی. ماچې کوم کارکړی دی دادی ګرانوهېوادوالوته یې وړاندې کوم داد ولس مال دی او دولس دا امانت سې د دوی په ژبه ساتلی دی. د غه لاره به نوره هم پسې ځارم، څه چې لاس ته راغلل راغونډ به یې کړم او په خپل نوبت به یې ستاسو قضاوت د پاره په مینه وړاندې کړم، سریزه په د غه ځای بس کوم او دد غو موادو د تحقیق په باره کې لنډه غونډې څیړنه کوم.

د تحقیق ساحه :

د د غو فولکلوري مواد و راټوله شوې ګیډی یوازې اویوازې په یوه سړی، کلی اوسیمې پورې اړه نه لری، په ۱۳۴۶ کال کې زه داد بیاتو اوبشری علومو پوهنځی محصل وم، د ژمی په رخصتی کې د کابل نه کلی (پکتیا ولایت منګلو) ته ولاړم، څو ورځی و روسته زماتره د یو کارد پاره دخپل کورنه د مسافری په نیت روان شو، څه وخت چې دی له کوره ووت، دوه ساعته و روسته داستوګنې کوټې ته دورشنې او بید یانه را غلم ګورم چې د استوګنې کوټه چا نه ده جا روکړې ما وویل اې !داکوټه نن ولې نه جا روکوی ه دوی په ځواب کې وویل یودرنګ د مخه ستاتره (کاکا) د کوره په سفر ولاړ، ته تراوسه په دې خبر نه یې چې مونږ په مسافر پسې کوټه ترنیمې ورځې

-دوه ویشتم-

پورې چې د زوال ګړۍ (سیورې را ماتې نه وي، لمر را ګرزېدلی نه وي) تیره نه وي نه جارو کوو، څوك چې د اکارو کړي او کوته جارو کړي کړي یې سخته انګیر نه او کړ که یې ګټې، ما په خندا وویل د کوتې جارو کول د مسافر دتګ سره څه اړه لري؟ د دې خبرې په کولو سره د کورنۍ غړیو په ماستر ګي برګي کړي او را ته یې وویل: «ته لاپښتون نه یې او نه د پښتنولې خویونو او کړو سره اشنایې، ته نه پوهیږې، څنګه چې کولای شې او ممکنه وي د پښتنو د ژوندنه ځان خبر کړه، څکه ته په ښارکې لوی شوی یې» د دغو خبرو په کولو سره زه هېښ او حیران پاتې شوم د دوی دې پیغور را ویښ کړم او په دې کار سې لاس پورې کړ، د دوی د اخبره سې د ځان سره غوټه وساتله د ځو ورځو له تېرېدو نه سې په کورا و کلی کې د مشرانو نه د کر کو، فالونو، خو بونو، دودونو، پریکړو (نرخونو) او نورو کړو وړو په باب پوښتنې وکړې، څه چې د وی ویل هغه سې د ځان سره ساتل، د کلی نه نور وکلیو ته پسې ولاړم د هغوی نظر زما د مواد و سره یوشان و...

دا فولکلو ریک مواد په لږ او ډ ډ ډ

پښتنو کی لیدل کیږي او داولسی عقیدې پکې خوندی دي او پوره منله
یې کوي . په لنډو ول به داوو ایم چې دا فولکلوري روایات د پښتون
ټبر او پښتونخوا په غرو، رغو، کلیو او بانډو کې د ولس په سینو
کې خوندي ساتل شوي دي ، دا زیرمه هغه وخت را برسیره کیدای
شی چې را ټولولو ته یې خوانان مخ وار وي .

په درناوی.

علی محمد سوبمن
کابل ، اسمایی واټ
۵۵/۱/۱

ـ خلور ویشتم ـ

فهرست

سر لیک	مخ
لومړی څپرکی	
کرکې ...	۱
سفر	۲
دتش ګړي مفهوم	۳
ددو ښځو په منځ کې تبریدل	۴
د کور او انګړه جارو کول	۵
دخوړلو شیان	۶
دژو یو کېرنه	۹
دنو یو کالیو اغوستل	۱۱
وتې	۱۳
په وادې کې کېرنې	۱۶
ددو واخترونو ترمنځ وادې ته کول	۲۲
داولاد دپیدا کیدو اولویدو په وخت کې کېرنې	۲۳
دپوه دتلو لګیدل	۲۵
دژاو لوژو ول	۲۶
د کار غه کړ غیړه (کریغه)	۲۷

سرلیک	مخ
دمازدیګر وخت	۲۸
په غوږو کې کوکې کیدل	۳۰
دچرګې بانګ	۳۱
دچاترمنځ دتورې کتوې او دیګ‌تیرول	۳۳
دکونګ(بوم) ناره	۳۴
پرې او بدریژه نه ورکول	۳۵
دسپی او ږده غږ انګه او کوکه	۳۶
دځپلیو او ښتل	۳۷
دتشې زانګو زنګول	۳۸
په مازدیګر کې پرویځی نه ورکول	۳۹
خوراولورته چرګه نه ورکول	۴۰
په مازدیګر کې پیسې نه ورکول	۴۱
کوچنی ماشوم او ناوې دکوره بې برخې	۴۲
زوم دخسر په کورکی لاس، نه مینځی	۴۵
دډک کندو اوګوډې څخه غله نه ورکول	۴۶
ددوو تنو ترمنځ تیره ټکیدل	۴۷
دمازدیګر په وخت کې نوې‌جامې نه اغوستل	۴۸
دکوچو ویلی کول	۴۹

سرلیک	مخ
دپیشو وژل	۵۰
په شپه اومازدیګر ګې دشودونه ورکول	۵۱
دغواشودې اوتروې نه ورکول	۵۲
دکندونه داتاموراښکل	۵۳
تورکالی اړجامې	۵۴
تورې پیچکې	۵۵
فالونـــــــه	۵۷
دسفر په وخت کې دګیدړې لیدل	۵۸
دپیشومخ مینځل	۵۹
دچای په پیاله کې دشمې دریدل	۶۰
دسترګو رپېدل	۶۱
دډک ګړې (منګی) مفهوم	۶۲
دټکرې پیڅه پرمخ راتلل	۶۴
په نغری کی دسړی سکروټی دریدل	۶۵
دمنګورلیدل اووژل	۶۶
دپښو دتلو تخېدل	۶۷
کورته دناوې راتګ	۶۸
دپیالو قطاریدل	۶۹

سرلیک	مخ
د کوچنی جارو کول	۷۰
دویم څپرکی	۷۱
دو دونه	۷۲
جرګه	۷۳
سرکه	۷۴
ددو و تیرو تکول	۷۷
پور	۷۸
ننواتي	۷۹
بدرګه	۸۰
برمته	۸۱
دریم څپرکی	۸۲
کیسې ...	۸۳
دابه څه وي او چاته به معلوم وي	۸۴-۱۵۷
دسنګلو فولکلوري ادب ته لنډه کتنه	۱۵۸
لنډې	۱۶۳
سروکی	۱۷۰
متلونه	۱۷۳
ساندې او په مړه غږانګې	۱۸۰
دو اده په دو دکې دښځو سندرې	۱۸۴-۲۰۰

-۱ ته و یشتم-

سمون لیک

زمونږ ډیر کوښښ او هڅې سره سره په دې کتاب کې دغه لاندې غلطۍ او دتورو ډېرې الوتنې راغلې دي چې محترم اوکړان لوستونکي په دکتاب دلوستلو نه‌دمخه دهغو په اصلاح ځان وځوروي .

نا سم	سم	مخ	کرښه
ینیزه	یمزه	۱	۷
(روی)	(لاروی)	۳	۱۲
او ا	او	۵	۹
(کړه)	کړه	٦	۳
یدشمني	بدشمتي	۱۴	۳

ناسم	سم	مخ	کرښه
پښتني	پښتني	۱۶	۵
بخت	بخت	۱۷	۵
پلښتنه	پښتانه	۲۹	۵
پښور	پښورا	۳۰	۵
نور	نورو	۳۶	۸
لمانځه	لمانځی	۶۹	۸
دډير بدو	دډير يده	۶۷	۱۸
بخش	بخت	۷۰	۵
کمی	کمی	۷۳	۹
دووی	ددوی	۷۵	۱۳
دغه	دغې	۷۸	۶
څيرك	څيرك	۱۲۹	۱۱
(دروازه)	(درازه)	۱۳۹	۶
څنځيره	څنځيرو	۱۶۷	۱۵
بدې	بدې	۱۷۹	۱

-ډير شم-

یادونه او کور ودانی

دغو لکلو ري ګیدی د کتاب په چاپولو کې ددولتی مطبعې دغو ښاغلو لـــه مونږ سره مرسته او کومک کړی دی :

۱ — ښاغلی انجینر صدرې دلاینو تایپ څانګی آمـــر .

۲— ښاغلی عبدالصمد «امیری» دمانو تایپ څانګی آمـر .

۳— ښاغلی محمدیونس «فقیری» دتورو جوړولو آمر .

۴— ښاغلو محمد همایون «یوسفی» ،غلام فاروق «نادم وفـا» ،میر احمدنبی «راهض» حیات الله (شریفی) اپـریتـران .

۵—ښاغلی محمد کریم «افضل زاده» دمانو تایپ د څانګی سر مرتب.

۶—ښاغلو عبدالرزاق «معین زی» ښاغلی غلام حسن «شریفی» ، محمد انور ، عبدالغفار «جریان» ،شیرمحمد، نثاراحمد، اسدالله امرالدین ،عبدالرحمن «سنګین» حیات الله، محمدالله نورالدین، بسم الله «پردیس» غلام محی الدین ، محمد نسیم ،عبدالسالم ، او محمدظاهر د مانو تایپ څانګی کارګراو کارکوونکـــی .

۷—ښاغلو غلام دستګیر او علی محمد ماشین کاران.

ددولتی مطابعو د نورو څانګو کارکوونکو توجه هم د مننې او کور ودانی وړدچې مونږ ورته لاپریاتوب او کامیابی غواړو .

د
فولکلوریکورواياتو
فولکلوری گپډی

لومړی څپرکی

کرکې (کبرنې، انګیرنې)

انسان دنړۍ پرمخ په ټولنه او اجتماع کې ژوند کوي او دې ته اړدی چې یوه لړۍ احتیا جونه وګالی او غواړي چې دخپل ژوند پېچوسی هوار کړي ، څو سره چې یوه ټولنه او اجتماع دواندې تګ او پرمختګ په لورګامونه اخلی په هماغه اندازه دغه اړتیاوې او احتیا جونه که مادي وي او که معنوي هم ورسره زیاتیږي .

له بلې خوا څنګه چې دنړۍ پرمخ کامونه (توکمونه) په محلی اوسیمه ییزه توګه ځانته ښه ښه عقاید او دودونه لري ،ددې ټکی سره سم غواړو هغه کرکې (انګېرنې) چې په سنګلو او پکتیا نورو کامونو کې په لږ او

ډېر تو پیر و جو دلري دغې ني لاندې و نیسو ، خودا باید څر ګندهشي چې داټولو نه پو ره او مکمله نه ده ،په دې بر خه کې ډېره لټه او پلټنه په کار ده چې داو لسی ز یر مه راغو نه کړ شي ، دا ځکه چې دپښتو نخو اسیمه او وطن لوی دی دغه لیدنه او بیا ددې و لسی ز یر سې راټولو ل دیو او خو تنو کارنه دی او نه یې دوسه کیږي .....

۱-سفر (یون ، پر دیسی) :

په سنګلو او دپکتیا په ډېرو بر خو کې داعقیده شته چې سفر دې په (شنبه) او (سه‌شنبه)دپښتو په اصطلاح «او ته او خلو رمه» و نه کړ شي ، داځکه‌چې دادوې و رځې په اونۍ کې دتګ او راتګ دپاره د کو رنه پېدیاوډېډیانه کو رته‌مناسبې او ښې نه ګڼل کیږي.

و لسی خلك‌دخپلې و لسی عقیدې‌اومفکو رې له سخې داسې و ایي:چې که څو ك په دغو دوو و رځو کې دیو ځای نه‌بل ځای‌ته په‌سفر و لاړشي ، سفر به یې په خیر او خوشالی‌نه وي ،خامخابه مالی او ځانی تاوان و رپېښ شي، دپکتیا پښتانه او ولسونه تر سمکنه وسه‌چې ډېرسخت ضرو رت او کارنه وي په نوسو رو دوو و رځولې یوه ځای نه‌بل ځای ته په سفر نه ځي . . .

دوی و ایي دځان ساتنه فرض او حتمی کار دی ،هر چا ته‌دالازمه ده چې خپل ځان و ساتی ،په دې بر خه کې کلیوال داسې متل لري‌چې لاروي

ته يې مخکې دتګ نه کوي او هغه په دې مثل سره د سفر نه په دې دوو يادوشو يو ورځو کې پښيمانه کوي :

«په سره مه څه (څه) په سره به واوړي .»

(سره) يعنې «بدسرغه (بدې) ورځ» .

۲-د تش ګړۍ (منګۍ مفهوم):

د ښځينه کارونو په لړ کې يو داو بورا وړل دي چې د کليو الو او باندوالو پېغلو او ميرمنو له خواد ګودرنه کورونو او کېږديو ته دخپلې اړتياد پوره کېدو دپاره ترسره کيږي.

کله چې پښتنې پېغلې او ښځې د ګودرنه کوروته او بهرا وړي او که نابېره داو بودراوړلو په وخت کې چې ګړي يې لاله او بوراړك نه وي او تش يې په سروي هغه تن چې دسفر په نيت يې ځان جوړ کړی وي په مخه ورشي اودی (روی) په دې پوه شي چې دښځو په سرګړي تش دي نو کله چې داحال او پښه په خپلو ستر ګو وينې سخته کړ که (انګيرنه) ورته پيدا کيږي او له دې پښې خورابدوړي ، که ډېر سخت کار او ضرورت نه وي په نو سوړي ورځ خامخا سفر او لاړوی خپل تګ ټالوي ، که احيانا څوك داحال وينې او سفر وکړي د هغې کرکې له مخې چې د تش ګړۍ دايدونه ورته پيداشوي ده داسې تعبيرووي:

د دوی دولسی عقيدې او مفکورې سره سم داپښه دسفر په وخت کې دمالی

او ځانې تاوان مفهوم لري چې له خه سودې و روسته به مسا فراو کورنۍ ته پیدا شي ....

کلیوال او بانډوال خدك ترسمکنه وسه پورې کوښښ کوي چې نوسوړې و رځ ددې مال په لېد و خپل سفر تال کړي. په دې کړنه کې کوم مټل او اصطلاح وجودنه لري بلکه یوه یوه لنډۍ په دې برخه کې و یل شوې ده چې د کرکې او کړنې مفهوم ورڅخه جوتیږي.

منګی مې تش په سخه درور

سفر دې نه ال کړه تاوانی نشې مینه

ګړی دې تش په سخه راور

زماګومان دی چې غمجن به شم مینه

په سفر تلو په سخه راغی

زماله خالی ګړي یې و کړه فریادونه

۳-ددو و ښځو په منځ کې تیر یدل:

دد و و میرمنو خاوند یه ډېر زحمت او کړاو سره ګوزاره کوي ، البته دغه کارخو راتکلیف او مشکلات لري ،داځکه «خواړه هغه دي چې زړه منلی وي.» غالباًددو و ښځو خاوندله یوې سره نسبت بلې ته ډېره مینه او دزړه پیوند پیدا کوي ،څوکځچې دیوې ښځې نه زیاتې ښځې و لري نو خپل خوښ سړی په خواری و اړوي .... که څه هم داکار کله کله دمجبوریت نه کیږي، په دې باب داسې و لسې عقیده شته چې که چیرې څوک ددوو ښځو

ترمنځ د تګ په‌وخت کې تپر شی دوې میرمنې به‌یې په نصیب شی، ددې ولسی عقیدې سر ه‌سم‌ددو و ښځو ترمنځ تپریدل ډیر بدګڼل کیږی ، په دې باب بله عقیده داسې ده که‌څوک ددوو ښځو ترمنځ تیرشی نو په مرکه ، جرګه او دخلکو په‌منځ کې‌به‌یې ژبه بنده او خبرې به نشی کولای .

له‌دې کبله‌داپیښه‌خورا بده کرکه او انګیرنه ګڼې ،له‌دې امله‌دوی دخپل تګ په‌وخت کې ددوو ښځو له‌منځ نه‌نه تپر یږي ، په‌هره‌وجه چې کیږی خپل تګ ترې چپوي اوپه خنګ ورنه تپریږي ،که لارنه وی په‌ښځو غږ کوي ، « اې خوندیو !اله مخې نه پو رته شیء ، چې زه‌درنه تپر شم اوا بیا خپل کیناستی‌ته دوام ورکړی‌ء » .

یه‌دې برخه کې کومه اصطلاح او متل نشته یو ازې داژ ډنی خبره کوي‌چې: « ددوو ښځو ترمنځ تپر بدل ژوند په‌کړاوکول دي .» یعنی ددوو ښځو خا وند چې شتمن نه وي عمریې ورسره په تنګ کیږي

۴-د کورا وا نګړه (جوسی جارو کول:)

په سنګلواود پکتیا په ولسونو کې کله‌چې‌څوک دخپل کورا وکهول‌څخه په‌خواری ،کوم کار، ګټه اومزدوری پسې دسفرخیلی په پښو کړي او بل سلګته روان شی،ددې کورنی‌دا ستوګنې کوټه ترټکندې‌غرمې پورې‌په‌وییني (جارو،ریبځ) نه‌پاکوي‌یعنی‌جارو کوي یې‌نه‌او په‌مسافرپسې‌اوبه شندي‌دولسی عقیدې له‌مخې‌دمسافر دتګ‌نه‌ورسته‌د کوټې‌جارو کول‌ډیره‌بده‌انګیرنه، کړنه‌او

کړکه ده، دا په کلیوالواویاندو الوکې دلاروي دسر او مال دتاوا نمفهوم لري، کومه ښځه چې په کاله کې په دې کارلاس پورې کړي، د کاله نورې میرمنې ورته وایی «بس (کړه) کوته مه جارو کوه پلانکی یو درنګ دمخه له کورنه په سفرولاړ ترڅکندې غرمې پورې صبر وکړه چې سیورې را ماتی شی، بیا کوته په ریښ پاکه اوجارو کړه.»

دوی داسی فکر کوي: کله چې دسفر دپښو قدمونه او پلونه دنیمایی ورځی نه دمخه داستوګنې په کوټه کی جاروشی دا دده دمرګ او مالی تاوان معنی لری چې بیرته به خپل کاله ته راستون نه شی. څه وخت چې دزوالګړی (سیورې راماتی شی او ورځ دنیمې نه واوړی) تیره شی بیادا کړنه له مخه ځی. او دنو روخت په شان کوټه او داستوګنی ځایونه په عادی حال جارو کیږي اوبده نه ځنی مني. په دې کونه کې کومستل اواصطلاح وجودنه لري بلکه یوه نیمه لنډی بڼې وایی چې دموضوع او پیښې سرمسرخوري:

ګوره کوته نن جاروه کړې
زمونږ لالی په سفر تللی سړ به شینه
زه به کوته ولې جاروکړم
زماشپږین په سفر ځې غمجن به شینه

۵-دخوږ لوشیان :

پښتانه غالباً په غرنیو سیمو کې اوسی اوله بلی خوا د ژمي په موسم

کې د دوی لارې بندیزي نو ددغو مشکلاتو له امله دوی دخپل ځان خوارې اودخو راک شیان دخو میاشتو دتېر لو د پاره په خپلو کورونو کې ټولوي ، د اغذایی مو اد چې د ذخیرې اوګډ ام ښه لرې په کند وانو ، جو الو نو ، ترټوا وګو ډیو کې ځایېرې ، کله چه یو کند و ، ګودې ، جو ال او تر ټه خلاصه شی د بل په خو ړلو پیل کوی چې هغې ته (خو رندي کو ل) وایې او داسې پیل کیږي:

الف : خوار کلیو ال او باندوال خلك په ژمې کې د غلې دیوه کندو په خلاصید و سره د بل په خو ړلو د اسې پیل کوی . په لومړی سرکې د جمعې په مبارکه او بختو ره و رځ غله دخو راك دپاره په بسم الله سره د کند و نه رااخیستل کیږی ،وروسته د دوی په نظر یوه بختو ره او پاك لمنه ښځه چې د کو ر د غړیوله خوا په نیك نوم سره مشهوره وي دخو ړلو دپاره ددغې غلی (اوړه ، اتا م ، جوارې ، وربشې ، جو در ، روټه) اوغذایی مو اد ونه ډوډی پخوی ، کله چې د نوي کند و له غلې نه ډوډی د لومړی ځل د پاره پخه شی ، هغه ډوډی په لومړی سر (خو رندي کېدوکې) کې هرڅوك خو ړلی نشی بلکه دا ډوډی په کو ر او کلی کې هغه چا ته ورکوی چې په صبر او نیك بخت سره د کورنۍ اوکلیوالو ترمنځ یا دشوی وي ، هر وسرو به دلو سړی ځل د پاره دادنوي کندود غلې نه پخه شوې ډ وډی

داتن څکی اوخوری به‌یې ،که دنوي کند و ډوډی بل څوك‌وخوری له‌دې پېښې کر که‌کوي اووایی :« ددې کند وخواړه به ژرخلاص شی‌او برکت به‌یې نه‌وي،له‌دې‌سره سره داسې‌عقیده لري چې که داډوډی‌صابر او صبرناك‌سړی‌و نه‌خوري‌په‌غم‌به‌یې‌تمام کړو.» که پیل شوې غله‌په‌دې ډول خورندې نشی‌نو داکار دوی‌دغم‌او نیستی‌علامه ګڼی‌چې راته‌مخه‌به‌کړي .

که‌په‌کور او کلی‌کې‌دوی‌دفکر او نظر سره‌سم‌صابر او صبرناك‌سړی نه وي دوی‌خپله ډوډی په‌دوهم صورت کی په‌کوچنی ماشوم‌باندې پیل‌کوي او هغه ته‌یې‌ور کوی چې‌و یې‌خوري.دوی‌وایی «واړه‌معصوم دي تر اوسه یې‌کومه‌ګناه‌اوختانه‌ده‌کړې ،دوی‌برکت‌لري که ډوډی وخوري برکت به وکړي او هم به‌مونږ دخوړلو دغه غله‌په‌خوشالی تمامه‌کړو» که‌ماشوم‌ته ډوډی ورنکړي‌نو په‌دریم صورت کې دنوې ډوډی‌نه‌یوکنډك سپی ته اچوي‌او په هغه یې خورندی کوي، دوی‌وایی چې‌سپی وفادار‌او زمونږ دسا تنې دپاره‌راسره یوځای‌ژوند کوي .

ب :ټول‌شوي‌غوړي«کوچلانه،زبرمه»و ازده‌او دلاندې کتنې داسی‌پیل کوي: د کتنو خواړه‌هم‌په‌لوسړي‌سرکې‌یو صبرناك سړی‌پیل کوی ، صبرناك سړی‌چې کتنو خوري ، وروسته‌یې‌د کورنی، کلی‌اوسیلمانو دپاره‌هم پخوی‌اوخوري یې، په لوسړي‌وارکې یې د کورنی، کلیو الو اوسیلمانو دپاره ترڅوچې پیل شوي نه وي دخوراك دپاره پیل نه کړي او داسې عقیده‌لري :« که چېرې کتنې پـه

او سړی سر کې کوم بختور او صبر ناک سړی و نه خوري ژر به خلاص شی، که بختور او صبرناک سړی زمونږ کتنې خورندي اوپیل کړي نو به دخدای په امر ډیر برکت وکړي. او هم به مونږ دغم اونیستې نه په امن شو. کلیوال یودبل سره پیژني ددوی ترمنځ دبداوښه خوی خلك معلومدي اوداسې ژبنی اصطلاح دیو او بل دپاره لري: «دپلانکی لاس اوخو له سپیره دي، خه شی ته چې ولګیږي سپیره کیږي.» داشان وایی: «دپلانکی لاس او خوله برکت لري کوم شی ته یې چې ولګوي ورسره غوږیږي او برکت کوي.» که په کور او کلی کې په پورتنی صفت او خوی کوم تن پیدا نشی دوی خپل غذایی سواد او کتنې سپی ته اچوي، په دې توګه خپل کتنې په سپی باندې خورندي کوي. دوی وایی چې سپی ترنورو حیوانا تو صبرناك او وفادارډی.

په دې کړنه کې کوم نظم او لنډی وجودنه لري بلکه داژبنی اصطلاح شته چې وایی: «خپل خواږه او کتنې په صبرناکو، ښو او بختورو خلکو خورندي کړی.»

۶-دژو یو [مال] کړنه:

اهلی او کورنی ژوی چې په کور او پیدیاکې د کوچیانو (پوونده) او کلیوالو خلکو ارتیاپوره کوي خلك یې دخان دپاره ساتی، که کوم مال او حیوان ددوی په ژوند کې په داسې ورځ خرڅ او واخیستل شی چې تر یو درنګ و روسته ځانی او مالی تاوان اخستونکی اوخرڅونکی ته

پیداشی نوعلت یې دادمال دخرڅلاواواخیستو پېښه ګڼی اووایی: «پل او پیسی یې نیستمنی وی » دمثال په ډول که چیری څوك د چانه کوم غوڅکی واخلی او تر دې وروسته د غوڅکی دښښتن په کورکی کوم مالی اوځانی تاوان پیدا شی نو وایی : «کله مې چې دا نیستمن غوڅکی په برخه شو هماغه ساعت مې کورته تاوان واوښت .» له دې کبله ددې ژوي نه سخته کرکه کوي ،ددې دپاره چې دده کرکه او انګیرنه ورکه شی داغوڅکی چې نوی یې رانیولی دی خرڅوي یې، که خرڅ یې نه کړي حلا لوی یې اوکلی ته یې خیراتوي او وایی :«دژوندیو ښه پرې ونشوه دمړیو مخې ته یې کې».

بر عکس که دغوڅکی لومړنی څښتن ته تاوان واوړي نو وایې:«دغوڅکی د خرڅولو نه راته تاوان پیداشو .» دا ځکه داغوڅکی زمونږ په کورکې کمکی خوسی و، رالوی شو کله چې دکورنه ووت تاوان راته پېښ شو، په دې ډول د غوڅکی لومړی څښتن هم دغوڅکی له خرڅولو نه کرکه کوي او بېرته اخیستو نکی ته ورځی او کوښښ کوي چې بېرته یې ترې واخلی او دخپرو په منځ کې ورته وایی: «که دادې دولت سره ی بېرته راکړی درنه خوشاله یم». داشان کلیوال او کوچی خلك د پسه وړی چا ته نه ورکوي. دا په دې معنی که دیو کال پسه (وری) څوك په چا خرڅ کړي نو یې وړی کلوي او اخیستو نکی ته یې نه ورکوي ،دا ځکه دوی وایی دادیو کال وری و تر اوسه یې اول ورګ وړی زمونږ په کورکې نه دې تویې کړې، که

سونيز د دې وري وړې ورکړې او وروسته کله نه کړونو به زمونږ د کورتيا ول برابرکت دځان سره يوسي او سونږ به نيستمن شو په دې توګه دنوموړي کار څخه کرکه او انګېرنه کوي. په دې برخه کې کوم مثال، لاملې، نظم او اصطلاح وجودنه لري بلکه دلومړي مثال دپارد داسې ژبنۍ اصطلاح په دوی کې دودشوې ده : «دسپيرې ژوي اوحيوان پښه سره کړې ځو چې بلايې له سونږ چې اوپه بل خه ولګي» له دې کبله يې په پښه باندې چرګه حلالوي او دچرګې په وينويې پښه ورسره کوي، خو چې بلايې د دوی نه بچه او په بل خه ولګي .

۷ـ د نو يو کاليو اغوستل :

پښتانه داقتصادي ژوند په برخه کې له يوې خوا ددوی دذهنيت په برکت اوله بلې خوا په ډېرو زمانو کې دزورګيرو داستثمار له امله دنورونه ورو سته پاتې دي، نو په دې تمدني عصر کې دوی خوراک او جامې دډېرو درندو تاوانونونه شعېرې.. .

پښتانه په تيره سنګل او دپکتياو لسونه د کاليو او فرش دپيدا کېدو له توان نه لکه چې غواړي په اسانۍ نشي وتلای، نو په دې باب ځينې عقيدې ورسره شته :

الف : کليوال او باندوال ولس دځان دپاره د کاليو او جامو رخت (توکر، توټه) په تاکلې ورځ، چې دپنجشنبې (زيارت) ورځ ده دځان دپاره اخلي. تر اخيستو وروسته د کاليو رخت ددوشنبې (غبرګې) په ورځ دسکښتلو (سکنلو) اونيولود پاره

درزي (خیاط)او په کور کې میرمني ته ور کوي، که څوک ددې شرط نه واوړي نو ددوی په عقیده به خامخا کالی په خوشالی وربانديې زاړه نشی ،که څوک په دې تاکلي ورځ ځانته د کالیو رخت وانخلی او په معلومه ورځ يې ونه ګڼي. که په نورو ورځو کې د اکارو کړي نو کر که او انګیرنه ورته دریږي،د امعلومه ورځ او ورځې دوی دښې اوښو ورځو په نامه سره یادوی په دې باب داسی ژبنی اصطلاح په دوی کښې شته:«په ښه يې واغونده په ښه به زاړه شی.» یاداچې«په ښه يې ونیسه په ښه به يې زاړه کې».داتر تیب په اوسنیو وختو کې سونږ ته نه دی معلوم مګر د کلیو الو زاړه په تیره ښځی ورسره اشنادي

ب: کله چې کالی دچادپا ره په کور او بیدیا کې جوړشی او داغوستو دپاره تیارشی نو داغوستو په وخت کې باید چې سړی مخامخ قبلی ته کښینی. اول دې ښې ښه وړ پسې کینه پښه دپرتاګه خولو ته ننه باسی، تر اغوستو وروسته دې په بسم الله دخپل ځای نه پورته اوجګ شی.

داشان دې د خت او کمیس داغوستو په وخت کې مخامخ قبلی ته ودریږي په بسم الله دې د خت لمنې په سر واچوي او په اغوستو سره دې بې دخدای شکر ادا کړي ،د پښتنو کالی ساده او ملی بڼه لري چې د پلرو او نیکونو څخه ورته پاتی دي...

۸-وتې:

دانوم په‌لومړي وار سړی ته نااشنااو دتعجب وړښکاري، څوک‌چې دښښتنو په‌بیلو بیلوسیمو کې‌ګرځیدلی‌وي، نو ددوی‌دډیر وخصوصیا توسره به‌اشناوي، دانوم په‌نادرډول‌سره ویل کیږي څکه ورسره اشنایی‌کمه‌او غوړو نو ته‌دروند رسیږي. وتې دهغو پیسو لی اوتز یناتی (ګانې) شیانو په جمله کې دی چې پښتني سیرمني یې جوړوي او دخپل ځان ډډول‌او سینګار دپاره‌یې‌استعمالوي .

وتې عموماً دایروی‌اوګرد شکل‌لري، دایروي قطر یې‌درې‌نیمو، څلورو اودوه نیمو سانتی متروپورې دی (یابه‌څه‌له دې لویوي) دډول‌لاسی صنعت‌دخوتوتو رنجواوتوکر دیوځای کېدونه‌په لاس راځی، کله چې رنجې‌او خرڅوړي‌ګرد‌ې سره‌وګنډي‌وروسته یې‌پرسخ باندې‌دسریو (سشکنیو) اوزرتا روښا یسته ګل‌په ستن سکوی کیږي .

دالاسی‌صنعت‌دکلیواو باندې‌وښخې‌دمخان‌دپاره‌جوړوي، کله کله‌په کورونو کی دکاله مشرې سیرمنې‌چې خپل زوی‌ته‌یې نوی واده‌کړی وي‌را اخلی‌او فال پرې‌نیسی، داپه دې‌معنی چې‌دکاله مشره‌سیرمن خپلې‌نګو ر(ناوې) ته وتې‌په‌لاس کې‌ورکوي، البته وتې به‌هغو ورځو کې‌ورکول کیږي چې ناوې‌دوه درې ورځې وروسته اولا ددنیاته راوړي، وتې تر هغه‌وخته پورې‌دناوې‌سره پاتې وي‌خوچې اولادیی پیداشی. که‌اولادیې نر ینه‌و نوکوراو

کورنۍ دنا وې احترام ،عزت او ستاینه کوي، په پلار او مور یې آفرین وایی، دې ته «ببره تنده،بختوره او نیك کدمه نوم اخلی »که دناوې اولاد ښځینه ؤ ،د کور میرمنې هغې ته«نیستمنې، بدشمنې، سپیرې تنډې او داسې نورې سپکې سپورې وایې او هغه خوارکې غندې او پلار مور ورته یادوی، ته سپیره دورکه شې پلار مور پیژندلې وی چې پرمونږ یې وار ولې» تردغوسپکواوسپورونه وروسته دنا وې نه وتې اخلی او اورته یې اچوي خوچې وسوځی،داځکه د ښځینه اولاد د پیدا کېدو یوعلت داوتې بولي اووایی زمونږ فال سم نشوځکه کرکر ځینې کوی ،د دې د پا ردچې کرکه یې ورکه شی نووتې سوځی، که چیرې وتې ونه سوځی ددښمنو ښځو ته یې ورکوي، دوی(ښځې) په دې کار خوشالیږي او دا سی عقیده لري چې په دې توګه به زمونږ دښمنو ته خدای ښځینه اولاد ورکړي او دنر اولاد نه به بچ شی.

دوتې کړنه په دوی کې داډول هم دوشوې ده او دامو هوسی عقیده داسې تعبیروي: حاملی ناوې ته وتې په لاس کې ورکوي او ورته وایی:«دکورنه بهراوو رشني(وړچینې،بیدیا) ته لاړه شه،،هر څوك چې پر مخه درغلل هغه وپیژنه او نوم یې بیامونږ ته واخله ،ناوې دکاله دمشرې میرمنې په خوښه وتې په لاس کې اخلی او دکورنه بیدیاته ځی، که ناوې ته په دې شبه کې نر ینه په مخه ورشی خوشالیږي په بیره اوسنده کورته راګرځی او ورته وایي «پلانکی

سړی‌سي‌مخي‌ته‌راغی.» ددي‌خبري او خوشالو ونکی زیري په‌اوریدو سره د کور ښځی په‌ناوي راتلو لپاره اوداسي‌یي ستایي:«ترداسي‌ښه‌ښځه دي جارشم، ته‌نیك بخته یي، سونږ به‌درسره آباد او نیك بخته شو، فال مو صحیح او درست شو، څه مو چي‌په‌زړه کښي وو هغه وشول، که‌خدای کول غږیږه دي په هلك ډکه‌شی.»

برعکس که دناوي مخي ته ښځه ورشی ډېره‌خپه کیږي او په ډېر بدحال کور ته راګرځی، دکاله میرمني‌چي ددي حال وګوري پرې پوهیږي چي کومه‌ښځه یي‌په مخ ورغلی ده دلبدوسره‌مسم ورته په‌ناندریو پیل کوي او دقهر په‌ژبه هغي خوارکي ته‌وایی. «داسپیره ښځه، دابدمخ، داتوري سپیري‌بیچکي(بیچکي)دي‌ورکي‌شه،لکه‌چي‌کومه‌بلادي‌په مخ درغله ،څنګه دي رنګ زیږدی، تاسپیره‌دي‌خدای‌له مونږ واخلی ،مه‌لاکورته‌را غلي نه‌یي کورته مو خواری او نیستی مخه کړه.» په‌دي‌توګه له‌دي پیښي نه ناوړه کرکه ورته‌دریږي، دحاملي ښځی‌نه وتی اخلی اوشکویي ،دابنه، په اوسنیو وختو کي مونږ نه‌ده لیدلی مګر دښځو ترمنځ شایدپخواڼو ندی وي. که‌څه‌هم ښځي‌داډول فالونه هرهورځ دخپل مرادتر سره کیږدو دپارنیسی. په‌دي کړنه او کرکه‌کي کومه‌لنډی .نظم‌او مثل نه‌کیږي‌بلکه‌د کاله‌د مشرومیرمنو له‌خوا ژبنی‌سپکي سپورې‌او ریدل کیږي‌چي خپلي ناوې‌او

د اولاد سره یې وایی :«سیاشت داولې ورځې نه معلومیږي،په اوله ورځ یې خلك ګوري او سوال ورته کوي،ته لاپه کور را ننوتلی نه یې سپیره او بدرنګی دې در سره یو ځای راوړه، رنګ دې سپیره دی سو نیږه به خوار کړي.»

۹- په واده کې کښېنی (انګیرنې):

واده دپښتنې د ودونو له جملې نه دی ، سونیږ د لته د واده دودنه څېړو بلکه په دغه کیرنو باندې بحث کو وچې دواده په وخت کې ترسره کیږي:

کله چې نا وې دپلار له کور نه راروانه اود خسرګنې کو رته راورسیږي په سنګلو او پکتیا کا سو نو کې ترڅنګه پو ري دره (دروازه ، وره) کې تم کیږی او ولاړه وي تر څوچې دخوانې اوخسرګنې د کور سشره سیرسن د کاله نه ورته راو نه وځی او ورته راښکی ، دنا وې دتم کېدو په وخت کې چې یو درنګ نیسی د کورمیر سن د کاله نه داو بوډک جام سره چې مالګه پکې وي ورته راځی او د اوبوډک جام دما لګی سره د نا وې په سر باندې شیندې ، له دی ځای نه د واده په دود کې کیرنې پیل کیږی ....

که داو بوډك جام او مالګه په ناوې و نه شنل شی دوی دا سې عقیدې لري چې سونیږته به تاوان و اوړی ،داځکه مالګه دخوږلولوی نعمت دی،په ناوې چې و پاشل شی نو به په د ې کـو رکې خوږا و د مـا لګـی په خیر

خوندور نعمت شی ، مالګه چې په خوړو کې نه‌وي بې خونده وي. او به‌دمخ روښایی ده، پرمخ به‌یې رڼاشی، که مالګه‌نه‌وي میلمه (وړې) روپۍ غیرانونه او شپاړس پولۍ پرې شیندی ، پیسې ، د دې دپاره پرې شني چې دناوی په پله اوقدم اینبو دوسره به‌سونږ اباد او ماړه شو ، یعنی ددې پـــه بخت اوسره پله (دناوې لاسونه اوپښې دواده‌په‌وخت کې په نکرو زو سره کوي) به‌دشتو اودوات خښتن شو . که خوك داعمل ترسره نه‌کړي نو دوی ته‌ډیره‌بده کرکه(انګیرنه) پیدا کیږي ،دواده خښتن او کورنۍ خوښې پرپرده ، کلیوال عمواپې خپل کورپې سپیره کړد ښګوم (شګوم، نیکمرغۍ) دپاره یې په خپله‌ناوې باندې څه ونه شیندل ،داځه ډ ول‌خلك وو په خپلو ښو اوبددونه پوهیږي ،په‌ناوې څه شنل او شیندل دوی په سند رو اوښځینه غاړو کې دا سې یادوي :

پورې غردی ، بوتې بوتې

ګل محمد وړه کې ولاړدی اشرپۍ شیندي په‌موتې

اشرپۍ شیندي په‌موتې

د اشان دناوې تش او خالی ننوتل د خسر کورته دواده په لومړۍ شپه کې دنیستۍ معنی‌لري ، دناوې ددربدو په وخت کې هر وسر وباید مالګه، اویه‌او پیسې پرې وشیندی .داشان غنم ، جوار ، اوربشې اود خوړلو نورې دانې هم په‌ناوې باندې دنیکمرغۍ او بختورتوب دپاره شیندي ،

د واده په وخت کې چې دا کار تر سر ه نکړي نو و روسته کر که ورته د ریږي او یړي خپه وي .

دارنګه‌نا وي چې دخسر دروازې ته راور سیږي. هغې ته دهلك‌د کورنی کو م غړی یو میخ په لاس کې ورکوي ، نا وې د غه میخ ددې او و ره په زیږ داری (چوکټ) باندې ټکو هی، ددې‌عنعنې‌اوروا ج نه‌سټلب دادی چې نا وې به په دی نو ي کو رکې ټینګا ر پیدا کړي اوعمربه‌یې دلته خو ښ او ډیر شی ، داشان عقید ه لر ي چې ددې په ټینګید وسره به کو رنۍ هم ټینګه اوله غمونه به تر یوو خت پو ري و ساتل شی ، که خوك دا کا ر ونکړی کر که ورته دریږي ، د دوی‌دامی اوولسی‌عقیدې له‌سخې نه یو ا زې دا چې نا وې به‌په کو رکې ټینګار پیدا انکړی بلکه دهغې دسړ ینې او رنځو رتیا تعبیر هم تری کو ي ، په دی توګه د ناوې په لا س د خسر په دروازه باندې د میخ ټك و هل ضر وري اوحتمی کا ر دی ، په‌کلیو او با ندوکې نا وې ته چاره ، چاکو هم په‌لا س کې‌ورکوي دا د دې دپا ره چې نا وې به تو ریالی‌اوتورن(تورزن) زامن د نیا ته راوړي اودتو ر یا لیو زامنو سو ربه شی ، په ځینو کو رنیو کې ناوې ته ددربدو په‌وخت کې یو م ، چاری ،اوکایی، تسکوره(کولنګ)هم و رکو ي چې دا کا ر ددوی په عقید ه دغلې دډیریدو او د کرنې د ډیر ښت مفهوم لري .

څه‌وخت‌چې ناوې دخسر د کور کوتې ته ننوزي او پر غولـــي کښيني،له څه درنګ دمې او تم کيدونه وروسته نر هلک چې د خـــو سياشتو وي په غېږ کې ورکوي ، دهلک ورکول ناوې ته دښګوم نيک فال اودنر اولاد دورکولو مفهوم لري ، دارنګه وايي چې دا کوچنی معصوم اوتلپک دی ، ناوې ته چې په غېږ کې ورکړ شی لمن به يې زرغونه اوکورکې به د ډېر اودلاد مورشی ،که هلک نه وي ناوې ته تو پک په لاس کی ورکوي ، د نو پک‌ورکول د نر اولاد معنی لري چې په راتلونکی وخت کې به يې په‌نصيب او برخه شی .که څوک داکارونکړي نودناوې خالی اوتشو کيناستونه کلکه کرکه ورته پيدا کيږي ، اودوی داسې عقيده لري چې خوار به شو اودناوې قدم به رايسې سپيره شی ، دا دوا ده په وخت کې بله کړنه ده چې کليوال ورسره مخامخ‌دي ... دارنګه‌کله‌چې‌ناوې دکوتې‌په کونج کې چې‌ددې دکينا ستود پاره‌تاکل شوی دی دمه وکړي ، دخسرګنې مشره سپين قرآن پاک په خورا درنښت سره هغې ته ورکوي ، ناوې پاک قرآن په ډېر عزت سره ترې اخلی اول يې ښکلوي او بيايوښه ښايسته دسمال د ختې پرځای ورته کوي اودډېر احترام د پاره څه اندازه پيسې هم پکې

اچوي ، (ایږدې) دوی عقیده لري چې د قرآن په برکت به ناوې په نوي کـور کې د برکت او عزت نعمت وګرځي ، په دې توګه د قرآن عظیم الشان ورکول ناوې ته ضروري دي . ناوې ته که قرآن ورنکړي نو د دې عمل اوکا رنه کرکه ورته د ریږي دا دواده په دود کې بله کړنه او انګیرنه د ه چې په دوی کې دود شوي ده .

دواده د مراسمو په لړۍ کې کله چې ناوې د خسر کره راشي تر دریو ورځو پورې مېخ کا رنه کوي او د سهار اوسو ییل له خوا نه داو بوډک ګړی اوسنګی دګودرنه دکا له د ښځو سره یوځای راڅکوي په دریمه ورځ دا وبو په لښتی (ویاله) کې د ښګوم او نیکمر غۍ د پا رد غنما چـوي ، پـه د ې ډول تراوو مـې ورځـې پـورې دکـا لـه اوکـور نـور کـارونـه نـه کـوي ، بلکه یوازې د سهار اوګهیځ له خوا د اوبو ګړی راڅکوی ، د کور په پخلي ، ګڼلو او جا رو کولو غرض نه کوي او نه څوک دې ته د کار کولو اجازه ورکوي . په دې اوو ورځو کې ناوې د کورله ټولو شیانو سره یوازې د سترګو په لیدو او د یدآشنایي پیدا کوي اوخان ورسره بلدوي .

که چیرې څوک ښځې له اوو ورځونه په ناوې کار وکړي ،

داسې عقیده لري چې کورته به مالی اوځانی تاوان واوړي ، له‌دې امله ناوې نراوو ورځو کار نه کوي ، که کار وکړي خسرګنۍ ته يې کرکه پیدا کیږي او دوی داسې عقیده‌لري:«چې‌ناوې به د ژوند تر ورو ستې سلګۍ پورې په کړاواوتکلیف اخته وي.» دا دې وا ده دسراسمو په وخت کې بله کیږنه ده چې دوی ورځخه ځانونه ژغوري ...

دلته شاید دا پوښتنه اوسوال پیدا شي: په ځینو کورنیوکې‌کهښځې نه وي چې د کورکارو کړي ، که ناوې کارو نکړي نو څوك به يې کوي ؟ په سنګلو اوپکتیا قاسونو کې دوا ده په وخت کې دادود اورواج دی چې د ناوې سره سوریا مشره خوراوتر ور سلګړي ځی اوتراووورځو پورې ملته ور سره وي اوتر اووسې ورځې پورې د ناوې په سځکې‌کارکوي . که دا ښځه هم نه وی د کلی نورې خپلوانی اویاد هلك تر ور ، خور اودورونوښځی ورکره راځی هغه‌کار ورته کوي .

دوا ده دسراسمو په وخت کې کیږنې اوکرکې داجتماعی دود اورواج ښه غوره کوي ، که چیرې دا پورته ذکر شوي‌اویاد شوي شیان د هلك کورنۍ اود ناوې خسرګنۍ دوا ده دستونځی

له اسله ترسره نه کړي ، د کلیوالو او د نړۍ خپلوانوله خواچې د دوی په خوشالۍ او غم ځانونه شریک بولی ترسره کیږي او په ډیره مینه یې کوي . کلیوال وایی :« دوا ده ورځ ده ددوی به دغوشیانوته پام نه وي ، ښه به داوي چې سو نړیې په خوشالۍ ځانونه شریک و ګڼو او په دې خوشالۍ کې ورسره برخه واخلو ... »

د کلیوالو ښځې هم په ناوې ، سالګه ، اوبه ، پیسې ، جوار ، غنم او ورښې شیندی (شنی) . ځوانان د توپکو غبرګې غبرګې ډې (ډزې) کوي ، په دې شان د وا ده په دود کې کړنې ترسره کیږي ... .

۱۰-ددوو اختر نو ترمنځ واده نه کول :

سنګل او دپکتیا نورولسونه ددوو اخترونو ترمنځ واده نه کوی ، ځوک چې ددوو اخترونو ترمنځ واده وکړی، له دې کار او عمل نه کرکه کوی او ښه یې نه ګڼی او وایی : «ځوک چې ددوو اخترونو ترمنځ داکار وکړي دهلك او جلکی (انجلی) ګډوند ته تاوان پیښیږي، دجلکی پلار ګنی په دې وبریږي چې لور اوخور به سوړه شی، که دسرګ نه بچ شی ځښتن ته به یې تاوان پیښ شی، که دوی دواړه بچ شی خسرګنی ته به یې کوم تاوان اوړي او هدې وجه به زمونږ دخپلوښ پیوندو شکیږي.

له بلی خوا دهلك پلار اوسور هم داکار یو بدفال ګڼی او ځان ترې ساتی ، په دې توګه سره دوینوچې ددوو اخترونوترمنځ کلیوال واده نه کوي له دې پیښې

کر که کوي او داسی ژ بنې اصطلاح راوړي:«خو ک چې ددو و اختر و نو ترسنځ واد ه وکړي سر اد ته نه رسېږ ي.»

۱۱-داولاد د پیدا کیدو او لو یدو په وخت کې کړ نې:

کله چې ښځه دلو سړي ځل د پاره نوي او لاد دنیا ته راوړي او نر ینه وي، د هلك د پیدا کېدو دښګوم او خوشالي د پاره د سنګلوا و پکتیا دنو رو و لسو نو ددو د سر سم په لو سړي ورځ د غنمو نینې (خو نی) کوي، د کلي په کورونو او جومات یې ویشي، په دریمه ورځ غنم پخوي او د کلي په کورو نو یې بر خې بر خې ویشي، او په او مه ورځ خو ک چې وس او توان لري پسه حلالوي او کلیوا لو ته د ماشوم د پیدو (پاییدو) د پاره خیرات او ختم کوي. داختم او خیرات ددوی په اصطلاح (سر بڑي) بلل کیږي.

که خوك داعمل ترسره نه کړی نو سخته انګېرنه او کر که و رته پیدا کیږی او وایي :«ماشوم به سوړ شی ، که سړ نشی رنځوري په و رته پیدا شی .» که تر دې خیرات او صدقې و روسته ماشوم سړ او رنځو رشی ، نو د بل (را تلو نکی) او لاد د پیدا کېدو په وخت کې د لو سړی ورځې غنم چې نینې یې و رځخه پخې کړي وې د او ارد غنمو پر ځای جوار نینې کوي، دا شان د غنمو پر ځای جوار (کو نګړی) پخوي ،

4836

داووسې ورځې د سر یژې(ختم) نه‌دا وارډه کوي ، د اخل که د ا عمل ونه کړي بیا غم کر که ورته د ریږي ، دوی عقیده لري چې د شیانو په بدلید وسره به نو موړي کر که‌له سخه ولا ړه شی‌اواولا د به وپیږي او پا تی به‌شی .

داولاد دسر ویښتان د پیدا کیدو دوخت نه تر یوکال (تلینه) پورې نه خریي ، د دوهم کال او تلینه په‌پوره کیدو سره په لوړې ساشت کې د ماشوم د سر ویښتان په ډیره خوشالی او خونی کولوسره د کور او کلی داسی یو تن باندې‌چې‌په نیک نوم ، د رنبت‌اونه‌قسمت لر لوسشهورو ي په بیاتی سره کلوي . که څوك د دې تاکلې سودې نه سخکې دماشوم د سر ویښتا ن جوړ کړي ، ډیره ناوړه کر که ورته پیدا کیږي ، دده کیوال که پرې خبرشی په غفه باندې بدوایی ، ملامته وي یې په دې توګه دیوه کال نه د سخه څوك د خپل اولا د ویښتا ن چې نوی پیدا شوی وي نه جوړوي .

کله چې د ماشوم د سر ویښتا ن وخریي په یوه شایسته د سمال کې یې غوټه کوي او د کوچنی تر غاړې یې دا ووورخو د پاره تړي . ددوی‌دعقیدی اه سخې د کوچنی غاړې ته د ویښتانو د غوټې ور اچول ضروری کاردی . د دوی دوښی مفکوری سره‌سم دادو یښتانو غوټه کول د دې د پاره د ه چې که‌خدای کول د ماشوم رنځو نه‌به‌ورسره‌ورك‌شی

داپه دې معنی چې د سا شوه دو ینبتانو د غو تې په څیر په دد: رنځو ری ته ګډه‌ورو ا چول شـــی .

څوک چې دشتو څښتن‌وي دهلک دو ینبتانو دجو ړیدو په وخت کې خپلې ګو رنی او کیول نه غو ړه‌ډو ډی پخوي. که شتمن نه وي یوازې د خونې‌په‌و یشلو دهلک دو ینبتانو دجو ړید و ځنګنه‌ترسره کوي . کـــه څوک ډېر شتمن او بډای وي کوچنی خیرات دهلک دتلینه دپورته کېدو او کان دنمانځنې په خاطر کوي ، ددوی په اصطلاح دې‌خیرات ته ختم ویل ګیږي . په کوم کورکې‌چې هلک پیداشی خپل خپلوان‌ورته‌چرګان ، وریجی دخونی، نیمکرغی اوخوشالی دپاره‌راوړی، داپه‌دې‌معنی‌چې‌خپلوان‌د هلک برخه‌وروړی.

۱۱-د پښو د تلو لګیدل :

دسنګلو او پکتیا نو ورو کامو نو د کښناستو په کوټه کښې ددوی‌ډېر ښایسته او په‌زړه‌پو ری‌فرش پزکی،لیمځی اوټغر دی چې‌دخان اومیلمنو دپاره‌یې غو ړولی دی.

څه‌وخت چې‌دوی‌دپېدیانه کورته‌راشی‌د کوټی‌پر غولی‌باندې دپزکیو پر سر او ږده زغیږي(غزیږی) چې‌آرام او دمه‌شی، په‌دې‌وخت کې‌یې‌که ناڅاپه د پښې‌تلې سره‌ولګیږي او تماس وکړي، نو‌ددې‌عمل او حرکت یعنی‌د پښو دتلو دلګیدو نه‌سخته کرکه(انګیرنه)و رته در یږی‌دا‌څکه دوی‌عقیده لري‌چې‌د پښو تلې سپیرې‌دي، که‌سره ولګیږي‌مونږ به خوار او سپېره شو،داشان عقیده لري‌چې‌دتلو په لګیدوسره به‌زمونږ ترمنځ ییلتون،خپګان‌او جنګ‌پیداشی...

ددې دپاره چې دغه کړنه دسنځه ولاړه شی مخامخ دواړه تنه دخپلو ځایونه راپورته کیږي او بیا لاسونه یو دبل سره ورکوي، داعمل ددې دپاره کوي چې ددوی تر منځ کست او کینه ورکه شی. یاداچې تر منځ یې کست او کینه پیدا نشی، دا کړنه دپکتیا په ډیر وولسونو کې شته.

دپښو دتلو دلګیدو کړنه دتګ او په یو ن په وخت کې ځمددوی تر منځ لیدل شوې ده، داپه دې معنی دوه تنه لاروی چې په یوه لارو روسته وړاندې یا څنګ په څنګ سره روانوي او که نابیره دیوه تن پښه دبل په پښه ولګیږي او یا یې پوندې سره تماس وکړي سمدستی دریږی او ددې کړکیچن کار دلرې کیدو دپاره یو بل ته سره بیې لاسونه ورکوي، که لاسونه سره ورنه کړي له دې داسی تعبیر اخلی :چیرې نه چې تر منځ سو بدي او کینه پیدا نشی، څه وخت چې لاسونه سره ورکړي ددوی په عقیده دابده پښه چې کړنه او کړکه ځینې پیدا شوې ده دسنځه ځی، په دې کړنه کې کوم نظم .متل اولنډی و جوړ دنه لري بلکه یوازې غږ ژبنی اصطلاح شته چې دوی وایي :«دپښو تلې سپیرې دي چې سره ولګیږي سړی لغړیږي یعنی نیستمن کیږي» .

۱۲ -دژاولوژوول :

منګل او دپکتیا ډیر ولسونه په دې عقیده لري چې ژوالي دې دسازدیګرنه وروسته څه وخت چې دلمر ستر ګه ولو یږي ونه ژوول شی، که څوک له دې تاکلی وخت نه وروسته په ساښام اوشپه کې دژ اولوپه

ژوو لو پیل وکړي اوداکار تر سره کړي د دوی د ولسی عقیدې له مخې دا داسی معنی لري چې د خپلو سړیو هډونه اوهډوکی ژویي، داوجه ده چې کلو ال اوبانډوال خلك د ژاولو ژوولو نه پهشپه اوسا بنام کې ډډه کوي، احیاناً کهڅوك داکار وکړي نو لهدې عمل نه ډیر بده کرکه ورته دریږی ځکه هیڅوك خپلسړی نه خوري اونه یې هډونه ژویی .په دې باب کوم نظم، متل، لنډی وجود نه لری بلکه دا ژبنی اصطلاح پکی دودداووایی : « دلمرله لوید ونه تر سهار (ګهیځ) پورې څوك چې په شپه کې ژاولی وژویی عمر یې لنډیږی اودا داسی کاردی لکه څوك چې د خپل سړه هډوکی ژویی »

۱۳- دکارغه(وروغ) کر غیړه (کریغه):

داولسی عقیده په سنګلو اوپکتیا نو رو ولسونو کې دو دشوی ده چې د کارګه (وروغ) له هر غږاو آواز نه کرکه نه کوی . که کارګه (وروغ) په داسې حال کې کریغه وکړی- چې ځان ورسره وتړوي اومښوکه دونې په ځانګه، ددیو ال په لو ټو او نورو شیانو ولګوي نو دکارکه، ددې پښې نه په دې شیبه او لنډوخت کې سخته کرکه کوي اودا سی ګڼې چې « وراغ » سړی اوسړه غواړي » .

په دې برخه کې لاندې نظم ددوی تر منځ رواج لري چې واړه

ماشو مان يې وراغ ته په لوړ آواز وايې :

وراغه ! وراغه ! دښو زوری (زبری) وکه

ددې خونګ (پاخ)نه جګ شه يه بل کې کينه

که دښو زوری دې ونه کړ

خوله دې دوينو ويښتو نه ډکه شه

داکړنه په دوی کې دسړه په منی تعبيير شوې ده ، يعنی دو را غه له دې نا ړې نه چې ځا نو رسره وتر وي دوی بده منی ، اوکاغله هماغه ځای نه شړی ،که لاس يې په برشې وژنی يې چې له دې افت او بلا نه په امن شی ، که داکار يې و نه کړ د کړنې اوکرکې دو رکيد و په غرض يو خير ات دسر د صدقی په نوم سره کوي داحال اوښه د پلرونواونيکونو په وخت کې ډيره وه .

۱۴ـ دماز ديګر وخت :

کله چې دماز ديګر سيو ړې راماتی شی اودلمر سترګه ولويږي ،په لوړ ماز ديګر کې چې لمر وخت دی ،کليوال او ولسی خلك چاته پيښی اومال په بور نه ورکوي. دانا ن دماز ديګر په وخت کې دجا سره دسر اوسا ل بد ل غم نه کوي ، ددوی د ولسی مفکورې اوعقيدی له مخی دماز ديګر په وخت کې دشيا نو خر څول ، بدلو ل ا وعوض اخستيل،او اوبه چکل خو را بد ګڼل کيږي اوله دې عمل نه سخته کر که کوي.

منګل، پکتیااو نورکاسونه په ساز دیګر کې د دغو سره ملونه په کلکه سره ځان نونه ژغورې او له دې حرکت نه کړکه او انګیرنه ورته دریږي ، خو ددې پر ځای دکاندارانو ،تجارانواوبزازان دسازدیګرپه وخت کې خرڅلاوته، خوشحالیږياوپه بیړه خپلهسو دا خرڅوی اوښه یې ګټی .

پکتیاوال دسپین غرهخوګیانې او نورپاښتنهد ساز دیګر له سو داخخهځانونه ځنګ ته کوي،نه چا ته څه ورکوی اونه یې ورځخه اخلی ، داځکه دوی داسی عقیده لری : « کهچیری د ساز دیګر په سها ل کې چې دعبا دت کو لووخت دی ، سونږ په د نیا یې ګټه پسی وګرځو ، نو به سو خدای هیر کړی،وي.د دې پرځای چې آبادشو نیستمن به شو داهم وایی: په دې لنډ وخت کې خدای پا ك سونږ ته په نند اره « لندوره » دی که سونږپه دی شیبه اولنډوخت کې دخدای عبادت پر پرد واوخپلی ګټی ته واړوونو سو خدای ته شاکره ، د پاك خدای عبادت او اسرسو پر ځای نه کړ چیرینه چې لوی خدای راته پـه قهر نشی او سونږ به ټول ددهپه امر لغړ او نیستمن شو » .

دوی په دې وخت کې حتی له چا سره خبرې نه کوي . څوچې د ماښام(لمښوم)لمونځ ادا او پرځای نه وی پته خوله په جمات کی کینی او دخدای

په یاد و لو او لا الا سره د اګړې تېر و ی ، په دې کې که کې کو مې نظم اوسټل نشته ، دا شا ن داسی لنډې هم نشته چې ددې سو ضو ع سر ه سرو خو ري ،بلکه داسې لنډې شته چې دمجاز په ډو ل دامفهوم افاده کوی .

په سا زدیګردې کډې بو ر(بار) کړې

به سازدیګر د ګنا نګورو (ګهنګارو) کډې ځینه

داژبنې اصطلا ح دوی په خپل منځ کې استعمالوی :« په سازدیګر کې حاته خهو رکول د نیستې فکر دی دائکه دسازدیګروخت لغړدی ».

۱۵-په غوږو کې کو کې (ناری)کیدل:

به غو ږو کې کو کې اوکو کارې کیدل د کلیو او باند و خو ا ر و لس دښواو بد و په مفهو م سر ه اخلی ، دا په دې معنی که چېر ی په ښې غو ږ کې کو که وشی له دې نه دخیر او ر و غی تعبیر کوي ، که دچا په کین غو ږ کې کم کا رهوشی ددې آواز اوغږپه اورېدوسر ه بیا سخته زړه ځورونکی کرکهورته درپږی ، دوی وایي :« خیر پېښ کړې کین غو ږ کی می غږو شو لکه چې دبد و پېښور ته مخ شو داشا ن په کین غو ږ کی کو که دوی دسړه په معنی ا خلی .»

په دې با ره کې کو مه لنډی ،نظم اوسټل نشته ،بلکه دوی د خپلی ولسی عقید ې له مخی کله کله یو بل ته په دې باب د اسې خبر ې سر ه کوی:

« څه‌و خت چې د پاك خداې په امر د يوتن پاڼه ژيړه شي، د ده پاڼه د هغې ونې نه چې د عرش او کرسۍ لاندې شنه شوې ده (د دې ونې هره پاڼه د هر هه بنيادم روح دی) را لويږي، کله چې در الويدو په‌و خت کې په بله پاڼه ولګيږي، نو د دوارو پاڼو دلګيدو غږ د ده غوږ ته را رسيږي، که د اغږ او کو که په ښي غو ږ کې وشي د ښه اوخو شاله ژوند زيږی دی، که په کين غوږ کې وشي د بد اوخر اپ ژوند او مړينې تعبير خينې کوي .»

لکه چې پورته اشاره وشوه په دې باره کې کوم خرګند نظم، مثل او لنډی نه ليدل کيږی سر د له دې سره په کليو او بانډو کې اسې شا عر ان د زيږي پا نې په با ب د غه فو لکلوريکه سند ره د اسې وايي :

د ژوند انه پانه سې زيږه شوه نو رسره
زه څه وکمه ؟ و پنډه آلمه
زه څه و کمه ؟ و پنډه آلمه
د ژوند انه تمه (طمعه) سې لنډه شوه نو ر سره
زه څه وکمه ؟ و پنډ آلمه
زه څه وکمه ؟ و پنډ ه آلمه

۱۶- د چرګی بانګ :

جوته خبره ده چې چرګه بانګ نه کوي، خو په نا درډ ول سره کله کله که چرګه نابيره بانګ وکړي او د چرګې داغږ او ناره څوک واوري ډيره سخته کرکه (انګيرنه) ورته دريږي، دوی دا بانګ د ډ پر و بدو او ناورو پيښو نښه اوعلامه ګڼي، په کوم کورکی چې د اپيښه وشی ډيره

بډه‌یې منی او سمدستی چرګه حلالوي ،دا ځکه دوی وایي : چرګې بلالپدلې ده او سړی غواړي ، ددې دپاره چې دا کورنی دغم نه بچ شی د چرګی حلالول ضروري کار ګڼی.

کومه کورنی‌چې دچرګې بانګ(ازان) واوري‌او حلاله‌یې‌نه کړي، ددوی کلیوال‌چې پرې‌خبر شی سم‌دلاسه ورته وایی :«طبیب هغه‌چې‌رنځ پرې‌تېروي » ژرشیء چرګه حلاله کړیء او دسر دصدقې‌دپاره ورکوتی خیرات وکړیء څوچې له بلابچ شیء ،په‌دې توګه‌دا کورنی‌چرګه‌دکلیوالو دخوا خوړی له امله چې دوی سره‌یې لري خبره یې منی او چرګه هغه درنګ حلالوی او خیرات هم کوي. خیرات‌ددې دپاره کوي چې‌له بلابچ شی، داډول فکر اوولسی عقیدې‌په اوسنیو کلو نوکې د باندو او کلیو په خلکو کې‌لږې‌شوې‌او پخوانی بڼه یې بدله کړې‌ده .

په دې برخه کې کوم نظم، لنډی‌او متل نه لیدل کیږي، بلکه یوازې یوازې هغه ژبنی‌خبرې چې دوی یې ددې موضوع په باره کې کوي داسې وایی : «چرګه بلاوینی اوله بلانه ډاریږي ، ځکه بانګ کوي، دابلازمونږ کورته راځی ،چرګه به حلاله کړو، دسر خیرات به وکړو، څوچې په اسن پاتې شوسر او مال به سوسا تل شی . »

داډول ژبنی تیرې بیرې خبرې دسپین سروښځوله خوا کیږي، دخبرې

دپورهځرګندېدو دپاره باید وو ایو چې دا ډول عقیدې په ښځو کې رواج لري چې یوې اوبلې ته یې کوي ...

داشان دوی دچرګ له بانګ نه چې دسا بنام په وخت کې یې وکړي کرکه کوي، دوی دچرګ دبل وخت دبانګ نه بده نه ښې خو که دسا بنام اوساخوستن ترمنځ چرګ بانګ وکړي ډېره بده ځینې ښې ،دسا بنام او ساخوستن ترمنځ دچرګ بانګ سپیره ګڼې ،په کوم کورکې چې دا وخت چرګ بانګ وکړي، دبانګ دکولوسره یې سمدستي رانیسې او حلالوي یې، داددې دپاره چې کرکه یې له زړو ووزي . دچرګ په ورکېدوسره داسپیره انګیرنه دمنځه ځي .

دچرګ ددې وخت دبانګ په باره کې چې خلك وږځه کرکه کوي کوم نظم اومتل نشته بلکه یوازې داژبنې اصطلاح په دوی کې شته چې وایی : «په کوم کورکې چې دسا بنام اوساخوستن ترمنځ چرګ بانګ وکړي ، دچرګ دابې ځایه بانګ دغم نښه ګڼل کیږي ، د هغه دمنځه وړل اوورکول یوضروري کار دی . »

۱۷ـ دچا ترمنځ دتورې کټوې اودیګ تیرول:

کله چې څوك دچاترمنځ توره کټوه او دیګ تیرکړي ، له دې عمل اوپېښې نه کرکه کوي اوورته وایي: «ته زمونږ دښمن یې، زمونږ ترمنځ دې داتورلوښې ولې تیرکړ، په لوی لاس غواړي چې مونږ

د یو بل نه‌خوابد ي کړي،خدا ی دې نه کړي‌چې‌ترمنځ سو بدي او تر بګنی سره پیداشی ،پام کوه چې بیا داسې کارته چې خلك و رخځه کړ که کوي لاس‌او ږد نه کړي . »

دار نګه د کو رنی ترمنځ که کومه بڼځه نابیره تو رد یګ او کټوه چې ددې پام نه وي‌تیره کړي ،د کو رنی او کهول غړي و رته په قهر کیږي او رتې یې ،ددې دپاره چې پوهشی و رته وایی داتو رلوښی سو نږ کړ لی دی، ترمنځ سو یې چې څوك تیر کړي کر که ځینې کوو،په دې توګه دوی‌دتو ر لوښی نه انګیرنه کوي.

۱۸-د کو نګ (بوم) نا ره :

که دچاد کو رمخې او دیوال باندې کو نګ کینی او آو ازو کړي ،او دده داآو از او نا ره د کو رنی او کهول غړي و او ري ،دآو ر ید و سر ه‌یې‌دغږ او ناړې نه ډ‌بر ه‌بده کر که کوي.دوی داسی عقیده لري چې کونګ‌سړی غواړي، د کو رنی غړي‌په خپل منځ کې یو بل ته سر و ایی خدای پاك دې خیررا پیښ کړي چېرې نه چې له سو نږ نه کوم یو کنډ وشی . په دې توګه و ینو چې دبوم نا ره دغم اوسړ ینې معنی لري .

۱۹-آس‌چې پوستکی یې‌سپین‌خا لو نه‌و لری

کوم تن‌چې برګ تری وی یعنی برګه تره (پوست ،څرمن) و لري،

داپه دې معنی چې بدن يې ځای ځای سپين خالونه ولری او دفيس په قسم وی وايی: «پلانی ښه سړی نه دی، برګه تره لری، دابرګ تری خو راشيطان دی، دوه په جنګ اړوي.» دبانډو او ګلیو په ولس کې داعقيده دحيوانا تو او مالونو په باب هم ده، ددې عقيدې له سخې دکوم آس چې پوستکی سپين خالونه ولري، که هرڅومره ډير قيمت او ارزښت ولري بيا هم خوک دهغه اخيستو ته زړه نه ښه کوي: دا ځکه د داسی آس چې دفيس په شان تره او ځپړه ولری کرکه (انګيزنه) ورته درديدی اووايی: «دا آس سپيره دی.» دمال چې تره او ځپړه برګه وي، دوی يې د نيستی اوخواری علامه ګڼی.

۲۰- پری او بدر يژه نه ورکول:

په سنګلو او پکتيا کې خوک چې خپل مال په چاو پلوري، دمال نوي څښتن ته دمال د غاړې پری اورسی چې پر تر لو به يی نه ورکوي، دوی داسی عقيده لري: «که سونبر په دې خرڅ شوي مال پسې دهغه دغاړې پری اورسی ورکړ ونو رمال پسې ځی او سونبر ته تاوان پيښيږي، يادا چې زسونبر په مال مرض لګيږي اومري» نو ځکه په مال پسې د پری له ورکولو نه ډډه کوي، که احياناً خوک دا کار وکړي کرکه او انګيزنه ورته پيدا کيږي، له بله پلوه خنګه چې دوی دپر شته او مال نه لري، له دې امله هم دپری له ورکولو نه ځانونه ژغوري. داشان د خره او داو ښ کته او ترنګړ دخر څولو په وخت کې نه ورکوي هغه په خپل کور کې ساتی.

له بلې خوا نه دوی داسی عقيده لري چې دمال دغاړې پری بايد سونبر په خپل کور کې وساتو چې بر او بر کت يې ولاړ نشی، که پسې وريې کړ وخا مخا

به‌دسال برکت لاړشی او سو نړ به‌له‌سال نه‌نیستمن شو. که‌اخپستو نکی په دې ټینګښی چې دسال‌دغاړې‌پړی‌پسې‌راکړی ء، نو په دې صورت کې‌د سال پخوانی څښتن‌د کر کې او انګړ نی دلرې کېدو او دمنځه‌وړودپاره‌دپړې‌او سال نه‌خه و یښته او کلوښته راو باسی او دبرکت دپاتې کېدو دپاره هغه په کور کې ساتی ،داددې‌دپاره‌چې برکت‌به‌بې ځای‌پرځای‌پاتې وي او دپخوا په‌شان به‌زمو نړ سال‌په‌امن پاتې‌شی .

۲۱-دسپې‌او ږدې‌غړ انګه‌او کوکړ:

کله کله‌سپې‌او ږدې‌غړ انګه او کوکه‌کوي،په سنګلو، پکتیا اونور پښتنو کې دسپې له‌دې‌آواز نه سخته کر که‌او انګړ نه و رته‌پیدا کېږي، ددوی د و لسی عقیدې‌او سفکور ې‌سره سم‌داغړ انګه‌او ږدې‌غاړه‌ډېره سپېره بلل شوې او دا پښنه داسې‌تعبیر وي‌چې سپې‌بلاو ینې‌له‌هغې ډاریږي او کوکې و هی ، دسپې‌له‌دې‌ډار او کوکونه دوی ته کر که‌دریږي او وایی:« خیر راپښې کړې‌سپې ډېر بدکور انجیږي چې کوسه پښکو له (زیان،ضرر ، غم)راته پښنه نه‌شی.»

د سپې داسې‌او ږدې‌غړ انګی چې‌په کلیو کې‌خوکوا و ري‌ځینې خلك یې سمدلاسه و ژنې‌او دهغه دکوکو او غړ انګو نه‌ځان خلاصوي، ددددې‌د پاره. دوی‌و ایی که‌داسپې ژوندی پاتې‌شی دهغه‌بلا په څښتن لګیږي یعنی دسپې څښتن به‌مړ شی، ددوی‌دو لسی عقیدې له‌مخې‌دادسپې او ږدې‌غړ انګه داسې

هم تعبیر شوې دې چې په او ریدو سره په کور کې د سر سړی او مشر مري، له دې کبله دسپی داکو که دوی د سړه نښه او علامه بولی څکه سخته کرکه ځینې کوي.

۲۲-د څپلیو او بښتل:

که دچا څپلی د کښلو (کوږلو) او ایستلو په وخت کې په څټو او ږي، له دې پښې نه کر که کوي او کږ نه ور ته در یږي او داحال بدګنې، په دې برخه کې کومه لنډی، متل او نظم وجود نلري، بلکه کله کله یې خاوند او خپلوان داسې وایی: «خیر پښې کړې بخت او طالع خو به مو نه وي او ښتې دا څه وشول.» په دې توګه سره وینو چې خاوندیې له دې عمل نه کر که کوي.

داشان که دچا څپلی د کښلو په وخت کې یوه په بله واوړي یعنی یوه دبلې دپاسه سپره شی نو له دې پښې د اسی تعبیر اخلی چې: «څپلی سی یوه په بله سپرې (سوري) شوې لکه چې سفر او تګ سې په سخکی دی.» دادې سفر اوتلو معنی لري

۲۳- تله په او ږه ا یښو دل:

په سنګلو او پکتیا کښې څوک چې تله په او ږو نیسی او بایې داو ږو دپاسه کیږ دي او کلیوال یې وو ینی یې له در نګه ور ته وایی: «ولې دې تله په اوږه یښی ده، ته نه پوهیږې دا خوښه کار نه دی، داوږو نه یې را کوزه کړه په لاس کې یې ونیسه، څوک چې تله په او ږو دپاسه کیږ دي نر خونه جګ ځی او کتی (قحطی) پیدا کیږي.» په دې توګه تله داو ږو دپاسه ایښو دل دقحطی او نیستی معنی لري چې د وی

و رخخه کرکه کوي اوځانونه ځینې ژغوري.

۲۴-د تشې زا نګوز نګول:

سنګل ،دپکتیااونورپښتانه خلك تشه او خالی ځانګو(زانګییه)چې ماشوم پکې نه وی نه زنګوي، که چیرې څوك احیاناً دغه کار وکړي کرکه ور ځینې کوي او ښه یې نه ګڼي، داددې دپاره چې دتشې زانګو زنګول ددوی په عقیده د ماشوم او کو چنی دمړینې سبب کیږي، په تیره که څوك دنر اولاد زانګو نا ببره چې پام یې نه وی وزنګوي او دکورنی او کهول نورو غړو د ده په دې کارسترګې ولګیږي بدو رته ویل کیږي او داعمل داسې تعبیروي :« زانګو مه زنګوه، تشه ده تشه زانګو ښه نه وي، مونږ ته کرکه پیدا کیږي.

په دې برخه کې کوم متل،نظم او اصطلاح وجود نلري چې دموضوع سره سره خوري بلکه هغه ژبنی خبرې سره کوي چې ورته دمخه اشاره وشوه ...

۲۵-په مازدیګر کې چا ته اور نه ورکول:

سنګل او دپکتیا خلك دمازدیګر په نري او لنډو خت کې چاته له خپل لګېدلي او بل نغري نه چې اورپکې بل وي او رنه ورکوي، که احیاناً څوك دا کار وکړي کرکه ځینې کوي او بدیې بولی، په دې باب په دوی کې داسې عقیده شته: «که چیرې مونږ دخپل بل نغري نه په دې لنډ او لغړو خت کې او رور کړو نو به زمونږ نغری مړ او برکت به یې ورسره ولاړشي دبرکت د تلو سره به مونږ سپیره او نیستمن شو.»

دنغري‌دسړه کېدو اصطلاح په پښتنو کې‌ډېره بده‌ګڼل کېږي‌او داډېره ناوړه ښيرا بولی ، دچاچې نغری‌سړشی هغه سيرات کيږي، نو دنغري سړه کېدل دهغې کورنۍ‌دورکې او تباهۍ‌معنی‌لري،ددوی‌په‌سنځ کې‌دامفهوم‌او مطلب په‌خبرو کې کله‌کله داسی ادا کيږي : «دپلانی نغری‌سړشو.»

په‌دې‌باره کوم څرګندتل ،نظم‌اولنډی نه‌لیدل کيږي‌چې دموضوع سره مستقیم ارتباط اواړخ ولګوي ...

۳۶-په‌مازدیګر کې‌پرویځی (غلبیل) نه‌ورکول:

په سنګلو اودپکتیا په ولسونو کې‌دمازدیګر په‌وخت کې څوک چا ته‌پرویځی(غلبیل)نه‌ورکوي،په‌دوی کې‌دپرویځی نه‌ورکول په‌مازدیګر کې‌ددې معنی‌نه‌لري‌چې‌دوی‌دهغه‌په‌بدل‌اوعوض کې‌دې‌څه‌تري‌وغواړي‌اویا واخلی بلکه دمازدیګر په‌وخت‌کې دپرویځی ورکول دوی‌کړلی دی اوله‌دې کارنه انګیرنه کوي،دوی داسی عقیده‌لري چې که چېرې مونږ په‌دې تنګ اولغړوخت کې‌خپل پرویځی چاته‌ورکړو ونوزمونږ دکور برکت ورسره ځی‌او دمازدیګر په‌شان‌به‌زمونږ هرڅه داسې‌ژرتېر اوخلاص شی ، دوی‌داسې‌تعبیرورځځه‌اخلی‌چې مازدیګر کې دپرویځی ورکول کورته مالی اوځانی تاوان‌سخه کوي...

په‌دې توګه‌دوی‌دمازدیګر په‌وخت کې‌دپرویځی‌له‌ورکولو نه ډډه کوي اوځانونه ځینی ژغوري ،که چېرې په کورنۍ کې کوم ښځه‌ا حیاناً

داکارو کړي او دکاله نوري سپرمنې پرې خبرې شي هغې ته په قار کیږي او ښکنې یې او وړته وایي: «لږ پام کوه پرو یځې دسازدیګر په وخت کې مونږ کړلی دی، چاته یې چې ورکړو زړو ته کرکه راته دریږي.» په دې باب کې کوم متل، لنډۍ او نظم نشته. داډول کرکې په کورونو کې د ښځو تر منځ رواجلري او هغه پرې پو هیږي نران وړته ځیرنه دي، له دې سره سره داشان کرکې او انګیرنې په کلیو الوکې شته او ورکې دوډوي دي.

۲۷- خوراولو ړته چرګه نه ورکول:

که څه هم داکړنه او کرکه ډیره عامه نه ده، سګرسر. له دې هم سنګل او دپکتیا خلك دخپلوانو او دوستانو (خپلوي چې سره ولري یعنې یو او بل ته یې چې ښځې سره ورکړي وي) تر منځ خوراولو ړته چې واده شوې وي چرګه نه ورکوي، که احیاناً څوك داکارو کړي کرکه ځنې کوي ....

دهغې ورکې او سرګ له سخې چې په دوی کې وارپه وارلیدل شوی دی نو داکړنه او عقیده داسې تعبیر شوې ده: «دکومو خپلو انو ترمنځ چې خوراولو ړته دواده کولونه وروسته چرګه د برخې دپاره یو بل ته سره ورکړې ده کرکه یې ځنې کړې ده او ویلی یې دي دچرګې ورکول ښه نه دي دا ځکه په دغو کورونو کې له څه سودې وروسته سړی یا رنځ پیداشوی دی، که څه هم دسړی کېدل دچرګې دورکړو سره څه اړه نه

لري سګر ددوی دعقیدې له سخې دنو سوړې پېښې بنسټ دخپلوا نو ترمنځ دا دچرګې و ر کړه ګڼل کیږي.» له دې کبله دوی دچر ګې و ر کو لو نه خو راولورته ډه ډه کوي، په دې برخه کې په دوی کې کوم ستل او ننډی رواج نه لري چې دا پېښه و رنه خرګنده شی بلکې د اسې ژ بنی اصطلا ح را و ړي:« دخپلوانوترمنځ چې څو ک چر ګه سر ه و ر کړي په هغو کې د کو ر مشر څښتن او دسر سړی سري.» په دې تو ګه و ینو چې دچر ګې و ر کو ل سپېره اودسړه د سړینې معنی لری.

۲۸- په زما د یګر کې پیسې نه و ر کول:

دسازدیګر په ننډو خت کې سنګل او پکتیا و ال چاته پیسې په پو را و ګڼه نه و ر کو ی له د ې کارنه په دې وخت کې ځان ژ غوری که څوک یې و ر کړي نو کر که ځینې کوي او داسې عقیده لري چې سړی نیستمن او خو ار کیږي همداو جه ده چې دسازدیګر په و خت کې دوی چاته پیسې نه و ر کوي، داځکه دوی و ایي چې داو خت نری او نا کر اره دی، که څوک دې یوې اړتیا دپاره چاته و رشی او پیسې و رنه په سازدیګر کې و غواړي دو ر کړي نه یې دبل و خته پو ري معذرت غواړي دا ددې دپاره چې دوی ته په زړو کی کر که در یږی، که څوک غواړي چې دخپلې اړتیاشی تر لاسه او پو ره کړي دسازد یګر نه سخکې او و ر وسته یې غواړي .

په دې باب کومه ننډی، ستل او نظم نشته چې دموضوع سره اړ خ و لګوي

برعکس عا شقان دمازدیګر لنډ و خت د دیدن د پاره مناسب او دبل هر و خت نه یې ښه ګڼي داپښتنه په دې لنډۍ کې داسې جو تیږي :

مازدیګر ښه دی دیدن کیږي*رنګه غرمه کړې پېغلې کور کوي خو بونه

۲۹-غوړه کټوه نه ورکول :

پښتانه په تیره سنګل او دپکتیا خلك دغوړې کټوې دو رکو لو نه تر ممکنه حده پورې ځانونه ژغوري او داکار اوعمل د وی داسې تعبیر وي د وی وا یي:

«که غوړه کټوه اودیګ چاته و رکړو په هغې پسې زمونږ د کور دغوړیو او مال برکت ځی ،مونږ پوهیږو او یقین لرو چې ددې کار په کولو به و رو و رو مونږ له مال او دهغوله غوړیونه نیستمن شو.» ښه به د اوي چې پخوا تر و رکولو دا په غوړو ککړه او غوړه کټوه پاکه وسینځل شی او بیاد ې و رکړشی، که چېرې په کومه کور نۍ کې د کورمیرمن غوړه کټوه چاته و رکړي او نو رې ښځې پرې خبرې شی هغې ته په قار کیږي او و رته وایی «خو رکی ته پوه نه یې مونږ چاته غوړه کټوه چې په غوړیو ککړه وي نه و رکوو، چاته چې څوك غوړه کټوه و رکړي نیستمن کیږی پام کوه بیادا سی کار و نکړې . » .

خنګه چې هر څوك له نیستۍ او خوارۍ نه ډاریږي نو نه غواړي چې په خپل لاس ځان خوار او نیستمن کړي، له دې کبله دغوړې کټوې اودیګ دور کو نه

په‌دې‌و خت کې‌ځان څنګ ته کوي که‌چیرې‌څو ک‌داکار ترسره کړي خپله‌پرې پښیمانیږي‌او وایی«سابدو کړه‌په‌دې‌ناوړه عمل‌سره‌به کور ته‌دسړی‌اومال‌تاوان واوړی» په‌دې‌باره کې کوم‌مستقل‌نظم نشته‌چې‌د اکیرنه ترې‌څرګنده او جو ته شي. داشان کیرنې دښځو ترمنځ رواج لري ا و په و رځنی ژوند کې کارو رځنې اخلي.

۳۰- کوچنی ماشوم او ناوې له کوره بې برخی نه پریږدی:

په پښتنو کې څوک‌چې دچاکور ته کوچنی ماشوم په‌غیږ کې و روړي نو دیږ ته تلو او ستنېدو په‌وخت کې‌د کورنۍ دغړو له خوانه هغه‌ته دخپل توان‌او وس‌په‌اندازه‌هر څه‌چې وي برخه‌ورته‌و رکوي،دافرق نه کوي که‌پسې، خت(کمیس)پر توګ ،چرګه او سیرلی وي‌څه ېې‌چې په‌قدرت کې وي‌هغه و رکوي.د‌پښتنو کور ته (دماشوم، تلپک) او کوچنی ورور‌ل‌دنوې‌رنا،برکت خراغ اوګل‌معنی لري نو هغه ته(دښګوم)دپاره‌بایه‌دي‌چې خپله‌برخه‌و ر کړي، که‌څوک ماشوم ته‌برخه و رنکړي او له‌کورنه بې‌خالی و وځی له‌دې‌حال‌نه‌سخته کرکه کوي، او داسې‌و ایی:«زمونږ کور ته بې‌ګل راوړی‌و ، بې برخې سو پریښو د، چیرې‌نه‌چې کوم تاوان‌راته‌پیښ نه‌شي.» دماشوم تش‌او خالی پریښو دل‌بدبو لي او داکارښه نه‌ګڼی، حتی که‌په‌کور کی څه پیدانشی نو ترغاړه بې‌خو سشکنې‌تاووي،داشان که‌په‌کور کې مشکنې نه‌و ی

نو یو سور تاریې ترګوته ورتړي او په دې توګه سره هغه ته د شتو دنښتوالی لپاره کمکې برخه ورکوي او سورته یې وایی: «یا ده سو کړې، ښادمونه کړي. یادما کړې، ښاددی خدای کړه.» که سورتارنه وی ما لګه ورته په لمن کې ګنډه کوي او داداسې تعبیروي چې خدای به یې په کورکې خوښ نعمت کړي دارنګه دچاکورته چې ناوې له وادنه و روسته په لو سړي ځل ورشی، دکورنه یې یې برخې نه پرپردي، په پښتنو کې ددوي دروا ج سره سم ناوې ته پورنی او ټکری ورکوي، که په کورا وکلی کې دپورنی رخت نه وي نو دهغه پرځای ورته پیسې او یا بل څه ورکوي، که څوك ناوې ته څه ورنکړي او له کورنه یې تش لاس لاړه شی ډېر سخته کرکه ورته دریږي، دوی د اسې عقیده لري: «ناوې دوادنه ورسته دچاکره چې ورشی دجنت دحورې مثال لري، په لیدو او کیناستو کې یې برکت وي.» نو یې برخې پرې نښود لې نه بولی، که دکورنه یې یې برخې لاړه شی په دې باب کې داسې وایی: «ناوې موسپیره او تش لاس له کوره ولاړه، داسپیره تګ یې ښه نه و، په زړه کې به څه ورته درېدلې وي، پر سونږ یې حق وبا ید هو چې څه سوورته ورکړي وای، مګر څه وکړو چې په کورکې څه نه پیدا کېدل.»

له دې کبله ددې کارنه کرکه ورته پیدا کیږي او وایی: «خپه شوې به وي چې په نه چې سونږ ته ښېرا وکړي، په سرولاسو او په سرو پیچکو رانه تشه وو تله.» په دې توګه وینو چې دناوې تش لاس دکورنه دلغړ ېدو او نیستی معنی لري.

۳۱-زوم دخسر په کورکې لاس نه مینځی:

دډوډی دخوړلو نه وروسته هر څوك لاسونه پاك په اوبو مینځی، خو زوم دخسرپه کورکې دوا ده نه دمخه اوورو سته دډوډی دخوړلونه خپل لاسونه په اوبو سره نه مینځی بلکه بوازې په دسمال سره پې پاکوي، ددوی دولسی عقیدې سره سم که زوم دخسر په کورکې په اوبو لاس و مینځی نو دادډې مفهوم لري چې دوستی به ختمه شی داپه دې معنی چې کهه به پې سره اودخپل خسرلور به دلاسه ورکړي، له دې کبله زوم دخسر په کورکی دلاس دمینځلو نه ډډه کوي، که څوك داکارو کړي کرکه ورته دریږي اووایی: «پام پې نه ولاسونه پې و مینځل ښه پې ونه کړه، دزوم دکورنی غړي ورته وایی خیر دی په اوبو دې و مینځل په دسمال پې مه پاکوه چې وچ شی، بلکه دالامده او توندلاسونه دسر په وینښتانو وو هه چې کرکه دې له زړه ووزي.» په دې توګه که زوم دخسر په کورکې پې پاسه لاسونه په اوبو و مینځی په دسمال به پې نه پاکوي، اود سرپه وینښتا نو دې پې پاك کړي .

داشان خوراولور (خورلانه، خورلنه) چې وادهشوې وي دپلار اوورور په کورکې لاسونه نه مینځی، که چاو مینځل کرکه ورته دریږي اولغړ پې بولي، دوی وایی «دلاس مینځل دپلار په کورکې سپیره وي.» که کوم خورلانې دپلار په کورکې لاس و مینځه دسر په وینښتو باندې دې پې وو هی.

۳۲-دډك كندو، ترتې او ګوډې څخه غله نه ورکول:

منګل او دپکتیا ولسونه د ډك شی څخه چې دوی دځان دخوراك دپاره ساتلی وي او لاخورندی (پیل) پې نه وي غله او دانه چاته دکندو، ترتې او ګوډې نه نه ورکوي، البته دادي معنی نه لري چې پښتانه ټینګ او بخیل دي، یاداچې دخپلو همنوعو سره خواخوږي او زړه سوی نه لري، خو دهغه ډك کندو، ګوډې او ترتې څخه چې لا پیل پې نه وي څه نه ترې ورکوي، که څوك ددوی نه دخوراك دپاره غله وغواړي دهغه شی نه پې ورکوي چې د وی پې په خوراك پیل کړی وي ...

ددوی دولسی عقیدې او مفکورې له مخې په لومړي سر کې څکه له ډکو شیانو نه غله نه ورکوي چې برکت پې ورسره ځی او داسی وایی: سر پې چې دوی وخوري او سونږ خورندی (غله) نه وي نو سونږ به نیستمن شو، کله چې سونږ خورندی کړه بیا که ته له ورکړ شی پرواته لري.»

که څوك چاته دډکی ترتې نه چې کورنی او کهول پیل (خورندی) کړی نه وي ورکړي سخته کرکه کوی او په دې کار ډیره پښیمانی کوی دوی په دې برخه کی داسی ژبنی اصطلاح لري: «د هرڅه سر خوږ او برکت دی.» له دې کبله ډکشی نه چاته څه نه ورکوي، که ورکړ شی کیږي (کرکه) پې او دنیستی نښه یې شمیري.

۳۳-ددوو تنو ترمنځ تیږه ټکېدل:

په‌سنګلو کې کله چې‌دوه تنه دیو کار او کومې معا ملې دپاره چې‌تر منځ پې پیداشوې وي سره کښینی‌هریوکوښښ کوي چې دخبرو او اترو په وخت کې‌له هر ډول‌بدعمل اوحرکت نه‌ځان وساتی، کله‌که څوك په داسې موارد و کې جزوي(وړه) سهوه اوغلتی وکړي نودلویو زیانونو عوامل منځ ته راوړي‌ددغو عواملو دجملې نه‌یودتیږې‌ټکول دي ...

خه‌وخت چې‌دوه تنه دورپښې شوې معاملې‌دپر یکړې‌دپاره سره‌کښینې که په‌دې شبه کې ددوی‌نه‌یوتن تیږه وټکوي، دابل‌تن‌چې‌دده سره په‌معامله خبرې کوي، دده داکاراوحرکت په‌ځان پورې‌ملنډې او خندې ګنې اوسخت‌خپه کیږي، اوورته وایی:«وروره ته‌د معاملې دخلاصید ودپاره‌راغلې‌یې او که پرماریشخندو هې، که ددواړو ترمنځ‌دسیالی خبرې وشی خبره جنګ اوژوبلې ته‌رسیږي.» داوجه ده‌چې‌دمعاملې اوجرګې په وخت کې دتیږې دټکولو نه دوی کرکه کوي اوانګیرې پې .

۳۴-دسر(پټکی)، خولې‌اوټکرې‌چاته‌نه‌ورکول:

په عمومی‌ډول سره (پښتون‌شتمن‌اوبې ای کام‌نه‌دی، داپه‌دې معنی چې‌یو پښتون زلمی‌او پیغله‌یوازې‌یوه جوړه‌جامه اوکالی‌لري، کله‌چې داجامه اوکالی چاته‌ورکړي نودوی‌لوڅ‌اوبر بنډپاتې کیږي، ددې‌اصل‌له مخې‌دوی دخپل سر لونګی، خولی، پورنی‌او جاسی چې‌اغوستې‌پې وي‌چاته‌پې‌نه‌ورکوي

داشان ډاډانجامه هرڅه‌چې وي‌او دوی یووار په‌ډاډان کړې‌وي چاته یې‌نه ورکوي او نه یې‌دچاله جاسې سره بدلوی که‌څوک‌داکارو کړي نو له‌دې عمل نه کرکه ورته پیدا کیږي، که څوک ډاډانجامه‌چاته ورکړي‌پرې‌پښیمانیږي په‌دې‌باب‌دوی‌ترمنځ داژبنې خبرې شته: «پلانې‌ډاډان کالی‌ورکړه. په‌خیر به یې‌زاره نه‌کړي او نه‌به‌ده ته‌خیر ورسیږي.»

دا شان‌دزوم ډمخ‌دسمال او کالی چې دواده په‌ورځ‌خسر ګنې‌ورته کړي‌وي چاته نه‌ورکوي، که‌وربې کړي‌بدیې ګنې او کرکه ځنې کوي، په‌دې‌باره کې‌کوم نظم‌او متل نه‌لیدل کیږي‌بلکه داژبنې اصطلاح شته چې وایی:«دخسر ګنې‌شی‌او کالی‌دزوم دپاره دي‌بایده دي‌چې دې‌بې په‌خپله‌زاره کړي‌او ګټه ورڅخه واخلی ،بل څوک دې‌هغوته زاره نه ښه کوي ، که‌څوک‌یې‌دزوم‌نه‌واخلی‌نومالی‌اوځانې‌تاوان‌ورته‌پښیږي.»

۳۵-دمازدیګر په‌وخت کې‌نوی‌جامې نه‌اغوستل :

منګل او دپکتیاو لسونه دمازدیګر په‌لنډو خت کې نوي کالی نه‌اغوندي ،په دې‌وخت کې دکالیو داغوستلو نه کرکه ورته درپږي،له‌دې کبله یې داغوستو نه ځان ژغوري ، ددوی‌دولسی‌عقیدې‌له‌مخې په‌دې‌برخه کې‌داسې‌سره وایی:«څوک‌چې‌دمازدیګر په لنډو خت کې‌نوي کالی‌واغوندی عمر یې‌دمازدیګر‌په‌شان‌لنډیږي.»اوداکاردسرینې‌نښه ګڼي.لکه‌چې‌جوته‌ده پښتانه‌د کال‌په‌اوږدو کې ښې او بختورې شپې اوسیاشتې‌لري چې‌دهغولمانځنه کوي،

په دي ښوشپو او مياشتو کي غوړي سړی (ډوډۍ) پخوي او ختمونه (خير اتونه) پکي کوي .

هغه شپې چې بختور ې او ښې يې بولي دادي : دشو کدرشپه ، داختر و نو (ييدو)شپې دبلينډو «برات» شپې اودجمعې شپې . داشان ځينې مياشتی هم لمانځی لکه دخدای مياشت، بزرگه مياشت، درسول مياشت، اودروژې مبارکه مياشت. داشپې او مياشتې ددوی په ژوند کې ځانته خاص درنښت او ارزښت لري ، دارنگه دوی ته په ټوله ورځ کې وخت اومهال (بيل بيل وخت) هم درنښت لري او دورځې بيل بيل وختونه دهغودارزښت له مخې لمانځه او مننه يې کوي ، دوی دمازيگر وخت لنډ بولی او بده ځنې منی . داوجه ده چې دمازيگر په وخت کې دوی نوی کالی نه اغوندي ، په دې برخه کې کوم متل، لنډی او نظم نه ليدل کيږي .

۳۶-دکوچو ويلې کول:

په کلیو او بانډو کې دکوچو دويلې کېدو په وخت څوك غږ اوخبرې نه کوي ، ددوی په عقيده که څوك غږ وکړي ، کوچ په سرراځی اوتو ييږي ، يادا چې د غږ او خبرو په باب بانډوال او کليوال داسې وايـــي: چې کوچ اوړي اوتخه (خراپ) کيږي يعنی تروه کيږي اوخپل شکل دلاسه ورکوي ، له دې کبله دکوچو دوبلو کېدو په وخت کې د غږ کولواوخبرونه کرکه کوي اوځانونه ځينې ژغوري

۳۷-د پښتو (پښې) وژل:

ولسی خلک د پښتو له وژلونه کرکه کوي ، څوک چې پښتو سړه کړي د هغې وژل داوو خونو سره برابر بولی. دوی په دې برخه کې دا ژبنی اصطلاح راوړي «پلا نکی اووه خونه (سړه) کړي دي ، دا څکه پښتو یې وژلی ده .»

۳۸-په تورهلته وهل:

په کلیو کې کله چې کومه سورخپل زوی په تورهلته ووهی د کورنی او کهول نور غړي ورته په قار کیږي، دوی په تورهلته وهل دنیستی او غم علامه ګڼي ، له دې کبله کرکه ځني کوي .

۳۹-د جمعې په ورځ څوک نوی سبق نه اخلی:

په کلیو کې د جمعې په مبارکه ورځ نوی سبق د سلانه څوک نه اخلی بلکه زاړه او تیر سبقونه زده کوي اوزو توي یی، که څوک د جمعې په ورځ نوی سبق واخلی دوی وایی چې تیر سبق به یې هېر شی نو ځکه کرکه ورته دریږي.

۴۰-د کوتې په وره (دړه) کې کښینا ستل:

په کلیو کې چې څوک د کوتې او کور په وره کې کښینی او خلک یې وینی ورته وایی له دې ځای نه پورته شه، ته خبر نه یې چې په وره کې د کښیناستلو نه مونږ ډډه کوو او کرکه راته په زړو کې درېږي دا ځکه په وره کې کیناستی دنیستی معنی لري.

۴۱- په شپه او مازدیګر کې د شو دو نه ور کول:

دشپې او مازیګر په وخت کې کلیوال دغو اشو دې چاته نه ور کوي، څوک چې دا کار وکړي، کر کړه ورته پیدا کیږي او وایي: «مونږ په کار و نه کړ غوا به موو چه شی او مو نږ به د کتغو نه نیستمن شو.» په دې باره کې کوم مثل، نظم او لنډی نه لیدل کیږي.

۴۲- دغو او ربه:

په کلیو او باندو کې څه وخت چې د چاغو النګه (ننګه) شی، دغو او ربه ټولوي، چې د پرشی د کلیو الوده پاره یې پخوي او کلیوال یې خو ریتر خو ر لو و روسته دو ربرو په ککړ لاس د کو رنه بیدیا ته نه ځی، لاسو نه په او بو مینځی او دې حق نه لري چې په دسمال یې وچ کړي، که چادا کار و کړ وایی: «دغو اخو سی سري، غو اچې د کیمیابو تی مثال لري بوره کیږي او شو دې وچوي.» له دې کبله د ککړ و لاسو او په دسمال پاکیدو نه کر کړه ورته در یږي.

۴۳- د مازدیګر په وخت کې کوټه نه جارو کول:

د کلیو او باندو و لس داستو ګنې کوټې د مازدیګر په وخت کې چې د وی یې لنډه، سپیره او لغړ وخت بولي نه جارو کوي، که څوک د غه کار وکړي کر کړه ورته پیدا کیږي او وایی چې کور سپیره کیږي او برکت یې ځي.

۴۴- دغو او ربه نه پوکوي:

څه وخت چې دلنګي (ننګي) غوا خښتن کلیو الو ته دغو او ربه د خو رالګ د پاره

پاخه کړي، که ورځه ګرم اوسره وي بایده دي چې پو اوساړه یې نه کړي، که څوک یې پو کړي کر که ورته درېږي او دغواخښتن ورته وایي لاس مه پو کوئ، سو نږ ته له دې کار نه کر که پیدا کیږي، نو په دې باب دوی داسې عقیده لري. «څوک چې ورځه پو کړي، دغو اخوسې سړي او بوره کیږي.»

۴۵-دغو اشودې او تروې نه ورکول:

په کومه کورنۍ کې چې غو النګه شي، دا نګې (ننګې) شوې غو اشودې او تروې تر دریو ورځو پورې پې له خپلې کورنۍ څخه بل چاته نه ورکوي، په دریمه ورځ یې شودې او تروې په لغونې تلوي (لغونی یو بوتې دی) او تر دې وروسته په عادي ډول یې کلیوالو او ښګانا وته د خوراک د پاره ورکوي چې وېې خوري، که څوک له دې تاکلی وخت نه دمخه شودې او تروې چاته ورکړي، کر که ورته پیدا کیږي او داعقیده دوی داسې تعبیره وي: «که څوک دا کار وکړي کورته ځانی او مالی تاوان پېښېږي.» له دې کبله د دغه کار نه ډډه کوي.

۴۶-دغو اکوچ نه ورکول:

غو اچې نوې لنګه شي تر او وورځو پورې پې کوچ تو لوي پې له خپلې کورنۍ نه یې بل چاته د خو راک د پاره نه ورکوي، کله چې او وسه پوره شي نو بیا دغو اکوچ هر څوک خو ړلی شي، که تر دې تاکلی مودې دمخه څوک دغو اکوچ پې له خپلې کورنۍ نه بل چاته ورکړي کر که ورته درېږي او وایي چې کورته به مالی او ځانی تاوان واوړي په دې باره کې کوم متل، لنډی او نظم نشته یو ازې دوسره وایي «اوو مه یې پو ره نه ده»

۴۷-د کندو نه داتامو (اوړو) راښکل:

کومه ښځه چې دډوډۍ دپخولو دپاره د کندو نه اتام را اخلی بسم الله وایی او خبرې نه کوي، داددې دپاره چې داتامو نه برکت لاړ نشی که کومه ښځه داتامو دراښکلو په وخت کې خبرې وکړي د کاله نوري ښځې ورته وایی: «خوري د کندو نه داتامو دراخیستو په وخت کې بسم الله وایه خبرې مه کوه ته لا په دې نه یې خبره چې داتامو دراښکلو په وخت کې مونږ خبرې نه کوو، خو که چې خبرې وکړي کرکه ورته دریږي او داسې عقیده لري چه داتا مونه برکت ځی په دی برخه کی گوم متل، لنډی او نظم شته چې د موضوع سره اړه لري.

۴۸- نوی نغری:

خو که چې نوی کور او جوس ودان کړي تر هغه پورې داستو گنی دپاره نه ورځی خوچې خیرات یې پکې کړي نه وي، دوی وایی: «په نوي نغري کې تر هغه وخته پورې او رمه بلوی خو چې خیرات نه وي پکې شوي.» «که خو که لږ شرطانه واوړي او په نوي کور کې خیرات ونه کړي کرکه ورته دریږي او داسې عقیده په دې باب دوی کی شته چې کورته ځانی او مالی زیان رسیږي، له دې کبله په نوي کور کې خیرات کول ضروري او حتمی کار دی.

۴۹- د یره خوشالی ښه نه ده:

د کلیو او باندو سپین سرې او مشرې سیرمنې عقیده لري چې په کور کې د یره خوشالي ښه نه ده غم او رنځ پسې پیدا کیږي له دې امله کرکه ورته

دريږي.دوی په خپل کور کې خوشالي چې دحدنه ډېره وي کړي يې او ځان تر ې ژغوري په دې برخه کې لنډی،ستل او نظم وجودنه لري چې دمو ضوع په باره کې سرسته و کړي بلکه مشري ښځې داسې ژ ښې خبرې سره کوي چې دډيرې خوشالی سخه پرې نيسی اوماته جو تی نه دی.

۵۰-تور کالی او جامی :

که څوك تو ر ې جاسې او کالی دلو سړي څل دپار ه ځان ته وکړي او هغه و اغوندي او پکې پيمارشي،دځان نه يې لرې کوي او و کاړي يې،د هغو داغو ستو نه د بل و خت دپاره کرکه و رته در يږي او ډډه ځينې کوي په دې برخه کې دالنډی وگو ر ی: تو ر ې جاسې به په تن نه کم *يو کال سې کړې و ې د رنځ کښو ړه و مه

۵۱-دواده کالی :

په کلیو کې دناو ې دو اده (و دزان،ودزن) کالی چاته نه و ر کوي، که څوك داکار و کړي کرکه ځينې کوي اووايی: «دناو ې کالی سو و لې و ر کړه داخو ددې دو اده کالی و و ،د کور نه سو و لې وايستل چې ر ې نه چې کو م تاو ان ر اته پيدانشی.» په دې تو گه دناو ې دو اده جامه هيڅاته نه و ر کول کيږ ي او بايده دي چې هغه يې خپله زړې کړي، په دې برخه کې کو مه لنډی او متل نشته.

۵۲ سپين پر تو گ :

په کلیو او باندو کې خلك جلکيو او پيغلو ته سپين گونځو ر پر تگو نه کوي او اغوندي يې ،څه و خت چې پيغلې و اده کړشی اودخسر گنی کور ته و لاړ ې

شي او واده يې تر سره شي بيا سپين پر توګ نه اغوندی تر دې و روسته رنګينه سرداو شنه پر تګو نه اغوندي، که ترواده کولوورسته واده شوې پيغلې (مېړونۍ ښځې) سپين پر توګ و اغوندي کر که و رته د ر يې اووايی: «زه اوس ښځه شوې يم، ښه کار مو و نکړ د جلکيو پر توګ مو و اغوست چې ر يې نه چې کو رته کو م تاوان پيدا نشی» په دې توګه و ينوچې دواده نه وروسته ناوې سپين پر توګ نه اغوندي له بله پلوه سوراورنګينه پرتوګ د ښځې کېدو نښه ده يعنی د ښځواو پيغلو ترمنځ سر ه او سپين پر تاګوو نه د دی ديلو الی علامه ګڼل کيږي، داشان پيچکی او او ر بل هم د پيغلو او ښځو ديلتو ن نښه شمېر ل کيږي .

۵۳- تو ر پ پيچکی (پيچکی):

د کليو جلکی په تنده باندې تور پ پيچکې ر اپر پر دي، کله چې واده شی پيچکې لو يه و يې او د سر د نو ر و و ينښتانو سره يې يوځای کو ځی کو ي، که ناو يې دو اد ه نه و ر وسته پيچکې پر پر دي د کاله ښځو ته کر که پيدا کيږي او سمد ستی خپلې ناو يې ته و ايی:

خور کی تر داسر و ستر گو د ی جارشم ته اوس پيغله او جلکی نه يی بلکه ښځه شوی يی د اتوری پيچکی د پورته وا ړه وه او د تنده ی پرمخ يی د نورو و ينښتا نو سره يو ځای اور بل کړه په د ی د ول سره وينو چی د ناوې د واده نه وروسته د پيچکو پر ينښود ل ښه نه د ی. په د ی برخه کی د الاندې لنډی اوسرو کی زمونږ موضوع کره کولی شی:

سپينه ټنډه دې غونډۍ ده

تورې بيچکې دې رسې په پنډ يې دينه

تورو بيچکو خو شپې شپه ده

په ټنډه مه روشې (راشې) اوربله ظلم کوره

مخ ته دې ځير کتلی نشم

يتودې اوربل ولونه سترګې بريښوينه

اوربله ته ولې خپه يې

که کلی لير دي توبه (تابه) پوس (پاس) په ټنډه دو رمه

داسروکي هم وګورئ:

سپين دې ځنځير ونه

خيالی اوربل دې رنګ دی ولونه ولونه

تورا وربل مې مه رنګوه نيز (نياز) بدو ر (بادار) دی

يمو (زما) انځولې جوړدی

*　　*　　*

شنه شنه دې خالونه

خيالی اوربل دې جوړدی ولونه ولونه

*　　*　　*

سلام سلام تورو بيچکو

لغړو ټندو ته څوک نه کړي سلامونه

فالونه

د هغوو لسی او ا سی عقید وله سخی چی د کلیو اوبانډو په خلکو کې ر و اج لري، دوی فالونه د ژوند په بیلو بیلو برخو کې په کار کړی دی او استعما لوی یې د و ی په فالو نو باندې د خپل ژ وند د آرامتیا، خوشالی، هستی، غم او خپگان څر گندو نه کوي فالونه دا ډو ل په دوی کې دود شوي دي: کو م شی چی هغوی ته په ژوند کې ښه ثابت شوی دی، د هغه لیدل یې ځانته د نیك سرغی نیك فال بللی او ښه یې گڼلی دی؛ کو م شی چی و ر ته بدښکار شوی دی هغه یې په بده سترگی او کر که (انگیر نه) یې ځینې کړی ده.

له بلی خوالکه چی وینو ولسی خلکو دپوهی اوسواد دنشتوالی له امله دطبیعت پښتوته ځانونه تسلیم کړی دي په دی پښتو کي کومه یوه چی ددوی دژوند دپاره په ښه شوي ده هغه يې ښه بللي او کومه چې په ښه نه ده ورغلي په بده يې شمېرلي ده. په دی توګه دوی داخرافات دځان دپاره د الهام دوسیلی په حیث هم استعمال کړی او کار يې ورځنی اخیستی دی ...

ددې دپاره چی خپله موضوع روښانه کړو او په بله لار ولاړ نشو دادی خپل بحث په وروسته ډول خیړو، مګر دا باید څرګنده کړو، کوم فالونه چې په سنګلو، پکتیا ولسونو اونورو پښتنو کی په ورځنی ژوند کی دوی استعالوی او رواج لري هغه دا ډول تیاله سخی دي. دا په دې معنی چی د وی په ژوند کې بی له دې عقیدې او هیلې نه چی فالونه دی بل څه دتکیې دپاره نه درلو دل، دوی په ژوند کې دډیرو اړتیا ودروښانه کولو دپاره دفالونو نه دیوې غوره وسیلی په څیر کار اخیستی دی. داهم بایدیاده کړو چی اوس ددوی د ژوند پخوانی او لرغوني بڼې تر یوې اندازې پورې تغیر کړی دی، اوس کلیوالو او بانډو الو دسواد، تجارت (خپلی سیمی نه بلې سیمې ته) اوبازارونو کی دګر ځیدواو راګر ځید و له امله طبیعی پښې پرې یښی او دژوند په کرونده کې يې دتمدن نوی څرګندلی دی.... هغه فالونه چې سونیر راتول کړي دي دادي :

۱- دسفر په وخت کی دګیدړی لیدل :

دکلیو او بانډونه کله چې څوک دسفر په نیت دکور څخه روان شی اودخپل تګ په لاره کې خوړبدلې (ښورنده) ګیدړه وویني او ترمخ يې

تیر ه شی ددې پیښې په لیدو ډیر خوشاله کیږي او خو ر اډاډور ته پیدا کیږی په دی ډول دګیدړې په لیدو سره دهغه ټولې نیکې هیلې چې دده په زړه کې وی بشپړې او پو ره ګنل کیږي.له دې کبله مسافر خپل سفر په پو ره خو شالی او خو ښی سره تیر وی ،دا ځکه دی وایی: «ګیدړه سی و لیدله دزړه مرادسی ترسره شو.» داچی دګیدړی لیدل دسفر په وخت کی نیک فال اونیکه پیښه ګڼله کیږی. سو نږ ته څرګنده نه ده او نه ورسره اشنایی شته ،په دې کار کلیوال پوهیږی .

ددې په خلاف د ګیدړی چیغه اوآواز خور ابد ګڼل کیږی، که څوک یې دسفر په وخت کی واو ری کر که ځینی کوی. که دټاټوبی او کو رمخی ته واو ر یدل شی او کلیو ال داچیغه و او ری سخته کر که و ر ته در یږی،ددوی په عقیده: «دګیدړی داسوې چیغه چې په زو ره زو ره کغیږی دمر ګ نښه او علامه ده او و ایي چې له سو نږ نه سړی غو ارې».

داشان د سوی لیدل دسفر په و خت کې بد ګڼل کیږی ،لا روی او مسافر کر که ځینې کوي ، دا ځکه مسافر و ایي: «سو یه سی و لیده ټولې هیلی سې ددې په لیدو سره ناهیلې شوې له دې امله یی په لیدلو ډیر خپه کیږی» .

۲-د پشی (پیشو) مخ مینځل :

د کلیو او بانډ و پښتانه د کو رنیو ژو یو لکه غوا ،غوښکی ،و زې، میږې،چرګو او پشو سره ډیره مینه لري، دا ځکه دوی دخپلو مالو نو له غوښو ، شو دو، مستو ،غوړیو ،و ړیو، پوستکیو، هګیو او نو رو ډول ډول ګټو رو کتنو او مو اد و نه د ځان د پاره استفاده کوي او خپل ژو ند پرې تامین کوي ،دوی خپل اهلی ژوي او مالو نه په ډیره مینه ا و ښه شان سر ه ساتی .....

پیشوچې ددوی سره په کورکښې دیوژوی په څېرژوند کوي ځانته ارزښت لري، ددې په باب ځینې داسې سوهوسی مفکورې اونظریې پیدا شوې دي :

لکه چې لیدل کیږي پښتو دعادت له مخې کله کله خپل مخ دپښتو په خپرو ایږدي او وروسته له دې خپل ښایسته مخ په خپرو باندې مړي څه وخت چې دکورنۍ کوم غړی د پښتو داحال وو ینې په خو راخو شالي بل ته غږ کوی پښتو خپل مخ مینځې لرې نه ده که خدای کول نن به زمونږ لاروی او مسافر خپل کورته په خیر سره راشي، په دې توګه و ینو چې د پښې مخ مینځل د مسافر دراتګ زیری دی .

ددې سوهوسی مفکورې څخه دوی دلرغونی او پخوانی انسان په شان د فال کار اخلي په دې کار اوعمل دوی د خپل زړه آرام ، او سرا د پوره ګڼي .

۳-دچای په پیاله کې دشمې در پدل :

لکه چې جوته ده ، چای په ځینو پښتنی و لسونو کې په وروستیو پنځوسو کالو کې رواج شوی او پخوا له دی یې د چای دچښلو پرځای تروې (شړوسبې) او شودې چښلی، اوس هم ډیر پښتانه چای نه چښي، څه وخت چې د چای د چښلو رواج په دوی کې پیدا شو ورسره سم ځای په ځای دافکر منځ ته راغی :

دچای دچښلو په وخت کې و ینو چې پیالې ته دچای جوش او چا ینک دچښکورې څخه دچای شمه (کوچنی کوچنی ذری ، خلي) او خسنی راتو یږي، کله کله په دې وړو وړو ذرو کې یوه نیمه په پیاله اودچای په منځ کې نیغه او عمودي در یږي. داحال دوی داسې تعبیروي. «که خدای کول

زمونږ مسافر به له سفر نه بیرته کاله ته راورسیږی ،دا شان په پیاله کی دشمی دریدل د میلمه دراتګ نښه ګڼی اووایی کوم میلمه به راشی .» پښتانه چې دمیلمه‌سره مینه‌لري،نوله‌دی کبله‌وایې«میلمه‌مونږ ته‌برکت‌دځان‌سره راوړي »

۴-دستر ګور پیدل:

دانسان سترګی دځینو سرضمونو اوعلتو نوپه مقابل کښی رپیږي ،د سترګو رپیدل دکلیو او با ندو په خلکو کی ډیر په زړه‌پورې او غوره فال ګڼل کیږی ، ددوی دعقیدی له مخی په دې کې هم دمسافر اومیلمه د راتګ مفهوم پروت دی .

دکلیو او باندو په خوار او لس کښی دسترګې رپیدل داسی تعبیر یږی:

« دچاچې ښی سترګه ورپیږی دمسافر د خیر او رو غتیا مفهوم لري‌اوکه کینه سترګه ورپیږي‌دپردیس‌دبدی ، خپګان‌اوزیا نامفهوم‌ذهن اوفکر ته رسوي »

دباندو خلك دښی‌سترګې په‌رپیدو باندې خوشالیږي او هغه‌ځانته نیك فال‌ګڼی او خپل زړونه پرې ډاډه‌کوي. داشان‌دهغه‌خبر او زیري په‌معنی کارورځنی اخلی‌چې‌ددوی‌دلارویې‌سفراوتګ‌به‌په‌خیر ،خوښی،خوشالی او ارامی‌سره‌ترسره کیږي .

ددې‌حقیقت دخرګندولې دپاره‌مونږ په‌کلیو او باندو کې ډځینو‌سپین سرو

ښځو نه پوښتنه وکړه چې دستر ګي ر پیدل دمسافر د راتګ او دهغه دخوشالۍ سره څه اړه لري، دوی وویل زویکه! ته نه پوهیږې، مونږ په دې کار کې ښې بلدې یو او داسې اصطلاح یې راوړه: (مونږ خپله چاړه په خپله وینو.) له دې ټکې نه سړی داسې قیاس کولای شي چې ولسي خلك د خپلو عقیدو پربنا اوباور له مخې خپل شراوګټه دفال او کړنو په واسطه سره سنجوي او معلومو ي يې.

که دوی په زړو کې څه شك پیدا شي بیا د کلي ملا اواخوندته ورځې هغه ته وایي فال نامه راواخله زمابخت او تالع وګوره چې څنګه دي، زمونږ دمسافر طالع او بخت هم وګوره چې خوشاله دی او که نه؟..... اخوند ته که دچرګ او پیسو غوړه شکرانه ومنل شي دا کار په ډیره مینه کوي ستا اوستا سود مسافر طالعې بختوري اونیك بختي اوبخت سوپه برخه دی، که شکرانه نه وي نو د خوښۍ اوخوشالی پرځای دبدی او زیان خبرې کوي...

زمایه نظر فالونه په پښتنو او کلیوالو خلکو کې دزړه دآرام او تسل دپاره منځ ته راغلی بله کومه عملی اوعلمی ولې اوخوانه لرې. داچې دولس مال دي مونږ يې لمانځنه کوو.

۵-دږ ګ ګړی (منګی) مفهوم:

د کر کو او انګیر نو په برخه کې دخالی او تش ګړی په باب څه وویل شول او داخر ګنده شوه چې پښتانه دسفر او تګ په وخت کښې د تش منګي نه چې په مخه وروړل شي کر که کوي اولیدل يې بدبولي، مګر دد ې په خلاف کله چې کوم مسافر دخپل سفر او تګ په وخت کښې ډك ګړی وو ینې او په مخه يې کومه پښتنه پیغله او میرمن وروړي ډیر خوشالیږي، ډډیرې خوښۍ او خوشالی

نه‌ددې پېښې په‌لید لوسره په‌خپلو جامو کښې نه‌ځایږي. دا‌ځکه ددې پېښې په‌لیدو سره هغه‌ته دزړه ه‌ارام او ډاډ پیدا کیږي او دا‌دځان اوسفر دپاره‌نیک فال ګڼي.

ما‌ددې ټولو نې او ولسی شتمنی درابرسیره کولو وخت کې دکلیو او باندو میرمنو اوسړیو ته وویل:«زه په‌دې‌باور نه‌لرم ، چې‌دتش‌ګړی په‌لیدو سره دیوه تن‌سفر خراپ او زیانمن‌شی او په‌مقابل کې‌یې‌دې‌ډک‌ګړي په‌لیدو دیوه کس‌سفر خوشاله اوګټور وي،دوی‌په‌ځواب کښې‌داسی وویل:

«ورور‌ه! ته‌دار اسره منی‌چې‌خالی‌او تش‌شی هیڅاته خوند نه‌ورکوي‌او نه څه‌مفهوم لري، بلکه‌له‌خالی ځایه‌خلك بدوړي، داسمال یې‌داسې خرګندکړ تاولې نن په‌بیدیااو ډاګ کې‌شپه نه‌کړ ه،هغه خالی‌و،زمونږ کلی‌ته‌چې‌دخلکو نه‌ډك‌اوابادد‌ی‌ولې‌راغلې؟او دایې‌هم‌زیاته کړه،هغه لویدلې خونې‌چې اوس څوك‌نه‌پکې اوسیږي‌ولې هلته‌ورنغلې اوشپه‌دې پکښې‌ونه‌کړه، دا‌ځکه چې‌خالی اوتشی‌وې.داچې‌ته‌په‌ښار کښې لوی‌شوی‌یې،ولی دښارنه بیدیاپه یوه ډاګ کې‌نه‌اوسیږي، هلته څوك نشته، ښارچې دخلکو اوشیانو نه‌پوره ډك‌دی‌پکې‌اوسیږي،دتش‌شی‌نه‌کومه ګټه‌لاسته‌نه‌رسیږي،مسافرچې‌دسفرڅپلی دګټې‌اوخوشالی‌په‌غرض په‌پښو کړي، په‌دې‌وخت کې‌که په‌خپل مخ کښې‌تش‌اوخالی شیوو ینی نوکر که ورته‌دریږي، که‌داسی‌یوشی وو ینی چې‌هغه ډك‌وي‌پرې خوشالیږی، لنډه‌داچې‌کوم شی‌چې‌مونږ ته‌په‌زړه کې

ښه معلو میږي ښه یې ګڼو او په هغه سو نږ نیك او بختو ر فال نیسو ، کو م شی چې سو نږ ته په زړه کی خوند را نکړی او بد سوتری راشی د هغه نه کرکه راته پیدا کیږي اوله دی کبله په زړه کې بدراته معلو میږی او انګیر نه خنی کوو ...

کوم شیان چې لا روی او مسافر یی دتګ او سفر په وخت کې وو یني او هغه ده په فکر بدو ی کر که و ر ته در یږي او په لا ر او سفر کې ډیر چو ر تو نه او تشو یش و ر سره مل کیږي او په روح باندې یې ناوړه اثر کوي، امکان شت چې روحی نا رو غې و ر ته پیداشي، که ښه شی و و یني خو شالیږي او هر خه یې و ر سره تازه کیږي او په خو ښی سره سفر کوي او بیر ته رو غ رسټ دګټې و تې سره راګر ځی.

٦-د ټکری (پو ړ نی) پیښه پر مخ را تلل :

پښتني میر منې په کو ر او بیدیا کې ټکری (پو ړ نی) په سر وي او لوڅ سر نه ګر ځي ا و نه لوڅ سر کښیني، لوڅ سر ګر ځیدل شر م او عیب بو لي ، دا ښه د کلیو او باند و په خلکو کې ډیر ه غښتلې اوقوي ده، د ټکر ي جامه د مستطیل شکل لري او د پنځو اوڅلو ر نیمو متر و ګلدار و اوبې ګلو ساده رخت او ټو کر نه جو ړیږي . په کلیو او باند و کې پښتنی ښځې ' وی پو ړ نې پر سر کوي او که نابیره د پر سر کید و و خت کې چې د ښځې و ر ته پام نه وي یوه خوا یې مخ ښکته و ښو یږي او بله خوا یې سر ته را پو ر ته شي او د میر منې پر مخ داد ټکر ي پیښه (پیښکه) و لګیږي او مقابله خوا یې د ر نده شي نو ناڅاپه د کاله ښځو ته مخ و ر اړوي په داسې حال کې چې د خو شالی نه ییا ټکری پر سر سموي و ایي:

«دتکري پيغه‌مې پرمخ راغله که‌خدای کول‌نن به‌دی(۱) راشی.» د کالـه‌مښې ورته‌خاندي‌اوورته‌وايي«سترګې‌دی‌روښانه! شکردی که پلانکی راشی سونبربه‌پرې خوشـاله‌شو،دادمسافر دراتګ‌زیری‌دی. »

دتکري‌دپيغې راتلل‌او راښوئيدل پرمخ باندې دمسافر اولاروي‌دراتګ معنی لري، په‌دې‌حال اوعمل سره‌دوی فال نیسی‌او په زړه‌پورې ډاډګیرنه او خوشالونکی زیري يې‌ګڼی ...

۷- په نغری کی دمړې سکروټی در یدل:

ډېر پښتانه په‌يوه کوټه کې خپلې‌خواريې‌شپې سباکوي،دوی‌دخپلو کوټو په‌منځ کې‌د کوټې‌پر غولی او کونجو کې داو رنغري لري، دوی‌دنغري دپاسه‌ډوډۍ پخوي‌اونورې‌ضرورياړ تیاوې‌هم‌پرې‌سرته‌رسوی، کله‌چې‌په‌نغری کی اوربل کړي او خپل پخلی پرې‌وکړي.وروسته له‌ضرورت نه‌کله چې‌په نغری کی‌لړګی‌وسوځی‌او ورسره شی ،دادانګارسکروټې هم‌ورسره سري که په‌دې‌انګار کې کومه‌سکروټه‌مخ‌نیغه‌عمودي‌ولاړه‌وي،او دکاله دغړ یونه‌داور دیابلولوخت کې‌دچاورته پام‌شی‌ډېر خوشالیږي او دخپلی امی‌عقیدې‌پر بناد کهولنورو خپلوخپلوانوته وايي«په‌نغري کې‌سکروټه‌مخ‌نیغه ولاړه‌ده خامخا به‌نن‌زمونږ لاروی او مسافر کورته‌راشی.

(۱): پښتنه‌میرمن‌خپل‌میړه‌ته‌نوم‌نه‌اخلي‌او پرځای‌يې‌دده‌او دی‌ضمیر ونه‌راوړي

په‌دې‌ډول سړه ويښوچې په‌نغري کې‌دسکر وتې دريدل دمسافر او ميلمه‌دراتګ مفهوم لري .

٨-دمنګور(مار)ليدل اووژل :

کوم لاروی‌او مسافر چې‌دسفرپه‌نيت روان‌شي او په‌لار کې نابيره منګور په‌سخه‌وړشي او هغه‌وينې ډير ښه‌يې بولي‌او پرې خوشا ليږي، که لاروی په‌دې‌برياليشي‌چې‌منګور مړکړي‌نو‌ډيرې‌خوښي‌او خوشالي‌نه سخکه‌ځای‌هم‌نه ورکوي ،او وايي: «تولې مشکلې راته‌آسانې شوې» دمارو‌ژل اولېدل ددوی دعقيدې له‌مخې په‌زړه پورې خوشالونکی فال دی‌او وايي‌سفر بالکل بې‌خطره دی، په‌ډاډه زړه‌خپل سفرته‌دوام‌ورکوي، په‌دې‌باره کې‌دوی‌داسې‌ژبنی اصطلاح‌لري «ښه‌وشول دښمن‌سوليداو‌مړسو کړ .»

٩-د پسه يا‌وز‌ګوډې‌زګيروی :

دطبيعي ميل اودژوند داحتياج او کار کولو له‌مخې‌هر‌څوک‌غواړي‌چې مال اودولت يې ډير‌او زيات شي،هر‌څوک‌هره شتمنی اووظيفه چې‌لري دهغې‌پر مخ‌بولو کې کوښښ‌کوي، کليوال اوبانډوال خلک‌دخپلو‌رسو اومالونو‌سره مينه لري، ځنګه‌چې ددوی ژوند په‌غرونو کې‌دی،دخپلو مالو اورسو په‌ډيرولو کې ښه‌ستونځه په ځان‌ګالي ،که‌چيرې‌په‌کومه‌رمه کې‌کوم پسه فريادوکړي بختوريی بولي‌او په‌زړه‌پورې‌فال‌يې‌ګڼي‌او ددوی د عقيدې له‌مخې د اسې تعبيريږي:« که‌خدای کول‌مال اودولت به‌مې

بختور او بر یالی بولي نو ځکه دده زیږیدنه نیك فال ګڼی.» که په دې هلك پسې په کور کې جلکی پیداشی دا پښه بده بولی اووایی: «دا هلك نیسمتن تنده یی لغړه اوبدلمنی دی، ځکه دده نه ورسته په کور کې ښځینه اولاد پیدا شو.»

داشان په کلي کی که دچا زوی پیداشو د کلی نورې کورنی دهغه په زیږیدو او پیدا کیدو باندې ځانته فال نیسی، داپه دې معنی په کو موکور ونو کې چې ښځې حاملې وي هغه وایي: «د پلانکی زوی پیداشوسونږ دهغه تنې ته ګورو چې په سونږ کې هلکان پیدا کیږي او که نه؟ که دد هلك نه ورسته د کلی دحاملو (په یمینډ) ښځوزامن په برخه شول نودادلومړي هلك زوکړه ځانته نیك فال شمیري، که د کلی دحاملو ښځو لونه او جلکی په برخه شوې دهغه هلك دزیږیدونه ورته کر که پیدا کیږي.» په دې باب کوم متل، لنډی او نظم دوی کې رواج نه لري بلکه هغه ژبنی خبرې ښځې سره کوي چې پورته ګوته ورته ونیول شوه.

١٥- د پیالـو قطار یدل:

دچای دچښلو په وخت کـې که پیالې اوګیلاسونه قطار او په یوه کیله ایښودل شوي وي او د کورنی غړي یې وګوري وایی: «یو درنګ ورسته به سیلمه اولاروی راشی.» دګیلاسونو قطار یدل د سیلمه دراتګ زېرې ګڼی.

١٦- د کوچنی سرایښودل:

کوچنی ماشوم چې سر کیږدي وایي سیلمه راځی، داپه دې معنی: «ماشوم سرایږدي لارګوري، او یو درنګ ورسته به سیلمه اومسافر راشی.»

آبادۍ نيك فال ګڼي او داتاسو (پيړو) په کندو کې يې دبر کت د پاره ساتي. په دې برخه کې کوم متل، نظم او لنډۍ نه ليدل کيږي بلکه دومره وايي: « چې دچرګ هګۍ برکت لري او دولت سړۍ ده»

۱۳ - کورته د ناوې راتګ:

په کليو کې دچا کورته چې نوې ناوې دلومړي ځل د پاره راوا ده شي د کاله مشرې سيرمنې او خوانې يې دهغې په راتګ سره کورته فال نيسي، که دناوې دراتلو نه وروسته دناوې خسرګڼ ابا ده شي او په کور کې رنځوري پيدا نشي نو وايي دناوې تنده راپسې ببره شوه داسې عقيده په دې باب دوی کې شته اودامتل وايي «بخت يا په کو ځي دی يا په پټې دی.» يعنی که د ناوې پل پسې په ښه لار شي کورنۍ دنيا داره کيږي او نرسيږ و نه پکې ډير يږي، برعکس که په کومه کورنۍ کې دناوې دراوړو نه وروسته رنځوري او تاوان پيدا شي وايي: «تنده يې سپيره او کوځي يې لغړه ده دراتلو سره يې سونږ سپيره او لغړ کړو.» په دې توګه وينو چې دکليو او بانډو خلك کورونو ته د ناوې په ورننو تلو سره فال نيسي. په دې باره کې کوم متل اولنډۍ نشته بلکه هغه ژ بنی خبرې اومتل کوی چې ورته اشاره وشوه.

۱۴ - دهلـك زوکړه:

په کوم کورکې چې دچا زوی پيدا شي، کورنۍ يې دزيږ د وسره فال نيسي او وايي: «که په دې هلك پسې نور هلکان کورکې پيدا شول، دی

دویم څپرکی

دودونـــه

دپکتیاولایت اوسیدونکی د اجتماع اوټولنې له مخې څخه ولسونه دي چې د تاریخ په پوړیو کې راغونډشوي دي او یو تر بله دوړ ورګلوی په نیکه ګاکې ژوند کوي . اجتماعی مشخصات دپکتیا دولایت په خلکو کې دنورو پښتنو کامونو په غیر فوق العاده غوړه توب لري، ددوی ټول اجتماعی دودونه او کړه وړه دنورو پښتنو کامونو په شان دي، سره له دې هم هم یو ډول دي ولایت دخلکو په تیره دمنګلو په دودونو او عنعنو باندې لږ څه څخلند نظر اچوو .

۱۷-د کوچنۍ جارو کول:

کوچنی هلك چې ریښۍ او جارو په لاس کې واخلی او د کور غولی په جارو وو هی و ایی چې میله او مسافر راځی، په دې برخه کې کوم نظم نه لیدل کیږي.

۱۸ - دلور پیدا کیدل:

په کـور کې چې دلو سړی ځل د پاره د چالور پیداشی وایی: «ورنه ده یعنی بختور ه ده» او داسې عقیده لري چې نر اولاد ور پسې د ې بر یري که څه هم داعقیده دوسره عام والی نه لري...



دچامشروع اومسلم حق غصب اووخوړلشي، نوددې پښې دهوارولو دپاره دکام اوقبايلو دمشرانو اوپوهوخلکوجرګه جوړيږي، ددې پښې شوې پښې کړه وړه جرګې ته څرګندیږي اودپريکړې دپاره غوروراندې کوي . جرګه ترهرڅه دمخه داخلی اوکورنی نظم اوروغه په نظر کښې نيسي اووروسته له هغې په سربو طه او خاصه پښه باندې بخت ته دوام ورکوي. دهېواد دتاريخ پاڼو سونږ ته څرګنده کړي او راښودلې ده چې د پښتنو جرګواو کاسې غونډو دتل دپاره دبيګاناګانو ظلم غندلی دی، دمثال په ډول حاجی مير ويس نيکه ددغو کاسی جرګو اوغونډو په واسطه اومرسته وکولای شول چې ګورګين اودهغه ملاتړ ملګرې له منځ نه لرې کړي. داشان دشير سرخ جرګې ديوزعيم دتاکلو دپاره دلوی احمدشاه بابا په دوران کښې يوفعال رول د افغانستان په داخلی اوخارجی سياست کښې ولوباوه.

پښتانه دجرګو اوجرګه ګيو فيصلو اوپريکړوته داحترام اودرنښت په پسترګه ګورې اودهغو دجوړيدو دپاره دسراومال سره حاضر يږی، په حقيقت کښې داجرګې دقوم دپاره دقانون بنه لرې څوکچې ددغو فيصلو په برخه کښې دځان نه کوم عکس العمل وښيي نو په حقيقت دده داعمل لوی جرم دی چې بيادبښلو وړنه ګڼل کيږي، په دا سې ترڅ کې قبايل اوقامي مشران داسې سړي په نغدو اومالی تاوان سره ناغه کوي، اوحتی کله، کله په داسې حال کښې دمجرم او تيرې کوونکی کورته اوراچول کيږی اوسوځي بې، داډول اقدا مونه يوازې

که ځیر شو دیو ډ قبیلې دو دا و دستور، دبلې قبیلې له دو داود ستو ر نه تو پیر او تغییر پیدا کوي. خو ددې سره سره د پکتیا ولایت ولسی دودونه سره شریک دي. و ا ړه و ا ړه تو پیر و نه یې دو سره دیادو نې و ړ نه ګډل کیږي چې ددو ی عمو سی حال کمز و ر ی او متاثر کړي.

ددو ی دو ینې ګډو الی او شر کت سو نږ ته د هغو ی دمینې، د وستی او تړو انیز و ا ړ یکو د ټینګیدو نتیجه په لا س راکو ی. ددو ی تر سنځ اجتماعی ا ړ یکي دنو ر و پښتنو کامو نو په ځیر نږ دې دي او سو نږ یې بیل بیل دودونه تر کتنې لاندې نیسو. په دغو دو دو نو کی سر که، جر ګه، نواتی، بر سته. .... او نو ر شامل دی چې په و ر و سته ډول ځیر ل کیږي. (۱)

۱- جر ګه:

دلو یدیز او ختیز پښتانه د جر ګې دو د ته په د رنده ستر ګه ګو ري، جر ګه د پښتو نخو اد ولسو نو لر غو نې او پخو انی عنعنه ده چې تر نن پو ري په هماغه قوت سره دقبایلو کامو نو تر منځ ر واج لري، دجر ګې ګټه دخوا ر انو د پاره دخو را ا همیت و ړ ده، په دې معنی کله چې دتیر ې کو و نکو او متجاو ز ینو له خوا

---

(۱)—دمړه، جماعت، و اده، نر خو نو، ار بکیو، ژ ر ندې، کار یز .....او ځینې نو ر اجتماعی دو دو نه به په ټولو کی د پکتیا ولایت دولسی ادب، لاسی صنعت، خاو ر ینولوبنو، ماشومانو ادب او د پیسول سره یوځای د فولکلو ر مینوته و ړ اندی شي.

دچاسشروع اومسلم حق غصب اووخوړلشي، نوددې پښې د هوارولو دپاره د کام او قبایلو دسشرانو او پوهوخلکوجرګه جوړیري، ددې پښې شوې پښې کړه وړه جرګې ته خرګندیري اودپریکړې دپاره غوروړاندې کوي. جرګه ترهرځه دمخه داخلی او کورنی نظم اوروغه په نظر کښې نیسي اوورسته له هغې په سربو طه او خاصه پښه باندې بخت ته دوام ورکوي. دهېواد دتاریخ پاڼو سونږ ته خرګنده کړي او راښودلې ده چې د پښتنو جرګواو کاسې غونډو دتل دپاره دبیګانا ګانو ظلم غندلی دی، دمثال په ډول حاجی میرویس نیکه ددغو کاسی جرګو او غونډو په واسطه او مرسته وکولای شول چې ګورګین او دهغه ملاتړ ملګري له منځ نه لري کړی. داشان دشیرسرخ جرګې دیوزعیم دتاکلو دپاره دلوی احمدشاه بابا په دوران کښې یو فعال رول د افغانستان په داخلی او خارجی سیاست کښې ولوباوه.

پښتانه دجرګو او جرګه ګیو فیصلو او پریکړو ته داحترام او درنښت په پسترګه ګوري او دهغو دجوړیدو دپاره دسر او مال سره حاضر یږی، په حقیقت کښې داجرګې دقوم دپاره دقانون بنه لري خوک چې ددغو فیصلو په برخه کښې دځان نه کوم عکس العمل وښیي نو په حقیقت دده داعمل لوی جرم دی چې بیادبنلو وړنه ګڼل کیږي، په دا سې ترځ کې قبایل اوقامې مشران داسې سړي په نغدو او مالی تاوان سره ناغه کوي، اوحتی کله، کله په داسې حال کښې دمجرم او تیرې کوونکی کورته او راچول کیږی او سوځی ېې، داډول اقدا مونه یوازې

د جرګې داحکاسو او پریکړو دسلګرتیا او زور دپاره کیږي ، ترڅو چې قبایل دباندینیو اوننیو پیښو ترتیب ، نظم او برابر والی سم وکړي ، جرګې دهېوادد تاریخ په اوږدو کې ییلې یيلې راغلې او پوره مننه ئې شوی ده...

د پکتیا په ولایت کښې ټولې پیښې ، جنګونه او خونړی شخړې دیيلو یيلو ولسونو ترمنځ دجرګې پواسطه سره پریکړه او فیصله کیږي او وروسته له هغې دروغې او جوړې ښه غوره کوي، بې له دې نه په لویو معاملو کښې بله چاره دولس ترمنځ نه ایدل کیږي جرګه دیولوی کام او څوکاسونو ترمنځ جوړیږي او د سرکې نه یې ښه درنده او غوره ده، داپه دې معنی چې سرکه دخوتنو کورنیو، کلیو او کې لمپه منځ کې هم جوړیږي ، نوځکه جرګه ترسرکې لویه او درنده ده.

۲-سرکه :

سونږ دمخه وویل چې جرګې دکاسونو ترمنځ یودبله سره دروغې اوجوړې دپاره یوسهم او غوره نقش لوبوي . سرکه ترجرګې وروسته په پکتیا کې غوره او په زړه پورې دارزښت نه لرلک مقام لري، دغه ډول غونډه هغه وخت جوړیږي چې ددوو کورنیو ، کلیو ، پلرینو او ولسونو ترمنځ کومه پیښه پیدا شي، ددې پیښې دپریکړې او فیصلې دپاره دسرکې جوړیدل ضروري او حتمي کار دی.

کله چې سرکه جوړه شي، نو هغه بدي او دښمنی چې ددوو قبیلو ، کلیو او کورنیو ترمنځ پیښه شوې وي «دسره، ښځې تښتول، سپږوني، کونډې، په مال تیری ستې (میراتی) اونورې...» داپیښې دجرګې اوسرکې په واسطه هواریږی . که چېرې

په‌داسی‌حال‌کښی‌جرګه‌جوړه نشی‌نودغه پېښی‌کله دلویو بد یو او کامونو دبربادی سبب‌ګرزي‌اوګرځیدلې دي.

څه‌وخت‌چې‌دوه تنه په‌یوه‌پېښه‌سره جوړ نشی، ددې‌لانجی او پېښی دروغی دپاره‌څو تنه د ولس‌مشران ،سپین‌ږیري، پوه‌او ژب غړوند کسان‌ددواړو تنو دخوانه‌دجرګې‌اومرکی دپاره‌را غوښتل کیږي‌او د غوخلکو ته مرکچیان (جرګه‌ساز)ویل کیږي.

کنه‌چه‌مرکه جوړه‌شی،دمعاملې‌دفیصلې‌دپاره‌ورځې،شپې،ګړی او میاشتی یو تر بله غونډې‌اوبحثونه‌سره کوي،څوچې‌جرګه‌اومرکه‌داپېښه‌په‌ښه توګه حل اوددواړو خواوونه ددوی‌فیصله‌ومنل‌شی،دمعاملې ترحل‌پورې د جرګه مارانواومرکچیانو‌ډوډی،دناستې‌ولاړې ځای ،چای، چلم اونورې ضروړې اړتیاوی دمدعیانو(مدیانو)له‌خوا په خورادرنښت ترسره کیږي .

څه‌وخت‌چې‌مرکچیان‌دجرګې‌اومرکی(لیاری)دپاره‌مسره کښینی‌نو په‌دې‌وخت‌کې دواړه مدعیان لومړی باید دمعاملې په‌باب خبرې‌وکړي، دوی‌په « اصطلاح دواړه مدعیان باید مرکی‌ته‌خوله‌وښوروی.»څوچې ددوی‌په‌معامله‌ښه‌خبرشی کله‌چې مرکچیان ددوی‌خبرې واوري‌بیا نویو دبله سره په‌معامله خبرې کوي ، کله‌چې‌موضوع حل‌اوفیصلې‌ته‌سره نیږدې‌کړي نوبیا دواړه‌مدعیان را غواړي دهغونه واک اخلی اومرکچیان دمعاملې فیصله چې پریکړه‌بې‌پرې کړې‌ده مدعیانو ته‌اوروي‌که دمدعیانو لپاره دښلوی او قناعت پرې

و کړي سر که ختميږي او د دواړو خواوو نه سر کچيا نو او جرگـــه مارا نو ته خلات ورکوی . خلات ددی لپاره و رکوی چې يا د واړه تنـــه د جرګې د پاسه بله سر که رانه ولي ،ځکه د اسعا سله ختمه شوه او خلات پر ي وويشل شو. که مدعيان قناعت ونه کړي نو بله سر که يې په سر راغواړي.....لنډه داچې دا پيښه دوی دسر کې پواسطه سره جوړوي .

دمدعيانو ترمنځ جرګه د يوې حاکمی قوې حيثيت لري ، دد وو پلرينو ، کاسو نو ، کليو او تو ربو را نو ترمنځ چې سر کچيان سر که کوي د مدعيانو ګډون دسر کې په غونډه کې نشته او په سر که کی په څرګنده ډول نشی کښيناستی . کله کله په پټه د سر کې د حال نه ځا نونه خبروي. د وی ځکه دخبرو حق نلري چې ددواړو خواواعتباري جرګه مارا ن (سر کچيان) په جرګه کی ګډون لري او هم په لوړي سر کې سر کچيا ن د هغوی نه واك اخلی، څه وخت چې سر کچيان معامله اوسر که دد واړو خواوو په ګډه ختمه کړي هغه به سني . د پکتيا د خلکو جرګه په برابری او عدالت سره پريکړې کوي . کيږه خبره او کوږه نرخ نه سنل کيږي .

سر که د يوی پيښې دحل لپاره ډير ارزښت لري ، دا فرق نه کوي که موضوع و ړه وي او يا غټه حل يې په جرګه کوونکو او سر کچيانو پورې اړه لري کله چې د سر کې د روغې له مخې دوه تنه مدعيان سره جوړشي يود بله سره پخلا کيږي او يود بل د عزت لپاره کورو

نو ته سره ځی او پخوا نی رخه (کینه) د زړو نو څخه وباسی .

۳-ددوو تیرو (ډبرو) ټکول:

پښتانه او د پکتیا کا سونه چې په یوه غوره مسئله او پیښه باندې خبرې سره کوي او جرګه ورباندې جوړوي . دجرګې ځای په یوه لوی میدان او هوارځای کې تاکل کیږي ، مخوراو مشران په پیښه باندې وار په وار د خبرو کولو چانس (وار)ا خلی. په داسې لویو جرګو کې چه د بیلو بیلو کاسونو او قبیلو مشران او نماینده ګان ګډون کوي او د لویې غونډې بڼه لري ، خلک په کښې ډیر راټولیږي ، یو تر بله سره نه پیژنی مګر بیاهم د چا په سیمه کې چې سر که جوړه وی هغه د غونډې دخلکو پو ره پوره عزت او خدمت کوي . مشران او پوهان د جرګې ښه او بد او د معاملې ټول اړخونه سنجوي او د وخت په پیدا کید و سره خپل انتقادونه او نظریات جرګې ته وړاندې کوي . که چیرې په دې حساس وخت کې کوم ناپوه تن نابیره ډبره په بله ووهی او سره ویې ټکوي د ټولو نا ستو کسا نو پام دې خوا ته اوړي په دې وخت کی که څوک داسې خبرې ونه کړي چې غوږ مه ورته نیسی کوم تن به تیره سره وهلې وي او چروت کې به ډوب وي ، غوږ مه پرې ټړیء داخبره پریږدیء، په معامله باندې ځا نونه سره پوه کړی ، مه پسې ګرزیء که داسې خبرې د یو پوه له خوا ونه ویل شی نو دهر کام خلک چې یو

د بله دښمنۍ لپاره ناستي وي د جنګ او دفاع لپاره ځانونه چمتو کوي او خبره خطرناکه کیږي .

په داسی حالاتو کې د ډیر بدکار او ناوړه عمل دی اوحتی د دې احتمال شته چې په جزوي او وړه شیانو باندې لویه جګړه جوړه شي. د داسی بې ځایه بدعمل او ډیر بوټکولونه دیلو بیلو قبیلو ترمنځ اشتباه پیدا کیږي او یو بل ته سره ځګ کیږي ،ددغه اشتباه په ترڅ کې دجګړې پېښیدل دوړو خو او وتهناوړه او ناخاپي زیانونه رسوي .

۴ـ پور:

د پور اصلی معنا قرض دی مګر د پکتیا په ولایت او یاپه ځینو نورو پښتنو کې د تاوان په معنی راځی او د بدی او کومې ګوډې ماتې په وخت کی د کورنیو تر منځ رواج لري. پور او تاوان هغه وخت ورکول کیږي چې د کورنۍ له غړیو څخه یوتن څوک ګوډ، ړوند ،ژوبل او مړ کړي ، پهدې برخه کی پور د موضوع په ارزښت ، دپښې په لږوالی او ډیروالی پورې اړه لري .

دپور ورکړه دمال ، نغدو پیسو او کوچنیو جینکونه نیولی په هرڅه چې سره جوړ شول ورکول کیږي او د سرکه کوونکو د پرېکړې له مخې د نرخ سره سم پورورته ټرل کیږي ، او په دی توګه منځ ته راغلی معامله خلاصوي .

پورو رکونکی سړی تیری کوونکی وي اووروسته د ده دګناه دمعلومیدونه د پورو رکړه پهده باندې منل کیږي اوغاړه ورته ایږدی. داډول جزاچې دکلیو اوکورنیو ترمنځ په ظالم باندې منـــل کیږي د نورو را تلونکو پښتو د مخنیوي لپاره دي خـوچې بیاخوك داسې کارته‌لاس‌وا نه چوي ...

۵ – ننواتي:

ننواتی دپکتیاولایت دخلکو ډېره پهزړه پورې عنعنه ده اوپه ډیرو اجتماعی‌اوټولنیزو معاملوکې ورځخه استفاده کوي ،دمثاله پهتوګـــه که چېرې د دووتنو ترمنځ خبرې وشی اوخبرې جدي بڼه غوره‌کړي اوترمنځ یې خپګان پیدا شی او یوپه بل با ندې تیری وکړي ، یا ددووکورنیوتومنځ له یوه کورنی‌په بله با ندې تیری اوتجاوزوکړي ، په دې صورت کې تیری کوونکی اوکبرجنه متجاوزه کورنی د خپل ګناه‌دعفوې اوښلو دپاره دکلی‌خوتنه‌سپین ږیری‌دڅه‌ناغی‌سره د هغه کورته‌د ننواتی پهشکل ورولی اودوی هم ورسره ورځی ، مخامخ کورنی‌دکلی‌د سپین ږیریو داحترام له مخې تیري کوونکی ښې اوددوی دګناه‌نه تیریږی پهدې‌کورکی ټولوخلکوته سړی پخیږي اوپه دې ډول تیري کوونکی‌د هغوی داحترام دپاره په ننواتی ورځی ددوی ګناه‌ښښل کیږی او پخوانی‌رخه اوکینه په دې ډول ددوی ترمنځ ورکیږي اوځانونه یودبل په غم او

خوشالي شريك بولي او دکلي د مشرانو ډيره ډيره منه کوي ، په دې دود کې ملايان غوره مقام لري او کليوال يې احترام کوي او دهغوخبرو ته غوږنيسي تر بګن دخپل ملادخير خبرې مني .

۶- بدرګه:

بدرګه دپکتيا ولايت دتوريالي او سپږنيو کامونو ډېره لرغوني او پخواني عنعنه ده چې دنورو پښتنو کامونو په شان يې اوس هم په هماغه لرغو نې بڼه تر سره کوي . کوم کس او کورنۍ چې چاته په بدرګه ورشي او ورته ووايي په پلانکي ځای کې زمونږدښمنان دي. مونږ په سراومال ډاريږو ترهغه ځايه پورې له مونږسره ملي وتړيء او راسره ولاړشيء څوچې دستاسو په بدرګه خپل هدف ته ځانونه ورسوو . کليوال دراغليو خلکوسره سمد ستي دبدرګې دپاره ملاتړي او ترکومه ځايه پورې چې ددوی خوښه وي ورسره ځي، داملاتړ د چاسره دډار،بدې اوويرې په وخت کې دبدرګې په نوم يادېږي .

۷-دپلواو پوړنۍ غوټه کول:

دا دود دپکتيا په خلکو کې څه چې په ټولو پښتنو کې ترسره کيږي ، که يوه کورنۍ دبلې کورنۍ په مقابل کې کمزورې اوخواره شي ،په دې صورت کې خوار اوعاجز دځان دګټې اوساتنې دپاره يوې بلې زورې وړې کورنۍ ته پناور وړې خوچې مرسته ورسره وکړي، داعنعنه هلته

منځ ته راځي چې د کمزوري کورنۍ ښځه د زور وري کورنۍ کورته ورشي او دزو روري کورنۍ دیوې ښځې د پورې نۍ او پلو پیځه (پیځکه) غوټه کړي ، که دټکرۍ پیځه نه وي دخت لمنې غوټه کوی او دا ددې معنۍ لري چې سونږ په تاسو ځانو نه وسپارل یعنۍ سونږ تاسو ته د پناه د پاره راغلو ، په دې کار چې د کورنۍ نران او مشران خبرشی ، د دې سړي او کورنۍ په ملاتړ درپېري اودتیري کوونکۍ په مقابل کې دریځ غوره کوی . دا ټولنیز دود له نورو دودونو څخه د قدرو ړ دی ، دا ځکه په دې دود کې د خوار او غریب په پلو کیدل په حقیقت کې د هغه لاس نیول او کومک ورسره کول دی د هر افغان او پښتون وظیفه ده چې د خوارو سره مرسته وکړي ....

۸- برمته:

دا د و د د پکتیا په کامو نو کې تل ددووتنو مدعیانو ترمنځ چې د مرکې پواسطه سره جوړ شوی نه وي ترسره کیږي ، دا په دې ډول اوښه رواج لري : کله چې دوه تنه مد عیان د مشرانو په پریکړه باندې قناعت ونه کړي او هغه څه چې دد واړو خواونه د ضمانت په توګه اخیستل شوي وي تر هغه پورې نه ورکوي څو چې دواړه تسلیم اود مرکې فیصلی ته یې غاړه اینې نه وي ، په پکتیا کې ټوپک د برمتې په توګه اخیستل کیږي . مرکچیان د برمتې مال او ټوپک

دد ریم په غولي یعنی دریم ګړي ته ورکوي او هغه یی ساتی . کله چی دواړه تنه پریکړه ومنی او د سړکي پریکړې ته غاړه کیږدي ، برمته چی ددوی مال دی بیرته ورکوي .

د برمتی بله بڼه داده که یو کس د چا په مخ کی چې د بل تن پوره وړی وي څه ورکړي او هغه ورته ووایی که ده درنه کړه ماوګوره زه به یی درکړم ، که اصل تن مال بیرته ادا نه کړي او دا دریم نفر چې اصل پوروړي په مخ کی یې ضمانت کړي وی او د هغه د پورادایې منلې وه که د حق څښتن پیدا نه کړي داد ریم کس تر هغه پورې د ځان سره ساتی ، څوچی ددې مال یې ورکړی نه وی ، د اسړی د برمتی په نوم د ځان سره ساتی ، کله کله کلیوالو ته د پیغور په بڼه وایی د پلانی په مخ کی می پلانی په برمته کی ساتلی دی څوچی مال را نه وړی نه یی خوشی کوم . داډول برمته مشقت او تکلیف هم لری کله کله د سړی د خلاصون لپاره جنګونه پیښیږي او ددو و کلیو او پلرینو ترمنځ بدي او سړي واقع کیږي ، په دې توګه وینوچې وچ اولاندې یو ځای سره سوځی .

دريم څپرکی

کيسی (وښيه ، څه شی دی)

کيسی ياړونه چې په عربي او دري کې يې لغز او چستان بولی دولسې خلکو ذهني مسابقې په زړه پورې غوره لوبه ده ، د کليو او بانډو ځوانان دا لوبه اوساعت تيري په وزګار تياکې په خوراخوښی سره ترسره کوي.

دافولکلوري لوبه د کليو او بانډو ځوانانو ترمنځ ددوو سيالو ډلو له خوا دشرط په ايښودلو پيل او دشرط په ګټلو پای ته رسيږی. دافولکلوري ولسي لوبه دوې مخامخ سيالې ډلې چې يوه ډله کيسی اچوي او بله ډله يې ښيي او سر يې

و رماتوي (ځواب چې و رکړي و رته و ايي چې سر مې يې د رمات کړ ، بله و اچوه) يو ه ډله و ايي دا به خه شي وي ، بله ډله و ايي داده و ايې و رې ستا سو خه شي داد ي «.....».

په دې تو ګه د اولسي فولکلوري لو به په کليو او بانډو کې دځوانانو له خوا په کومه حجر ، ويجره (ديره) کې چې دشپې له خوا پيل شي ، د کيسيو په اچولو او ښو دلو سره دشپې دو روستي شو مې او سهار نږدې کيدو ته دخوب هر کلي و ايي.

کيسې دژبې يوه غوره او خونده وره فولکلوري پانګه ده، دا فولکلوري خزانه د خلکو په سينو کې خوندي ده، خه چې مار اتولې کړي دي په ډيره مينه يې دګرانو لوستونکو مخې ته ږدم، هيله ده چې نو رملګري به هم په دې بر خه که دخپلې سيمې کيسې راتول کړي او د پښتنو فولکلوري ګيډۍ به پرې بډايسته کړي.(۱)

۱ـ دا به څه وي او چا ته به معلوم وي:

يو واريې و اچوه .

بيا به يې نو و ښيو.

سمه ده و ايې و رې، هغه داچې :

«دجګ (لوړ) ځی (ځای) نه او به راتلپري (راتو يپري) ، کوزسر کی

---

(۱)— کيسې د خلکو په لهجه راتولې شوې دي او د دوی په ګډه و ډه لهجه هماغه شان په کليو اله بنه ښو دل او اچول يې ليکل شوي دي.

وس (آس) و رته خر پیږي »څو کټچې دسلګر و نه په‌دی کیسې خبر او پوه‌وي و رته وایی، دابه‌زه وښیم، سلګري‌و رته په‌خندابه‌کوي. که‌مې خدای غلطنه‌کړي داخو ژ رنده ده،ژ رندې ته‌کلیوال او به‌په‌لښتی کی راتړي جګ‌وتی‌و رته جوړ وي،دو تی‌نه تر ژ رندې پو ړې‌تری(ناوه) ورته‌اړو دي، په‌تری‌کی او به‌خو راتپزي ښکته دژ رندې لمخونی ته په ډبر قوت راتو ییږي، داوبوپه‌زور دژ رندې لوی‌لرګین څرخ‌تاو یږي د څرخ دتاو یدو و سره دژ رندې ډبرین پلونه ګرځی او غله پرې و ونل کیږي ، دلته د ژ رندې څرخ داس‌سره تشبیه شوی‌دی. د کیسی‌حل (دژ ر ندې څرخ او تری‌ده) .

۲-دا به څه شی و ی:

«یوه‌و لې (ریښه) یې‌تر سلو و لیو ختلې‌ده.»

ددې کیسې ځواب در و نداو سخت‌دی، دا په‌دې‌معنی‌چې‌یو ه و لې‌تر سلو و لیو ختل څه؟څنګه‌چې‌په‌کلیو او باندو کې خلك‌دسز ریو نه ځانته شکر و نه او کشر ي جوړ وي،دشکو ره‌پیل کېدل‌په‌یوه و له‌او ختمېدل یې‌په سلو و لونو باندې د کیسی‌سمه بنه‌په‌لاس راکوي .

۳- دا کیسی به چا ته ښکاره وی:

«تن‌ګوت‌یې‌لوړه(لاړه)په‌و تن(وطن).»

څو کټچې د کیسیو سره‌آشنانه‌وي، په‌دې‌خبر و او کیسیو بنه‌نه‌پوهیږي،

په‌اوریدو یې حیرانیږي چې‌دانوخه؟ مګر که‌ځیر شوخنګه‌چې دادو لس او ماشومانو دساتیرې مال‌دې هغه و رباندې ښه‌پوهیږي‌اوپه‌اوریدو یې خوشالی کوي ، ددې کیسې ځواب‌دشاتو (ګبینه) مچې(غلوزه)ده، په‌دې کیسې کې دګبینه غلوزه‌دګانې دګوت‌یې‌سره تشبیه شوې‌ده‌چې دباندې وخلک‌یې‌په ګوتو کوي.اودپښتنې پیسول غوره‌نمونه‌ده

۴-داخه‌شی دی!ځوک به‌یې راته‌وښیی؟

«دسره دیواله لوپرې * دسځکې پرمخ نه وړیږي.»

خنګه‌چې کیسې دتېرو تنې دپاره‌اچول کیږي،نوددې کیسې په‌اچولوسره سړی حیرانیږي ،داپه‌دې معنی بې‌له‌اوسپنې نه‌بل‌خه‌شی چې‌ددیوال‌نه‌راولوـ یږي دسځکې‌پرمخ‌خامخاماتیږي‌او که مات نشی نو کوپږي خوحتمي.د کیسې تیرو تنه دلته‌داده «چې ددیوال نه‌راولویږي ، خو نه‌وړیږي» سړی‌په فکر کې ډوبوي، داخه دي‌چې ددیوال خخه راولویږي اود سځکې پرمخ کوچنی نشی .

ځوک‌چې په‌پوهیږي هغوته داکیسې ډېره خوندوره او په‌زړه پورې ده، ددې کیسې معنی‌داوښې‌بچی (جونګی)دی، کله‌چې اوښه ننګه (لنګه) شی‌د هغی‌بچی‌خنګه‌چې‌وزیږي‌دسځکې‌پرمخ‌دریږي‌او کوم‌بدلون‌پکې‌نه‌راځی‌دکیسې‌مطلب په‌سره‌دیوال‌کې‌دی‌خنګه‌چې دا وښې‌رنګ سور دی ،،نوبې‌سوردیوال‌داوښې سره تشبیه کړی‌دی، رالویدل‌داوښې‌ننګېدل‌دي‌چې‌جونګ‌او جونګی زیږوي.

۵-دا به څه شی وی؟

«سر یې په تو (تا) کی دی ، مڼ یې په غویه (غوایه) کی دی یښ یې په مڅکه کې» دا به نو څه وي ؟ دا کیسی چی چاته جو ته نه وي ، سم ښو د ل یی سخت کار او ډ پر پام (فکر) کول غواړي ، د سیالو مخا مخ ډ لونه چی چا ته معلو مه وي ، سمد ستی ځو اب ور کوي او ورته وا یی چی دا غنم دی . په دې معنی چه د غنم دانی دو ډي اوپټو څخه د سښلو او د رسند په و خت کی بیلږي ، د رو زه یی باد یږ ي وروسته له پاکولونه د غنمو دانی ژرندې ته داو ړو کولو د پاره وړل کیږي ، داو ړو او تاسو نه ډوډی پخیږي او انسان یی خوري . د غنـــم ډ کی چی مڼ یې دی میده کیږي د پر و ړې او د رو شتی او سپینو وا ښو په شکل یی مالو ته اچوي او خوري یی ، غنم چی و ریبل شی ولې (بیخ ، ریښه) یی دخاو رو په مڼ کی تر یا کو لبه کو لو په پټی کې پاتی کیږي . د د ې کیسی ځو اب د غنمو د پخېدو حال ، ریبل او خوړل څرګند وي .

۶-دا څه دی څوک به یې را ته و ښیی؟

« د پو سه (پا سه) رو غله (را غله) سره سو یه ،، په و ینو کی پخه سو یه ، که یی خورم کاپر کیږم ، که یې نه خورم و ږی کیږم. »

دا کیسی دسلګرو له ډ لې نه چی چاته ښکاره وي و رته وا یی: د د ې کیسی سمه او د رسته ښه به زه و ښیم .څنګه چی دا کیسی زمونږ د و لس

مال دی اوسا ته معلومه ده، نوغوږ ونیسی چې تاسی هم پرې پوه شیء. داروژه ده، سونږ مسلمانان یوپه کال کې یو ځل یو ه میاشت ر و ژ ه نیسو، رو ژ ه داسلام د پنځو رکنو څخه یورکن دی. دروژی په خوږلو سړی ګناه ګار کیږي، په نیولو یې سړي وږی کیږي.

۷ـ دا به څه وي اوچا ته معلوم دی؟

«پورې وورې لیټی، په منځ کې یې سور بیونګی دی.»

چاته چې دا کیسی ښکا ره نه وي په اوږدلو یی حیرا نیږي. دا ځکه پورې وورې د خاورولیټی په منځ کې یی سور بیان ډ ډ ډره حیرا نونکی خبره ده، مګر څنګه چې کیسی د ذ هنی اوفکري مسابقی اوساتیری غوره بڼه ده، نود چاچې پام ورسېدلی وي هغه سمدستی ځواب ورکوي، له بله پلوه څنګه چې کیسی د کلیو او باندو په خوارو خلکو کی رواج لري سمد ستی وایی د اخو ډ ډره اسانه ده: پورې وورې د خاورو لیټی په خوله کی د غاښو و و ری (اوری) اوبیونګی دسړي — ژبې مفهوم لري، نود کیسی سمه بنه (د غاښو وورې اوژبه‌دي).

۸ـ دا څه دی؟

«لښته دو (د ه) زرلښته دو، نه‌سو تیږي (ماتیږي) سخته دو.»

د ا کیسی تر یوې اند ازې پورې آسا نه د ه ، ځکه چې د لښتی اوساتو لو کلمې پکې را غلې دي، دا چې ساتیدل یې سخت دي د کیسی په ژر

ښودلو کې یوخه مشکل پیښوی او دکیسې اصل مطلب هم دادی . پوهیږو چې لښته ماتیږي اوخه سختی نه لري ، داچې دزرلښتی کلمه اونه ما تبدل راوړل شوي دي ، نودلته سړی په اشتباه کې لویږي چې لښته اوزرلښته څه معنی ؟

لښته دنري لرګی اوزرلښته دزرولرګی په مفهوم دوې بیلې کلمې دی داکیسې دسلګرواو سیالو ډ لونه چې کوم یوه ته ښکاره وی په خند اورته وایی داخوروژه ده، څنګه چې زر (طلا) په سړی ګران دی نو دزرولښته چې څوك پیداکی هغه ډیره خوندی ساتی اوپه کدر یې اپردي ، ماتول خو یې هیڅ جایز نه دی ، دا په دی ، معنی چې زرپه ننني ژوندانه اوورځنیو کا رونو کې ډیرا همیت لري . داشان روژه په مسلمانانو کې ډیر کدرلري او مبارك رکن دی ، هر مسلمان په کال کی یوځل یوه میاشت په دې مکلف دی چې روژه ونیسی څنګه چه دروژې خوړل کبیره ګناه ده نوځکه یې نه ماتوي ، مسلمانان د روژې نیول پرځان فرض اولازم بولی نو ددې کیسې ځواب روژه ده .

۹- داکیسې په څوك وښیي:

«تلم تلم تورې شپې ته ولوېدم ، بیا هیڅوا ونه لیدم ، د خپل ځان سره لوېدم . »

داپه دې ښه هم اچول کیږي :

«تلم‌تلم کونجک‌ته ولو ډدم .»

د مخامخ ډلونه یو ملګری چې دا کیسې واوري داوریدو سره سم وایی : دا کیسې ډېره په زړه پورې ده ځکه زمونږ د ژوند او مرګ سره اړه لري ، دا په دې مفهوم هر څومره چې سړی وګرځی اوژوندی وي بیاهم مري اود سړستون (قبر ، لحد) تورتم یی په برخه دی،سړی چې مړشی بیاخه نه وینی ،یوازې یوازې به‌په هغه تورہ خونه کی‌بندی کیږي.چې‌دتل‌دپاره یی‌په‌برخه‌ده‌نوځکه‌دا کیسې‌دسړ ستون په‌معنی ده .

۱۰-دا څه شی دي:

« لر ، بر دې وترم ، په‌منځ‌دې وتړ نګوم .»

دا چوونکی ډلې نه چې یو تن د اکیسې واچوي ، ځیونکی ډله ځان د ځواب دپاره جوړوي کوم تن ته چې معلومه وي سمدستی وایی دا خو(ډول) دی. پښتانه په وادونو ، ییدونو (اخترونو) لښکر و اونو روخوشا لیو اوښاد یوکی ډولونه وهي، ډول د وه پلوو نه لري هغه د خرمنی په وا سط پټوی او بیا دا دوه پلوونه په تسموسره لراوبر ټینګوي ، تردې وروسته یی ډم غاړې ته اچوي په تړنګو لواووهلو یی خوا یخوي .

۱۱-دا به‌څه‌وی‌او چا ته به معلوم‌وی؟

« د ورځې نه یم ، ټوله شپه ورسره یم ، هیڅ تر ې خپه نه یم .»

سړی په لومړي نظر دې کیسې په اوږد وسره داسې فکر کوی چې داخو د ښځې اومیړه د یوځای کېدو حال دی خوسره له دې هم د ښځې اومیړه د ګډ اوږدې ژوند په تېر ولو کې کله کله خپګان اوقهر پېښیږي اودغه درنګ د پاره به سره خپه وي. داچې دسړی سره دوړځې نه وي او د شپې ورسره وي د خوب او خملاستو بستره ده، په بستره کې خلک ځملی اوهیڅ نه تري خپه کیږي نوداکیسې دخوب دبستري سفهوم لري .څرګنده ده چې بستره خبر ې نه کو ي نو ځکه نه خپه کیږي .

۱۲-دا به څه وي ؟

« د بره یې روغو نه (را غو نه) کړه ، په تو رکمره (تیره) یې پنه کړه . » داکیسې دږلی(ګلی) دوريد ومفهوم لري ، څه وخت چې د بړې خوا نه په آسمان کې توره و ریځ او اوره غوټه راپید ا شی اوږلی په شېبو شېبو وورېږي نووا یی د بره یی را غو نه ه کړه په تو رکمر ه یی پنه کړه » د ږلی را و ږد ل د ښځې پر مخ د پنې معنی ورکوی .

۱۳-دا به څه شی وي؟

«لس و رځی (و رځی) د وه نه و رته روڼی (را ځی). »

دا چې د کیسیو ا چول دذ هنی اوفکري مسا بقی اوښودلو غوره لو به د ه ، نوداچولو او ښودلو په وخت کې سړی وربا ندې تیروزي په اصله ښه یی نښی ښودلی ، ځنګه چې کیسې دولس ما ل دی او په ولس کې رواج لري نو هغه و رباندې ښه پوهیږي ، ما شومان یې په ا چولو خپله ساتیري پرمخ بیایی . دا کیسې چې ما په لومړي ځل د ملګرو له

خولې واوربد له ډیرورته حیران شوم، دوی راته وویل زرشه داکیسې وښیه، ماچې هر څوسره پام ورته وکړ اوسوچ سې ووا هه پرې پوه نشوم. هغوی پر ماډبر وخندل راته یې وویل ته ملامت نه یې له کلی اوباندونه ښارته تللی یې ته دکلیوالو په شیانو ښه نه پوهیږې، ماورته وویل ستاسو خبره سمه ده، اوس مهربانیوکړئ کیسې راته وښیئ.

په خندایی وویل غوږونیسه چې دپښتنو له ډیر وغوره اوکدرمنو شیا نو نه به دې خبر کړو، ددې سره سره یې وویل داکار هر مسلمان په ورځ کې پنځه واره کوي او تاته لا معلوم نه دی. داچې مسلمانان په ورځ کې د انیک عمل سرته رسوی هروار لس دووته ورځې او لسوته دوه نه راځی. پوهیږې چې دلمانځه دادا کولوپه وخت کې مسلمانان نیت ترې، دنیت دترلوپه حال کې هرسړی خپل لاسونه غوږوته پورته کوي، د لاسو گوتی چې لس اوغوږونه دوه دي گوتوته نه راښکته کیږي بلکه لاسونه غوږونوته جگیږي. داډول یې دکیسې په ښودلوسره ماته قناعت راکړ.

۱۴-داڅه دي؟

«سورگړی (سنگی) * پهبود (باد) کوړی.»

څه وخت چې داکیسې دسلگر وله منځ نه یوکس واچوي، دراغونډو

شو یوملګرونه د یوتن چې فکر او پام وررسیدلی وي ورته وایي دا کیسی به زه وښیم غوږ ونیسئ .ملګري غوږ نیسي .دی د کیسی په شوډلو اوښیلوخوله پرانیزي اوورته وایي دا کیسی خو ډیر سوچ غواړي څه آسانه نه ده ځکه ګړی (مذګی) چې داوبونه ډک شي هغه په هوا کې نه ځوړند کیږي بلکه دا روند ګړی چې وزن یې ډیر وي په هوا کې تم کیدای نشي سمدستي ځکي ته راغو رځی اوساتیږي. ملګري ورته سخ اړوي ډیر خبرې مه کوه څه دي دا ووایه؟ دی ورته وایي خبروته سی چې نه پریږدی ءدا خوانګوړی (انار) دی دانګوړي پټو کی (پوستکی) سوردی انګوړی په خپله دانګوړي ونه کی زرغونیږي، څه وخت چې لوی اوپوخ شی سو ر کیږي، ښکته په ونه کی زانګی. دلته سو ر انګوړی دسر ه ګړی سره تشبیه شوی دی .

۱۵-دا کیسی به چا زده وی :؟

«یوپه سخ کې * سل اوخو یې څټ کې . »

دملګرونه چې چاته معلومه وي، ورته وایي داسی اسانه کیسی دي واچوله چې هر څوك پر ې پو هیږي غوږونیسه چې درته یې وښیم : داخو ملا صاحب دی چې دلمانځه په وخت کې دټولونه سخکی په سراب (سحراب) کې ولاړوي، خلك په هغه پسی و رو سته کتار در یږي اودخدای «ج» عبادت ترسر ه کوي .

۱۶دا کیسی دا سی هم اچول کیږی:

«یوچې څه کوي * نو رهغه منی .»

۱۷-ملګر یودا به څه شی وي :؟

«پرېوته دتیرپه شون (شان) ،وورته (والوته) دکجیر په شون (شان).»

سلګرونه چې څوك پرې خبروي ورته وایي داخودژسی په وخت کې واوره ده چـــی دمځکی پرمخ راالویږي ،څه وخت چې ګرمی راولګیږي نوهغه ویلې کیږي اودکجیر غوندې چې یوغټ سپین سرغه دی الوزي .دکیسی تیروتنه دتیر په پرېوتو (دواورې اوربشت) اودکجیر غوندې الوتلو (دواورې ولې کېدل اودمځکی دمخه نه ورکېدل) کی د ه.

۱۸-دا کیسی دا سی هم اچوی:

«روولویده (راولوېده) یې تیرپه شون ، پور ته شوه دکجیر په شون ».

دا به څه وي؟

«خوله یی په وورکې (اورکې) دو (ده) شونډې یې دلرګیو پټو کیو نه جوړې دي ،خوراك یې بود (باد) دی . »

درابللشوېوسلګرونه چاته چې دا کیسی جوته وي، په خندااونرمه ژبه ورته وایي داخو دپښې (اهنګر) بنی د ه پښ دخپلی دندې دسرته رسولو دپاره دبنی خو له په اور کی ایردي چی سکاره پرې بل اوتازه کړی، هغه ګوډی چې بنی تر ې جوړ یږي دکښوړې په بڼه دبادخخه ډکیږي ،دبنی وروستی برخه یعنی دګوډې بیخ څیرې کوی اودوه لرګی یې په دواړوخوا و باندی کلك تړي،دلاس پواسطه دلرګیو خوابنکته پورته کیږي او په دې ډول سره بنی باداخلی اوتشیږي . دباد په ډکېدواو تشېد وسره سکا ره تازه کیږي اوپښ خپلی اوسپنی پرې سرې کوي .

۱۹- دا به څه شی وي؟

«سړي په‌سړی کې دی ،پښې يې په څټ پورې ټړلی دي ، خوروك (خوراك) يې اوبه دي » .

چاچی دا کیسی زده وي يې له‌ډيل اودرنګ نه ورته وايی داخوداوبو (ژی) غړ که ده .

په کلیو اوباندو کی کله چی مال (وزه) حلال کړي نو وژن (غرمن) ورځخه‌وکا،ي‌اودا وبو ژی،تړي‌جوړوی،دارنګه‌په‌ژی‌اوغړ که کی کوچیان‌خپل‌غوړي ساتی دغړ کی‌پښانګي‌تړي. هغه‌يې دپښواودغړ کې‌خوله‌يې‌دسړی‌سره تشبیه کړي‌ده

۲۰- داڅه‌دی ؟

« وچ کلك ، دکولموډك . »

کله چی‌دا کیسی واچول شی ،نو دسلګر ونه يوتن غږ کوي زه مېړنی به يی ځواب درکړم ،غوږ ونیسیء .داخوکټ دی کټ په کټهون پېرل کیږی . نو دې حال ته‌وچ کلك دکولموډك ويل شوي دي .

۲۱-دا به څه‌وی: ؟

«جنت لري ،دوزخ لري ، بې شونه (شانه) دده زور دی، داريوب (دريا‌ب) په ببړی‌سپورد ی .»

څه‌وخت‌چی‌دا کیسی دسلګروله‌ډلی نه‌يوتن‌واچوي،نورسلګری حیرانیږي‌چی دا به څه‌وي.؟ دوزخ‌لري، جنت‌لري،زورلری،زور وردی،دريا‌ب په‌ببړی سپورسړي‌ته‌نااشنا

معلومیږی چاته چې دا کیسی معلومه نه وي نو ډېر حیرانیږي خوچاته چې جوته وي خپلو ملګرو ته وایی حیرانیږی ءسه، ماسوچ پکی وکړه به یی وښیم. داسی قبول دی ځکه دا خود خدای پاك اسمانی کتاب قرآن عظیم الشان دی، سونږ منلی دی، څوك چې قرآن ومنی سهار اوسازدیګر یی ولولی اوتلاوت یې بایده دي چې وکړي. که څوك عمل پرې وکړي جنت یې په برخه کیږی، که منکرشی او دمنلونه یی ډډه وکړي ګناهګار کیږي دوزخ به یی په برخه وي، دامقدس اواسمانی کتاب زور ور دی مجر مواوګناهګار و ته قسم پرې ورکوي، پښتانه ددې مقدس کتاب ډېره لمانځنه اوعزت کوي. دریاب هم دقرآن په معنی دی ییږی دراځیل په معنی ده، راځیل هغه لرګی دی چه قران پکی لوستل کیږی

۲۲-دا به څه وی او چا ته به معلوم وی :

«سل خولې لري ډېرې نه ګیدونه ګولمی لری»

دا کیسی چې واچوي ملګري ورته وایي، داسی شی سونږ نه دی لید لی چې سل خولی ولري ګډه اوکولمې یې نه وی، اچونکی ملګری ورته وایی. داچې تاسی دا کیسی زده نه ده نوبه یی زه درته وښیم، داخو ډېره اسانه کیسی ده. داده درته معلومه به شی. سونږ تاسی په کورکی اتام په پرویځی (غلبیل) پرویځوچې پاك شی، دانو پرویځی دی. پرویځی ګډه اوکلمی نه لري. اوس په کیسی پوه شوی ء. سمه ده دا پرویځی (غلبیل) دی.

۲۳-زما یو شی دی څوك به یې راته وښیی؟

«تټر لوندې (لاندې) تټر بوندې (باندې، پاسه) تټر دوړوهی دوړوندې»

(وړاندې).»ددملګرو یو نه چې څوك په دې کیسې پوه وي، نو وایې دابه زه وښیم ملګري ورته وایې ډېرښه که سی خدای غلط نه کړي دا خود ژرندې پلونه دي چې ګرځي او غله پرې وونې (میده) کیږي، د ژرندې یوډ برین پل لاندې بل دباندې وي، کله چې څوك غله پرې اوړه کوي داتامو د میده کېدو په وخت کې اتام دمخ وخواته شړي او په اخور کې پې ټولوي. نو ځکه وایې «تتر د وړوهی دوړاندې.» دا کیسې په دې بنه هم اچول کیږي:

۲۴-«آسمون (آسمان) لوندې، آسمان بوندې، آسمان پښه غورځوي وړوندې:]

۲۵-دا به څه شی وی ؟

« دپوسه (پاسه) روغلل (راغلل) دوه اجیون (حاجیان) یو غوړي غواړي بل اتام (ا توم).»

په ملګرو کې چې چاته دا کیسې معلومه وي ورته وایې یاره ورور که ! ته خو داسې اسانې اسانی کیسې اچوې غوږ ونیسه چې سرې درمات کم. د اخو په کال کې دوه ځله ونه (اختر ونه ،عیدونه) دې ځنګه چې سونږ د کلیو اوباند و خلك خوار یو،شته ډېرنه لرونو په یوه عید کې غوړي اوبل کې اتام پخوو، دلته اجیان داختر ونو سره تشبیه دي.

۲۶- دا څه شی دي

«چې څم (څم) دی رونه (رانه) پوتې (پاتې) کیږي.»

چاته چې دا کیسې معلومه وي بې له څنډه ورته وایي دا د پښو پل دی ، کله چې سړی په لار روان وي ګام (کدم) چې اوچت کړی نو د پښو پل یې پاتې کیږي اوسړی پرمخ درومی دا د پښو پل دی .

کله کله کیسې په رندانه ډول دسلګرواو سیالو ډلو منځ کې په بې باکه ډول ویل کیږي دبدیع دفن (بڼه اوبد)، (زشت وزیبا)په شان یې شکل لوڅ اوعریان دی .په دې برخه کې لاندې خو نمونې راوړوخوچې رندانه بڼه یې څرګنده شي. دافولکلوری زیرمه دژوندپه هره خواکې ویل شوې ده ....

۲۷-دا څه شی یې!! او دځوک به یې وښیی :

«پوس (پاس) یې د ریه مټ کم * کوزیې درکې پټ کم .»

دسیا لوډلونه دیوې ډلې سلګری چې دا کیسې واچوي نور پرې خاندي وروره ! داڅه وایی : پاس په مټ کول او کوزپټ کول په ربښتیا دسلګر یو دخند اخپی اوړ دوي . څنګه چې دادولس شفاهی فولکلوري مال دی او د کار کولو هیله پکې پرته ده. نو ددې کیسې ځواب دادی : دادکلبی اوپټی دیوې کولو حال رابښیی په دې معنی چې د کلبی په وخت کې سړی دسپار ې سوتی (سوتانې) کې په لاس نیسی دسپورې غشی په ژغ (جغ) پورې ټرل کیږي .ژغ دغو ایانو غاړې ته وراچوي، دسپورې کونده په سڅکه کې ننوزي او کبله کول شروع کیږي .دلته مټ ته کول اولاندې پټول کلبه کول دي .

۲۸-دا به څه وي؟

«سپین چرګوتی، په خوورو(خاورو) کې ستی .»

دا کیسی چې یو نابلداو ناآشنا سړی واوري حیرانیږي چې دا به څه وي، مګر چاته چې ښکاره وي سمدستی ځواب ورکوي چې دا دې سپورې (سپارې) ساسپور (کرکی) دی .

ساسپور په سنګلو کی دیوې اوکلبی دپاره په کاریږي ، پوره اومکمله سپوره داشیان لري :

غشی اوږد کوږسری لرګی دی، یو سر یی دغوا یانو په ژغ پورې تړل کیږي بل سریی دسپورې په کونده کې کلکیږي ، کونده غټ اوږبل لرګی دی چې دستیل په څیر شکل لری اودمخ سر یی په یوه ټکی ختمیږي اودهرم غوندې شکل پیدا کوي ، په همدې سرکی یې ساسپو ربندیږي ساسپور داوسپنی یوه توته ده چې پښ یی ورته جوړوي دکوندې په وروستی سرکی یونری لرګی مخ پورته دروي او موتونی ورته وایی .

۲۹-دا څه دي؟

«روودې (راوادې)(خولم)خلم، کښدیږدم اوودې پروم .»

څوك چې ددې کیسی په ځواب پو هیږي سمدستی ورته وایی دا خود پښتنو په حجرو (ویجرو) اوکورونو کی ډیر لیدل کیږي

او هر ځوان یې د عمل سړ، مینه لري . زمونږ اوستاسی مخی ته هم یښې دی. ملګری ورته وایی داڅه وایی : موږ د حیران کړو زمونږ مخکی داشی چپرته دی دا دی څکوی یی ، ملګري په خند ا وایی چلم ښیی ، هو! دا (چلم) دی. څوك چې د چلم په څکولو عملی وي چلم ځانته رااخلی ،مخی ته یی ایردي اوبیایې څکوي ، د لته پرول د څکولو معنی لري دا کیسی په دې ټپه هم دوی کی اچول کیږي :

۳۰- « نورخلك لموست * ډډولغړ کی نوست .»

د شپی له خوا خلك څملی او خوب کوي ، چلم په خپل ځای کې مخ پورته ایښو د لشوی او مخ نیغ ولاړ وی ځکه وایی نورخلك لماست، ډډولغړ کی ناست .

۳۱-داڅه شی دي ؟

«خوشته (توند،لامده) یې ومندم ، وچ یې رو (را)وکوږم .»

د سیالو اومخا مخ ډلونه یوه ډله چې دا کیسی واچوي ، د بلې ډلې نه چا ته چې څرګنده وي نود وار د نیولو اوګټلو د پاره د ځان په ګټه یی ښیی اوملګر وته وایی داده وایې وریء، که خدای مې غلط نکړي د اخو په تناره باندی د ډوډی (پوستی(مکی) ،د لاس سړی) پخولو حال دی ، پوستی (پاستی) په تناره باندې لامده وهی او د

پخولونه وروسته چې وچ‌او پاخه شي ترې راوباسي يې .

۳۲-دا به څه وي؟

« يمو (زما) يوه خوردو(ده) د ننه الک (حلق) يې توردی . »

د مغې ډلې له ملګرو يونه چې د کيسې د ځواب اوښوو لووا ريې وي ، يو تن وا يې دا کيسې ماته جوته ده زه به يې ورته‌وښيم .

خپل‌ملګري ورته وا يې ددې غم‌نه که‌د ې‌خلاص کړو ډېر به د رڅخه خو بن‌او خوشحاله‌شو،داخو اسانه‌ده غو ږونيسيء چې‌سمدستي يې‌سرما ت کم‌او وا ربه ځينې وګټم : داخو د دوريو (رانجو) لجرومه ده ، په کليو کې پيغلې اوښځې د سترګو د تورولو دوري د ځان د پاره په لجر ومه کې ساتـــــی .

۳۳- يمو يوشی دی ، څوک به يې‌وښيی ؟

هغه دادی :

« شکورشپې د نينو نه ډک شی * د ورځې تش شی . »

دا به‌نوڅه وي.

ددې کيسې داچولو نه وروسته هغه ملګری چې د کيسې ښو د ل او ځواب پيدا کول لټوي ، فکر کوي چې دا نوڅه دي؟ د اسې شکورچې د شپې د نينو نه ډک وي‌او د ورځې‌تشوی سړی حيرا نوي ، خو د ملګرونـــه د چاچې پام وروړسيري سمد ستی يې له درنګ نه ورته وا يې دا خو

آسمان دی . آسمان د شپې له خوا د ستو ریو نه ډک کیږي او په تیاره کی ستوري پکې ښکاري،دو ځې چې رنا راشی ستوري پکې ورکیږي .په دې کیسې او تیر و تنه کې آسمان د شکاره (شکور) او نینې د ستو ریو سره تشبیه شوی دي ، په دې توګه دا ډیره نادره تشبیه بلل کیږي .

کیسې کله کله دساتیری په غرض دسوال او ځواب په بڼه هم د ملګرو ترمنځ په رندانه اوبې باکه ډول یو دبله سره اچول کیږي ، داچې کیسې د خلکو مال دی.مونږ کوښښ کوو چې په هماغه بڼه آ رشکل اود خلکو له خولې یې راتولې او خپرې کړو له دې امله پکې تغییر او بدلون نه راولو ولو کهداچوا نو او ښو دلوژ به یې راندانه اولوخه هم وي دامانت د ساتلودپا ره یې په هغه شکل سا تو:

سوال	ځواب
۳۴ـ اسمون کې درو زه څی	کو زه نو و یې (ناوې) په ډو له څی
۳۵ـ اسمون لیکی لیکی !	دوی و پلوړ (ولاړ) دي په لښتی کې
۳۶ـ اسمون برګ برګ.	دو ی لوړ (لاړل) په رګ رګ
۳۷ـ الې (و یالې، و یاله) الې څه څی.	تو رمنګو ر په ا ز و نګه څی
۳۸ـ د کندو په سر ییرې (ایرې).	لیوه و لاړ سپیرې پښې
۳۹ـ دغره په سر سکر و ټه	دسو یې سترګه غټه
۴۰ـ هغه ده رووخته (راوخته).	و و ډی (او ډی) په خو لو و خته

۴۱- یمو (زما) ترغزنی. دغزنی په لیار (لار) کې یو سوتی اغزي.

۴۲- پور ته په او وګله. پنډه ده خرو ګله.

۴۳- یمو (زما) ترکندوره (کندهاره) ، وو بښ (او بښ) نه څې یې سوره (سهاره) یادونه داډول کیسې ډېر کوچنی ماشومان چې داوو ، اتو اونهو کالو عمر ولري په خپلو منځو کې یې دعادی خبرو په څېر یو دبله سره په داسی حال کې چې خاندي او شورسره کوي په پورته یادهشوې بڼه په لوړ آواز تکراره وي، البته په داسی کیسیو کې هلکان یو دبله سره دانسان دتذکیر او تأنیث غږو ټوسونه هم یو بل ته اخلی او سونډې یې له هغې یادونې نه چې ډېره لوڅه بڼه لري دځینو معذر تونو له امله تیر شو لو

۴۴- دا به څه شی وي؟ څوک به یې وښیی :

«دبره روغلي (راغلي) پلتني (لښکري) شل پاته یې جوسی (کالی ، کولی) دي. » د کیسې په اچولو او ښودلو سره دسلګر یواو راغونډو شو یوځو انانو مجلس ګرم اوتو دوي، دوی داذهنی لو به په خور اخو ښې او خوشالی سره دساتیری په غرض پرمخ یایی. چاته چې دا کیسې څرګنده او معلومه وي، دسلګرو په اجازه وایی دا کیسې به زه وښیم .سلګري دد ه غوښتنه په خوښی سره منی اودی یې په ښودلو پیل کوي : که فکرو کړ ی داخو پیازدی، پیازد یرپتونه لری دلته سل پاته جامی د پیازد پتوسره تشبیه دی

۴۵ دا څه دي؟ او چا ته به معلوم وي:

«دوه یې پوښونه ګڼ څلو ویې دي نعمتونه.»

هغه سیاله ډله چې د کیسې په ځواب و ر کو لو باندې مکلفه ده کوښښ کوي چې د کیسې ځواب پیدا کړي، یواوبل ته سره مخ اړو ي، او وایي داسې سخته کیسې یې وا چوله چې مونږ پرې پوه نشو و، په دې شببه کې د کوم ملګرې چې پام و رته رسېدلی وي غږ پرې کوي، خپه کیږي ځه مه. غو ږ ونه دې ر اته ونیسي چې د کیسې سر و رمات کم، ملګري یې و رته وایي: جا ر دې شم، رښتیا چې هو ښیار یې مونږ دی له لوي سیتم نه خلاص کړو ز رشه و ایه چې څه دي:

دا مټك (و غو ز، چار مغز) دی، مټك څلور چر گی (چار مغز) لري دوه پو ښو نه یې یو کلك پټ او بل د چر گیود پاسه نرم پټ ته وایي.

دا کیسې په دې بنه هم ویل کېږي «و ړو کې کوتو لی، خو ږه یې سړو کی (مینکی) دا هم د مټك معنی لري.

۴۶- دا څه دي؟

«پورې وړې ګلی په سیچنو سره ولی.»

د مخامخ ډلې نه یوتن چې دا کیسې واچوي، د بلې ډلې ملګري په خندا ورته وایي لکه چې ستا په گو ډې کې همدا دولت پاتې واونو رخلاص شو. نه ور و ره د اسې نه ده گو ډې، گو ډې مه یا دو ه تو بېر ر اسره دي که کیسې در ته معلو مه وي سم ځو اب یې را کړه او که نه بله پسې در غله غو ږه ونیسه. د مخامخ ډلې ملګرې وایي: پښتون خپل و ارچاته نه پر یږدي غو ږ و نیسه چې د کیسې ځو اب در کم څو چې پیغو ر دې را پاتې نشي او داسې ځواب ور کـــوي د اخو د انسان په خـــو له کې د دو اړو ز ا مولا ند ې باندې

غا ښو نه دی چې د کلی سره یې تشبیه کړې دی. دمړی دخو ړلو په وخت کی غاښو نه سره لګیږی ، ځکه و یل کیږی پو ړې و و ړې کلی په سپچنو سره و لي.

۴۷-دا به څه و ی او څو ک به یې و ښیی ؟

«په لیا ر(لا ر) څې * ګړ دی څکی پر یږدي . »

چاته چې دا کیسی معلومه وي ، و ایې زه به یې و ښیم .ملګري و رته و ایی سر په مه کوه و ایه :

که خدای مې غلط نه کړي ددې کیسی ځو اب لکړه او امساده، په کلیو او بانډو کې سپین ږیري دتګ په و خت کی لکړه لګوي ښکته(لاندې)څو که بی په ځکه لګیږي ګړدی او دایر وي شکل جو ړوي (تیندی) ځکه و ایې چې په لارخی ګړ دی څکی پر یږ دي .

۴۸-دا شی به چا ته معلوم وي ؟ :

«څلو و ر (څلو ر) لوسو نه (لاسو نه) لري، کلك پټو کی لري، خو ارو لك یې او به دي . »

ددې کیسی ځو اب ژی (مشک،غړ که)دی ، دو زې و ژن (پوستکی) چې و و یستل شی و روسته له و چیدو نه یې دژې په څېر جو ړوي .کو چیان او مشکیان او به پکی را و ړي .څلو رلاسو نه دپسه دځلو رو پښو یعنی دو ژنې دپښانګو سره تشبیه دي ....

۴۹-دا په څه وي

«دپوسه(پاسه)روغله(راغله) دوه تیونه (نیز، سیلاب)ورووتل پنځه میږونه ،بندکړه دوومیږونو.»

دسیالو ډلونه کومه ډله چې دا کیسې واچوی، بله ډله یې په ښوولو ځان اړګنې، که دوی نه خوک پیدا نشي چې سم اودرست ځواب ورکړي. دغه لومړۍ ډله بیا دبلې کیسې داچولو حق لري. دا کیسې په دوی کې داسې ښودل کیږي دپاسه دوه تیونه دپوزې داوبو(ګړنکو، خیلم)سره تشبیه شوی دي، پنځه میږونه دلاس پنځه ګوتې دي ، دپوزې د پاکولو دپاره لاس پورته کیږي او دپوزې دوه سوري(سږمې، تمیزي) په دوو ګوتو بندیږي...

۵۰-دا په څه شي وي؟ :

«ګوګوشتو، ګوګوشتو، که غوښې می خواګې(خوږې) نه وای ښکوري (ښکاري) ولې به ویشتو.»

چاته چې دا کیسې ښکاره او څرګنده وي وایي: یاره وروره! داسې اسانه کیسې دې واچونه غوږ ونیسه چې دستې په دستې یې در ته وښیم .داخو دګوګوشتو کوتره ده غوښه یې خوږه ده ښکاریان یې ولي. په خپله کیسې جوته ده چې د کوترې مفهوم لري

۵۱-داڅه دي؟:

«سورغونډی می وردی، پلنه پاتو مې مورده ،کیږه کینه می خورده.»

دا کیسې داسې په دوی کې ښودل کیږي . سورغونډی ورډپتی په معنی پلنه پاتو دژرندې او کیږه کینه خوردالې (ویالې ،لښتی) په معنی دي. د کیسې

ځواب پټی، ژرنده او وياله دی. پټيو کی کليو الدځان دپاره فصلونه کړي، په ژرنده باندې خپلې لږې غلې ماتوي او او ړه کويي، دويالی په واسطه سره اوبه ژرندې او پټيو خړوبو لو (پنه کول) ته رسيږی. کليوالخلك چې مځکه ډ برونه لري نوپټی ورته دورور، ژرنده دسو راو وياله دخورپه شان کدرلري.

۵۲-دا کيسی به څوك وښيی؟

«وړوکی يندوکی (هندوکی) * ستريی دی پټکی.» دسيالواو مخامخ ډلونه يوه ډله چی دا کيسی واچوي، بله ډله يې په ښو لوځان مکلف بولی، د مخامخ ډلې سلګری چې دا کيسی واوري حيرانيږي، مځکه هندوان پټکی په سروی مګر سړی په اشتباه کې اچوي چې دابه همد اسعنی لري او که بل څه به وی؟ خپلې سيالی ډلی ته وايی مونږ پرې پوه نه شولو ددو هم ځل دپاره دکيسی اچولو وار تاسی وګټلو. اوس نو مهربانی وکی ع کيسی وښيی ع چې مونږ هم پرې پوه شو. په دې خبره چې وارزمونږ دی سياله ډله وايی شه ده کيسی به وښيو بله به پسی واچو دا خو دګنډلوستنا و تار دی وړوکی يندوکی دستنی په معنی او پټکی دتار په معنی اخيستل شوی دی. په دې کيسی کی ډيره په زړه پورې تشبيه خوندي شوي ده.

۵۳-داڅه دي؟:

«دري کونجه کوټه دو (ده) * يوه سترګه يې پلمه (بهانه) دو.»

چاته چې دا کيسی معلومه نه وي نو په اوريدو سره يې اريانيږي چې دا به څه وي دري کونجه کوټه يوه سترګه يی بونه. دا چې

د کیسیو دښودلوپه وخت کې سونږ په وار وار ویلی دي چې کیسی دذهنی مسابقی اولو بی غوره شکل ګڼل کیږي نود کیسیو سم اودرست بنو دل ډېر فکراوسوچ غواړی دانو !کلوری سر غلره ډېر ارزښت لري. د او جده چې په کلیو او باندې وکی هلکان یو د بله سره ډېر کیسی اچوي دادي دپاره چې سات یی نبه تیر شی. د دې کیسی مفهوم څرګنداوجوت دی .دباندې واو کلیو خلك خپل خواړه اودپخولو شیان په کټو ماودیګ کی اچوي ،وروسته یې د اوسپنی په نغري باندې چې درې پښې لري او دهرې پښې سر یې یو کونج لري یږي ، دنغری نه لاندی په کټوپسی اوربلوي څو چی خواړه پاخه شی،دنغري دریو پښو او کونجونو ترمنځ خلاص او ارتځای شته چی د دیګ اوکټو یې بیخ پرې ایښو دل کیږي. نود کیسی ځواب داوسپنی نغری دی او دمنځ خلاص اوتش ځای یې دسترګو په معنی اخیستل شوی دی

۵۴ـ دا به څه وي؟ او چا ته به معلوم وي :

«سر ټرلی، پښې ټرلی * مخ په دامان شړلی .»

د دې کیسی ځواب څه سخت او مشکل دی، په لومړی نظر سړي داسی فکر کوي چی دابه داسی یوشی وي چی دسر او بیخ (پښو) له خواټرل کیږي او وروسته به یی یو ځای ته اچوي .مګر حال داسی نه دی. په کلیو او باندې وکی داکیسی داسی ښو دل شوي ده. کله چی څوک مړ شی، تر کفنو ،او جنازې وروسته مړی دادیرې (هدیره)په لوروړل کیږي اوپه مړ ستون کی یې خخوي. مړی چی مړ ستون ته وټ کړي دسپارلونه وروسته

يې د کفنو لر او بر سرونه يعنی دسر او پښو خوا په سپينه ر تاړه تړل کيږی او مخ يې پټوي او په مړ ستون کی دتل دپاره پاتی کيږي. داسا ن دقبر معنی لري او کيسی دمړ ی د خخو لو په معنی ده

۵۵-دا به څه شی وي: ؟

« چرګه دو (ده) په پرګه دو(ده) * څلور يې کونټی يوه يې سترګه د و(ده) .»

دا کيسی د اسی ځوابوي . په کليو اوبانډو کې خلکو کورونه اوويجړي داسې جوړې کړ ې دي چې څلور ديوالونه اويوه دړلري ،نورې کړکی نه لري . په دې کيسی کې څلو ر کونټی د کوټی دځلو رو ديوالو معنی لري، يوه سترګه يی دړه او دروازه ده دوی کوټې ته ددې له لارې نو زې اوترې راوزې چرګه د کوټې اوو يجړې په معنی ده داشان دا کيسی د کلاو چونې په معنی هم استمالوی.

۵۶-دا به چا ته معلوم وي ؟:

«يمو (زما) وړوکی (کوچنی) کلی دی ،غلونيولی دی . »

د ا کيسی ډېره ژوره تشبيه لري ، څوك چې پرې پوه وي او ورته څرګنده وي سمد ستی وا يی : کوچنی کلی دسره تنا ره سره تشبيه دی اوغله په تنا ره کی دپوستيو (مکي) او ډوډی سره .تشبيه دی په سره تناره باندې پوستی او ډوډی پخيږي ، کله چې تنو رته لرګی دتودولو دپا ره واچول شی . نو خو مبره (خميره) شو يو اتا مونه (پيړه) جوړوي وروسته يې په تناره وهی چې ډوډی تری پخه شی .دلته

ګوچنی کلی غلو نیولی ،په‌تنا ره باندې دډوډۍ دپخولو حال راپه ګوته کـــوي .

۵۷-دا څه شی دي ؟

«ونه دو(ده) ،ونه کې منځوله (منځا له،ځاله) دو(ده) ،منځوله کی لټکه‌دو (ده) ،دټول کلی ملکه دو (ده) .»

دا کیسی‌ډیر سوچ اوفکر غواړي،داچې ونه وي ،ونه کی منځوله‌وي منځوله کی‌لټکه وی،دالټکه‌چې سړی چیچی او دټول کلی‌ملکه وی‌یو د بله سر ه تضا د اوتو پیر ۱ري، دا ځکه لټکه‌خو بنیا دم‌چیچی‌نو د کلی‌ملکه‌نشی کید اي ، سربیره پردې‌ونه اوپه‌ونه کی منځوله به‌سړی ومنی اوپه منځوله کی لټکه به هـم‌ومنل شی ،داچی بیا کلی اولټکه یی ملکه و ی سړی ار یا نوي ،دا ډول تبر بتبرې (تیرې بېرې) خبرې سړی‌په‌اشتبا ه کی اچوي ،نونشی کولای چی‌زر ترزره د کیسی پەښو دلو باندې وپو هېږي .

پەدې توګه وینو چی دپښتو ادب فولکلوري شنه ، زرغونه او غوړیدلی ورشو کې داشا ن فولکلو ری ګلان ډېر غوړ پدلی دی ، خو دپیدا کېدو د پا ره یی‌لټون‌پە کار دی،چی‌په‌راپیدا کید و اوراتولیدو سره یې‌داغوړ یدلې‌ورشونو ره‌هم پیاوړې کیږي ،په هر صورت‌ددې کیسی سم اودرست ځواب دادی :

ونه دانسا ن دتنی (وجود) سر ه تشبیه‌ده ،خوله‌یی دمنځولې سر ه ،په خو له کی‌ژ به دلټکی سر ه تشبیه شوې ده ، پەژبه باندې انسا ن خبرې کوی

دژبی په بر کت انسانی ټولنه دنورو حیوانا تونه ممتاز ه اولو ړه ده ځکه ژبه د ملکي په نامه سره یا دوی ، کلی ددنیا (نړی) مفهوم لري .

۵۸ - دا څه دي؟ :

«زر ، سل مېلمونه (ولمونه ، میلمانه) * په یوه خمڅه (ګوله ، شخوند ، لقمه) سوړه (ماړه) . »

د دې کیسی په اوږدوسره سړی اریا نیږي ، دا ځکه هیڅکله داسی نه ده پیښه شوې چې زر، سل تنه دې په یو ه ګوله سړی باندې ما ړه شی د ا خو د حقیقت نه و تلې ده، خنګه چې د افولکوری کیسی د تیرا یستلواو ذ هني مسابقی د پا ره اچول کیږي او یو ه اړونه معلوموي ، نو د دې کیسی ځواب ډېر فکر اوسو چ غواړي .دا کیسی د کلیو اوباندوماشومانو داسی ښودلې ده : په کلیو اوباندو کې ښځی ، ځوانان سړي ، او پیغلی خپل سرونه په عطرونو او ډ و ل ډ ول کـــیمیاوي غوړیوا و نو ر و عصري او سوډرنو سواد و نه غوړوي بلکه دوی د سرو یښتا ن دغوا په زېړو غوړ یو غوړوي ، دسر د ویښتانو شمېر چانه دی کړی د و ی غوړی دسرد غوړ ولو دپاره د یوې خمڅې په شا ن نه رااخلی بلکه دومره غوړی رااخلی چې سر پرې غوړشی نو دا کیسی په غوړ یو باندې د سر د غوړ ولومعنی لري .

۵۹ – دا به څه شی وي؟:

«ووچوم (واچوم) درووچوم * په وور (وار) ووه (اوه) سو نـــي درووچوم.»(۱)

کومه ډله چی داکیسی واچوي بله ډله په دې مجبوره ده چی ځواب يې ورکړي. دملګرونه چی چاته معلومه وي سمدستی وایی که خدای می غلط نه کړي ستا سو کیسی د اسی ده، غوږونیسئ. اوه سونی مـوچی اچولی دي، دادي وایی وریء:

۱– دلاس ورغوی ویښته نه لري.

۲– په هګۍ (وییه) باندې ویښته نشته.

۳– ددریاب (سیند) برغولی (برغویلی) نشته.

۴– مرغۍ پې نه لري.

۵– آسمان ته لیار (لار) نشته.

۶– خرښکر نه لری.

ددې کیسی بله بڼه د منګلو کام کې دا ډول ده.

۶۰ – «سی بسی اووه کیسی مې دربوندې.»

د کومی ډلې چې د کیسی د ښو ولووا روي. مجبوره ده چی دد رست ځواب د پاره اوه شیان پو ره کړي. په دې کیسی کی داخبره جو ته ده چې که چیرې سم ځواب ورنکړي په مخامخ ډله یې اووه کیسی اوړي. څوك

(۱) داکیسی د میرزکي په منګلو کې په همدې شکل اچول کیږی.

چې د ښو و ل شوې ډ لی نه و ر باندې پوهوي د اسې يې سر و رما توي .

(۱) نو کان و يښته نه لري .

(۲) غاښونه و يښته نه لري .

(۳) ژ به هډو کی نه لري .

(۴) ـ دغواغولينځ کې هډوکی نشته .

(۵) د پښو تلې و يښته نه لري .

(۶) نو کانو با ندې غوښه نشته .

(۷) هګۍ (و يیه) باندې غوښه نشته .

کله چې ښيو نکی ډله اچو نکې ډلې ته سم ځواب و ر کړي ا و پرې قانع شي يا هم دا مخامخ او سياله ډله دوا ر د ژو ندي کولو د پاره دا کيسې يا د اسې تکرا روي :

«سې بسې او وه کيسې سو در بو ندې .»

هغه ډ له چې کيسې ښيې دې ته ا ړه د ه چې ا و وه شيا ن پوره کړي ، که اووه شيان پو ره نه کړي ، لکه چې د کيسې د بنې او شکل نه څرګنده د ه اووه کيسې په يو ځل و رباند ې او ړي . کيسې دا سې ښيې :

(۱) نوك غوښه ا و و يښته نه لري .

(۲) هګۍ غوښه ا و و يښته نه لري .

۳ـ ژ به هډو کې ا و و يښته نه لري .

(۴) د غو ا غو لینځ هلړو کی نه لري .

(۵) دپښی تلی و یښتان نه لري .

(۶) غاښونه غوښه اوویښته نه لري .

(۷) دریځ اوسول ځلی نشته .

دد غو دریو ښو په شان دا کیسی دا سی هم اچول کیږي :

۶۱— « څکي پځکي چی وهیی نه ښیي یمو (زما) اووه څکی د ربوند ي (۱)

ځوابیی دادی:

۱— خرښکر نه لري .

۲— د ښځی سرغی پی نشته .

۳— د شگو بوري (باري) نشته.

۴— نرغوا یی غوږي نه لري .

۵— نر غوا یی شودې نه کوي .

۶—تنده و یشته نه لري.

۷— شنلړي(شونلړي) و یښته نه لري .

۶۲—داځه دی:

« گړ د ه گړ د ه کی * نه یي کولپ شته ، نه کلی . »

دا کیسی ددوی ترمنځ د ا سی ښود ل کیږی :

داخو جوته د ه چی کورونه او کلا گانی د روا زي لري، هغـــــه

(۱) دا کیسي دا کا کهول په سیمه کي دا سي اچول کیږی.

څنګیر او کولپ کیږي ، دا چې د کولپ او کلي نوم اخیستل شوی دی ، د اسې فکر به کیږي چه دا به د اسې شی و ي چې کو لپ به و ر اچول کیږي اوپه کلي به لږ کیږي ، مګر د اخبره چې ګړ ده ګړ ده کې را غلي نود کیسې اصلي هد ف په همدې ټکي کې د ی ، با ید ه دي چې دا تیر و تنه ، ا بهام او پیچلتوب څرګندشي . ګړ ده ګړ ده کې دهګې (و یې) معنې لري . نود دې کیسې څواب (هګې) د ه .

د کیسیوفولکلوری لوبه کله کله د هلکانو ترمنځ د جنګ د پاره لار هوار وی .

۶۳ـ دا به څه وی ؟

« پورې په ډګر ي ، یوتندی سیرلی څري ، نه یې پښې شته نه ښنګر ي . »

جوته اوښکاره ده چې د کیسیو په اچولو اوښو ولو (حل) کې د و ې مخا مخ ډلې د افولکلوري لو به پەژمې اونورو وزګار و (لایه) وختوکې په د یرو اوو یجر وکې د هلکانو اوماشو ما نو له خوا د شرط د ګټلواووخت د تېر ولو اوسا تیرې د پاره پرمخ بوول کیږي ، چې یوه ډله کیسې واچوي او بله ډله یې با ید وښیي.

د افولکلوري کیسې اولغز د څواب ورکوونکې ډلې د سلګرو نه چې چاته معلومه وي . نود ښوولو د پاره د خپلو سلګر یونه غواړي چې

ستاسو په رضا او خوښه‌به‌د دې کیسې څواب زه ورکړم . که چېرې زه په خطا او غلطه لار ولا رم اوسیالي ډلې زما په څواب قناعت ونکړ نو به بیاد تاسو نه که چاته ښکاره وي سخاسخ به څواب ورکړی‌ء. په دې توګه به د د وی څخه د کیسې داچولو وار ونیسو په هر صورت دادی زه به یې څواب ورکړم :

پورې په ډګیري (میدان ، ډګر) او هوارځای کې چې شنه واښه ولري خلك او کلیوال‌پکې‌خپل مالو نه اوسیرلی (ورغومی) پیایی، د اکیسې چې تیروتنه‌پکې نغښتې‌ده‌داده:سیرلی‌پښې‌لري اود پښو ښنګري يې اوچت معلومیږي . داچې سیرلی په ډګر کې څرې پښې اوښنګري ونه لري نودا ښه داسې ښوول کیږي: دلته تند ی سیرلی دمار (سنګور) سره تشبیه دی، سنګور پښې اوښنګري نه لري بلکه په خپله سینه ښویږی.ددې کیسې څواب سنګوردی چې په ډګر کې کوږی کوږی ښویږي .

۶۴-دا به څه‌شی وي‌اوچا ته به‌معلوم‌وي:

«یمو (زما) یوشی دی ، هر کورته یې څونګې تللې دي.»

کله چې داکیسې دیوې ډلې له خوا واچول شی ، دبلی ډلې د ملګرو نه چې چاته معلومه‌وی‌سمدستی اوبی‌له ډیل نه وایی : دادلمر سترګه ده ، کله چې دسهار له خوا دلمر (میر، نمر) خاته له خوا

لمر راوخیژي شوغلي اووړانګي پي هر کورته رسیږي ، دارنګه د ماسپښین له خواد لمر سترګه چې د لمر لو پدو په خوا لویږی وړانګې یې کورونو ته رسیږي ، دلته د لمر شوغلي او وړانګې دوني د څانګې سره تشبیه دي .

-داڅه دی ؟

«یمو یوشی دی ، درسته ورځ (ګرزي) ګرځی چی ووګا (بیګا) شی پسته سسته توشکه څټ ته کیږ دی . »

د کو سی ډلې چی د کیسی د ښوولو واروي . د کیسی د ځواب دپاره ځان جوړوي، چاته چې معلومه وي، داسې پې ښیلو پیل کوی: غوږونیسئ چې تاسو ته داچول شوې کیسی ځواب درکړم ، څوچې وارزمونږ په برخه شی . د مخامخ ډلې سلګرې ورته وایی : هله ته نر شه کیسی وښیه که ځواب ونه وایې نو به یمونږ (زمونږ) د رباندې واوړي ' او هم به بله کیسی واچوو ، ځواب ورکونکی سمدستی ورته وایی: زه دستا په شان سپړه او پښتون یم ، که خدای کول د دې کیسی سر به درسات کړم اووار به درځخه خپل کړم . د مخامخ سیالې ډلی سلګرې ورته وایی ښه ده غوږې پرې مه کوه کیسی وښیه :

د کیسی ځواب داسی ورکوي :

که سې خدای غلط نه کړي داخو سپړه او سږ (پسه) دی ، په کلیو

اوبانډوکی شپانه دسها ر لهخوا خپلی رمی دڅړ او پوولو دپا ره غرونو ته بیایی ،څه وخت چی دمازدیګر لهخوا رمی بېرته راوستل شی، جوته ده چی پسه اوسپړه لمان (لم) لري کله چی څملی نو خپل لم څټ ته ایږدي په دې کیسی کې دپسه اوسپړي لم دپستی ا ونرمی توشکی سره تشبیه دی ،څکه وایی :«زما یوشی دی ، ټوله ورځ ګرزي چی بیګاه شی پسته سسته توشکه ځانته کېږدي ».

پهدې توګه سخا سخ ډلې ته ځواب ورکوي اوورته وایې دکیسی ځواب سم دی ، اوس دکیسی داچولو وارستا سو دی،پېړه وکړیء خپله کیسی واچویء ،که تاسو زده نه وي او درته معلومه نه وي او اچولی یې نشیء مونږ به بیا کیسی واچوو ،پهدې ډول به ستاسو وارد کیسی دنه اچولوله املهٔ زمونږشی . په دې توګه دافولکلوري لوبه دکیسی په اچولو اوښو دلو پرمخ بوول کیږي .

٦٦-یمو «زما» یوشی دی ، ځوړوبه یې وښیی !:

هغه دا دی :

«ډ ژوندی زیږوي ، او ژوندی مړ . »

داکیسی چی چاته جوته وي نوبې له درنګ نه یې په شودلو پیل کوي : هګی چې د ژوندی چرګې سینی ته کیښود ل شی او د تاکلی مودې نه وروسته چی دچرګې دسینی لاندې و سښل شی ،په هګیو کی

د چرګی دسینی لاندې چرګو ړی ژوندې کیږی چرګه هګی په سبو کې وهی اوچرګو ړې د هګی نه را وزی . کله چی نو ی چرګوړې لو یې شی اوبیانوی هګی کوی. هغه بیا نو ر چرګوړې په دې ډو ل سر ه پیدا کوي . د دې کیسی ځو اب (چرګه اوهګی) دی..

٦٧-دا به چا ته جوت وی:؟

«سر یې په تو (تا) کی دی * ،بیخ یې په سو (ما) کی دی .»

داکیسی داسی شو دل کیږي : شکاره ده چی سو راو میندې کو چنیو ما شو ما نو ته تی ورکوي ، څو چی دسو ر په شو دو ژوند وکړي او وپیږي ، دسو ردتی سر ما شو م په خوله کی نیسی اوشو د پې روي ، دتی بیخ دسو ر په وجو د (ټټر) پو ړې دی څنګه چه کیسی د لغز اوړو نې او تیروتنې د پاره استعما لیږي له آره عمدا مفهو م پکې نغښتی او پر وت دی ، نو د اکیسی اولا دته دتی ورکو لو حا ل راښیی، داچی سو ر خپل خوا ږه اولا دته د ځان غو ړ ورکوی اوپه هغه یی لو یه وي اودسو رولی مینه پرځای کوی.

٦٨-دا څه دی؟

«څې څې (څی) خپل څو ن (څا ن) نه وینې (ګورې).»

دسلګرو له ډلی نه چی چاته داکیسی شکاره وی نو په خندا او نرمه ژ به ورته وایی : که سی خدای غلط نه کړي دا خو وو به (اوبه)

دي چې رواني‌وي ،پرمخ څې اوځانته نه ګوري ، ددې کیسې څواب داوبو حرکت ،بهېدل اوجریان‌دی . (په لښتی کی داوبو بهېدل).

۶۹-دا به څه وی؟

«پنځه یی‌خولی،لس‌یی‌سترګی،لس غوږونه ، پنځه پوزې (پېزې) لس تمیزي ، لس پښې ،لس‌لاسونه اوسل ګوتی لری.»

چاته چې ددې کیسې ښه ښکاره‌وي ، داسی یی په ښو دلو باندې خپله خوا یخوي :

په کلیو اوباندو کی د ښاریا نو په څېر خلک د تګ را تګ ، مړه او ژوندي د پاره عصري اوسو ډرن وسایل په لاس کی‌نه لري ، د وی خپلې اړتیا وې د خپلو منو په زورترسره کوي . کله چې په کلیو اوباندو کی څوک مړشی د مړه جنازه په‌کټ‌کې ایښودل کیږي ، تر جنازې ورو سته څه‌وخت چې مړی دا دیرې په لور واخیستل شی د څلورو تنو پواسطه د خخولو د پاره مړستون ته وړل کیږي ، د جنازې وړل چې د څلورو تنو د خوانه ترسره کیږي اومړی هم ورسره‌وشمېرل شی ، ددې کیسې سم اودرست څواب د جنازې دوړلو حال دی ، دا په دې معنی چې مړی‌او څلور تنه ژوندی کسان پنځه خولې لس لاسونه ،لس‌پښې ، پنځه پوزې ، لس تمیزي ، اس غوږونه اوسل ګوتی لري . (د جنازی دوړلوحال) .

دا کیسی د ځانځی میدان په خلکو کې دا سې ویل کیږي.

۷۰- « یوه بلاراغله د پاسه ، ماونیوه د لاسه ، اته یې پښې اته یې لاسه ، کوربی په بیابان دی ، تیر یې لاندې منډې یې پاسه . »

۷۱-داڅه دی؟

« د وه یې لوسو نه (لا سو نه)، د ړې یې خو لې ، درې یې پوزې ، شپږیې تمیزې ،لس یې پښې ،دوې یې لکی ،شل یې گوتې او شپږ یې غوږونه دي . »

دا به نوڅه وي ؟ وې ښیه .

دا کیسی د سیالو ډلوتر منځ دا سی ښودل شوې ده :

د کلیو او بانډو خلک د کرنی او کښت مځکې د غوا یا نو پوا سطه کولبه کوي ، دوی د خپلو شتو او کرنی دراتولود پاره په خپله سیمه کی پرځان ډیرې ستونځی تېر وي ، ځنګه چې کلبه یوتن کوي ، یعنی د غوا یا نو یوې (کولبه) یوتن سرته رسوي ،دا یو کس چی د غوا یانو په زورخپل پټی کولبه کوي نو داشیان ځاړه ورسره لري . مګر داچی کیسی د تیرو تنی په مفهوم دي نو درسته ښه یې داده ، ځوك چې کولبه کوی هغه یو کس دی هغه دوه لاسونه لري ، درې خولې یوه دانسان اودوې د غوا یا نو ، درې پوزې یوه دسړی دوې دغوا یا نو ، دوه تمیزی دسړی اوځلورد غوا یا نو ، دوه غوږونه د کولبه کوونکی ، ځلور د غوا یانو ، دوه پښې دسړی اته د غوا یانو ، شل گوتی دسړی

د لاسو اوپښو، دوه لکی د غوا یانو . نو په دې توګه وینو چې دا کیسې د کولبې او یوې کولو بڼه اوحال دی . چې په کلیو اوبانډ و کی د خلکو له خوا اجرا کیږي ، په لوسړي ځل څوك چې دا کیسې وا وري اریانیږي .داسې بلاچې دوه لاسونه.دري خولې ، دري پوزې شپږ تمیزي، لس پښې ، دوه لکی، شل ګوتې اوشپږ غوږونه ولري څه به وي ، ر ښتیا هم دا ر یا نتیا خبرده . (کولبـــــــه کـــول)

۷۲-دا به څه شی وی:؟

« بې پښو غل روغی (را غی) ، بې لکی غویی یې بوت . »

په د غه کیسې کی ډ یره په زړه پورې خوندوره تشبیه موجوده ده دا په دې معنی چې غل بې پښونه وي خامخا به پښې لري څوچې ځان خلاص کړي اووتښتی ، غویی بی لکی نه وي ، غوښکی لکی لري . دا چې کیسې د تیرو تنې په معنی ده نو دلته بې پښو غل د مار (منګور) او بې لکی غوښکی د څینګښې (چینلاخې) سره تشبیه دی ،د کیسې درست ځواب (منګو را و څینګښه) دی .

۷۳-دا څه دی؟

« د غوښې (غاښې ، کنډو) سرته یې بوتله ، نوره خپله بوکښده.»

په دې کیسې چې څوك پوهیږي ، بې له در نګ نه وا یی دا خو د ډوډۍ (سړۍ) خمڅه (ګوله ، شخو ند) ده ، کله چې یوه خمڅه

سړی د خولې له لارې د مړی سرته ورسیږي ، بیا له کومې وقفې اوځنډ نه معدې او نس ته رسیږي او ښکته پسې لویږي ، څوچې په نس کې هضم شي دلته د غاښې سره د مړی په مفهوم دی ..

۷۴-دا به څه شی وی ؟:

« توره مې توتکه دو(ده) * دګړ د(ټول) کلی ملکه دو(ده) . »

د مخامخ سیالو ډلو نه د کومې ډلې له خوا چې دا کیسې وا چول شی هغه بله ډله یې ښیی،چاته چې جوته وي وایي دا کیسې به زه و ښیم. ددې کیسې مطلب یو لوښی دی چې په کلیو او باندو کې د خوراک او کنډو د پاره په کار کیږي یعني په کلیو کې کلیوال خپل غوږي په کور خو (کټیري، ارکاره) کې سره کوي او ویایي دمړی او نورو خو رو د پاسه اچوي ، ارکاره او کورخوچې په اوربانديې کیښودل شی تور یږي دا چې د غوا زېږ غوږي پکې تودیږي او خلک د غوږیو سره مینه لري نو ځکه دارکاري سره هم مینه لري . له دې امله یې د کلی ملکه شمېري (ارکاره ، کورخو ، کټیری)

۷۵-دا څه دی:؟

« وږوکې (کمکی) کما لی * لویه یې لکی . »

ددې کیسې درسته اوسمه ښه د سیالو ډلو له خوا ښوول شوې ده او د کلیو په ماشو مانو کې دا کیسې د ساتیرۍ د پاره استعمالیږي چې ستن

او تارته‌وایی،وړو کی کمالی‌د ستنی‌معنی‌لری او لکی یی د تارسره تشبیه ده (ستن او تار)

۷۶-دا کیسی به څوك درسته اوسمه وښیی؟

« اول یې ګیره (ډیره) سپینه شی * ، څټ ته توره شی . »

دا کیسی د هر زیات فکر غواړي دا څکه چی هیڅکله دانسان په ژوند کې داسې پېښه شوې‌نه ده چې ګیره‌دې داول‌نه سپینه وي او بیادې پسې توره شی ، دانو په ژوندانه کې برعکس کاردی ، مګر چاته چې ددې کیسی اصل معلوم وي هغوی ته‌څه سختی نه لري اوسمدستی وایی داخو د جوار د غوتی څنې دي ، کله چی جوار غوتی او څنې واچوی د څنیو وینبتان یې سپین وي ، څه وخت چې جوار پخیږي اوپو خوالی ته نږدې شی د څنو تارونه یی چی پر غوتی ښکته راځوړندوي توریري اووچوالی پیدا کوي ، په رښتیا د جوار اول ګیره سپینه وي او وروسته پسی توره شی . (د جوار د غوتی څنې)

۷۷-دا به څه وی؟

« دورځې ګرزي (ګرځی)* دشپی په ځون (ځان) ازغی (اغزي) چوی (اچوي) . »

داکیسی هم د هر پام کول غواړي ، دا څکه څوك چې دورځې کارو کړي اوستړي شي ،دې ته اړدی چی د مه ،ارام اواستراحت‌وکړي

څوچې ستړ تیا یې ورکه شی، که پر ځان اغزي واچوي د دې پر ځای چې استراحت وکړي نور هم پسې په تکلیف کیږي. دا چې کیسی د تیروتنې اولغز په مفهوم اچول کیږي اودد وډلو تر منځ پرمخ بوول کیږي نو ددې کیسی اچول ډېر په زړه پورې دي، چاته چې څرګندهوي نوداسی یې په ښو دلوخپله خوایخو ي: داد سترګو بانه دي، څه وخت چې سړی ویده شی سترګې پټوي نود سترګو بانه داغزیو سره تشبیه دي.

۷۸-داڅه دی!اوخوږ به یې وښیی:

«تو ره تیره تانګ ویي (وهی) * بابو مزری شرنګ ویي (وهی).» دا کیسی چې چاته جوته وي، .یې له ډیل نه وایی: دادتو پک ډزدی،دبابومزری شرنګ وهل د توپکآواز اوډزسره تشبیه‌دی.

۷۹-دا به څه وی:؟

«ښکته څم (کوړته څم) پورته سې کور(کار) دی * د غره‌په‌سرانګور (انګار) دی.»

د سیالی ډلی نه چې کوم تن پرې پوهیږي ورته وایی یاره وروره! دا سې خوندوره کیسی دې واچوله چې ماته یې هم خوندرا کړه، دا دی ځواب به یې زه درکړم، په دې کیسی کې ډېرې ښې تشبیې نغښتې دي، کوړته‌تګ، پورته کار، د غره په سرانګار دا سی خبرې دي

چی سړی اریانوي : نوواو ریء چی درته یی وښیم دا د چلم څکول دی ، چلم کی او به ا چول کیږي ، چلم د څکولو په وخت کی سړی کش کوی، د کش کولو وخت کی سپلو پ د نس خواته ښکته دروسی لوگی د چلم څخه پورته را کشکیږي پورته کاردلوگی را تولو لو سره په خوله کی تشبیه دي، څنگه چی د چلم په څر خونه باندې سکر و ټه د تماکیو (تمباکو) د تازه کولو د پاره ا یښودل گیږي نود چلم څر خونه د غره او انگا ر د غره په سر د سکر و ټې سره تشبیه دي . (چلم ، سیلوبې او سکر و ټه) .

۸۰-دا به څه شی وی؟ :

«توره توره تله* ددووترمنځ ولگیده»

د کومی ډلې له خوا چی داکیسی وا چول شی ،دبلی ډلې له خوا هغه ښودل کیږي ، دښوونکې ډلې نه چی چاته معلومه وي بې له درنگ نه ورته وایی داکیسی به سونږ وښیو غوږ ونیسی ءچی وروسته له هغې سونږ کیسی واچوو: که می خد ای(ج) غلط نکړي داخو سپږه ده ،خوك چی شپږه پیدا کړي . ددوونو کانو پواسطه بې وژنی ،څنگه چی دسپږی رنگ توردی اوپه نو کانو وژل کیږی نوځکه وایی ،توره توره تله ددوو ترمنځ ولگیده ، (دسپږې وژل) .

۸۱-داخه دی؟:

«یمو یوشی دی ،پټکی یې نه خلو سیږي .»

د دې کیسی ځواب چې چاته نه وی معلوم سخت دي ،چاته چه معلوم وي اسان دی ، داځکه پرې پوهیږي نو یې ښو ولی همشی . داسی یوشی چې پټکی وهی اونه تماسیږی نو به دوسره ډیر رخت دپټکی دپاره دکوم ځای نه پیدا شی ، داچې دکیسی غایه اوهدف په دې ټکي کی دی ،نو چاته چې معلومه وي سمدستی یې یې له کوم درنګ نه ښیی : داخو لا روي دی چې پر لار دروسی اولار نه خلا سیږي ،بل ملګری سمدستی غږ پرې کوي غلط شوې لاروی چې کورته یا خپل منزل سرته ورسوی هلته دیره کیږي اولار یې خلا سیږي ، دریم ملګری غږپرې کوي خبره سونیږدې کړه زهبه یې اوس وښیم ، داخو په خپله لار (لیار) ده څومره چې سړی په لارځی اولار وهی نه خلاسیږي، دلته لاردپټکی سره تشبیه ده .

۸۲-ددې کیسی ځواب به څوک راکړی::

«چې سپین وي تورنه وي * چې توروي سپین نه وي .»

که ځیر شو ددې کیسی ځواب څه پام اوسوچ غواړي ،دمنطق له مخی توراوسپین یعنی ضدین نه سره یوځای کیږي ، که حل کوونکی غور ونکړي خامخا تیروزی اوپه اصله بنه یې نشی ښوولی دملګرو له منځ نه چې چاته جوته وي سمدستی غږ کوي ،که مې خدای پاك غلطنه

کړي داخو شپه اوورځ دي ،چی شپه شی‌ورځ نه وي چه‌ورځ وی‌شپه نه‌وي (شپه اوورځ).

۸۳-دا به څه وی:؟

«یوه یی متې (ستن ،ستون ،پایه) درې یې بومه .»

داکیسی هم څه‌فکر غواړي واردواره چی چاته معلومه اوښکاره‌نه وي نشی یې‌شودلی ،دائکه په‌یوه متې اوستن باندې درې بامه نشی دربدلی څوك چی پرې پوه و ی یې له ډیل نه وایی داخو دشوتلې (شفتله) ډکی دی چی‌درې پانی لری او په یو ه ډنډر باندې یی درې پخی (پانی) شنی کیږی ،دلته متې دشوتلې ددکې اودرې بامونه دپانوسره تشبیه‌شوي دي ،.(شوتله).

۸۴- به څه شی وی ؟:

«چی کش یې کې لنډیږي * چی پرې یږدي اوږدیږي .»

دملگرو یوله‌ډلی نه‌چاته چې داکیسی معلومه‌وي ،نونورو ملگر یو ته وایی که خد ای می‌غلط نه‌کړي داکیسی به‌زه وښیم :داکیسی داسی‌یوشی دي چی په هغه باندې ډیر ولس عملی شوی دي ،چاته چی دا عمل په‌هغه وخت‌کې چی دی ورسر ه عمل لری ورونه رسیږي ،له‌څه سودې وروسته یې په سر درد کیږی اوگنگسیت هم ورته پیدا کیږي . نودا دچلم اوسگرټو څکول دی ،څوك چې سگرټ اوچلم څکوی .دود اولوگی

یی ځانته کش کوي ،لوګی په‌خوله کی غونډاو ټولیږی ،کله‌چی دکش نه‌خلاص شی لوګی دخولې څخه و باسی ،دارا ټول شوی لوګی دخولې نه چې وویستل شی دهوا په څپو کی اوږ دیږي ، ا خوادیخوا ته‌ورکیږی (چلم اوسګرټ څکول .)

۸۵-داشی به‌چا ته‌معلوم‌وی ؟ :

څه شی دي :

یووار یې وښیه .

« په یوه رپ څی(ځی) آسمون (آسمان)ته *چور چوپړه(چارچا پیره) ټول جهان ته .»

کله‌چی داکیسی دیوتن له‌خوا واچول شی ،دملګرو له‌منځ نه‌چی دکوم څېرك هلك پام ورته ورسېږي سمدستی بی‌له کوم درنګ نه ورته وا یی، زه به‌یې وښیم ،نورملګري په‌خندا ورته وایی ښه‌ده وایه : داخو دستر ګو دید (نظر) دی . دستر ګو په‌دید اونظر سره مونږ تاسی په یورپ آسمانونو دنړی پرمخ چور چو پیره شیان چی زمونږ په چاپیر یال کی پراته دي لیدلی یی شو. (دسترګو دید .)

۸۶-داڅه‌دی؟:

«ته ډینګل ډ ینګل شه خوږې *که‌دلمر وچه ډوډه خوږې.»

مونږ دمخه وویل چی‌دسیالو ډلو ترمنځ کله کیسی رندانه اوپه بې‌باکه بڼه اچول کیږي ، ددادول رندانه کیسیو په‌اچولوددوی ترمنځ دخنداو

ټوکو بازار تودیږي ،داسپکې کیسې چې دوی یې سره اچوي کله کله ددې سبب کیږي چې ترمنځ یې جنګ جوړشي ،داځکه یوه ډله دارندانه کیسې د ځان دپاره پیغور ګڼي اوخواپرې بدوي چې مونږ ته موسپك نظر وکړ ، څرګنده ده چې پښتانه دپیغور په مقابل کې احساسات څرګندوي ،په دې وجه یې ترمنځ جنګ اوجګړه جوړیږي.داکیسې چې چاته معلومه وي اچونکی ډلې ته وایی ډیره سپکه کیسې موو اچوله ،داده د رته به یې وښیو : داخو دانسان بولی اوغول دی چې دلمر پواسطه وچ شوي وي مونږ دلمر وچه ډوډه نه خورو ، تاسی واچوله تاسی یې ځانته څنګه ګڼیء

۸۷-دا به څه شی وی ؟

څوك به یې وښیې .

هغه دادی .

«توردی وروغ (کارګه ،کارغه) نه دی* بور (بار) وړی بوري نه دی ورځی (الوزی) مرغه نه دی . »

دسیالو ډلونه دکومې ډلې چې دښیلو واروي او داکیسې ورته جوته وي نو داسې یې په ښیلو پیل کوي :که غلت نشم داخو ګونګټه ده ،ګونګټه ورځی دسر غا نو په ډله کې نه ده. غوشایه رغړ وي باري(بوری) نه ده ،توره ده کا رغه نه ده ،ګونګټه دخو ځندوپه ډله کې ده (ګونګټه ،ګینګټه.)

۸۸-د ا څه دی ؟

اوخوك به يې وښيي .

«انګړ توته انګړ موته * انګړ وخوت اوو(هوا) ته.»

کومه ډله چې داکیسی واچوي بلهيې په ښيلوپيل کوي ،داکیسی ډير فکر غواړي ،ځکه سړي ته چې داشی معلوم نه وی نو به وايی چی انګړ به کور وي ،داچې کور اوانګړ په اوو (هوا) کې نه آبادیږي اونه دادانسان دوس نه پوره ده .داچې دکیسی بنه انګړ توته انګړ موته انګړو خوت اوو(هوا) ته په زړه پورې تېر وتنه ده چې دذهنی قوت په زور حل کیږي ، داکیسی چی ښیونکي ډله ښې نواچونکي ډلې ته وايی غوږونیسی کیسی داده: دوه تنه چې یوبل ته وګوری اوسره ووینی او بیا مخ پورته (پورته) اسمان ته واړوي او اسمان ووینی نو وايی انګړ توته انګړ موته انګړ وخوت اووته داد ستر گو دید اونظر (نزیر) دی .

۸۹-د ا به څه وی ؟

«الی [علی] بابا سو ریږي (سپر یږي) * ووړه (کمکی ،ماشومان ، هلکان) ورته خوشولیږی (خوشالیږي).»

داکیسی هم څه فکر غواړي ،داچی علی بابا سپورشی اووړه ورته خوشال شی دغه دپاره ؟ داچی کیسی دکلیو اوبانډو دهلکانو له خوا په لایه وخت کې یوبل ته سره ښیل اواچول کیږي ،نو دملګرو دمنځ نه چې

چاته داکیسی څرګندهوي ورته وایی: ورونو اوملګریو سونږ تاسی خو غریب اوییوزله خوار ولس یو څه وخت چې زمونږ په کورو کی د کورسشرې میرمنې تبخی (تبی) په نغري باندې داوردپاسه دډوډی اوسړی دپخو لودپاره پرې کیږدی ،نو واړه هلکان چې وږي وي دتبخی په لیدو ډیر خوشالیږي . داتبخی دی چیډوډی دپخولو دپاره پهنغري باندې کیښود ل کیږي دلته الیبابا دتبخی سره تشبیه شوی دی ، پهکیسیوکې غوره تشبیهات نغښتی دي .

داکیسی پهدې بڼه هم اچول کیږي .

«الیبابا سوریږی * نوکرون (نوکران) یې خوشولیږي (خوشا لیږی»

«توربابا سوریږي ❀ کاروان (کارووں) ورته خوشولیږي.»

۹۰-داڅه شی دی ؟

« بوخبوخ یې غوږونه ❀ په لوړوهي ډولونه »

چاته چې دلوبغاړو ډلونه داکیسی معلومه وي دخپلو ملګرونـــــه خوښه اخلی اود هغوی په اجازه دکیسی سمه بڼه څرګندهوي ، که خدای مې غلط نه کړيداخو غړکه ده ، مال چې حلال کړي (وزه)څرمن یې وباسی اوغړکه ځني جوړوي ، په غړ کې کلیوال اوباندې وال خلک تروي مښي (میږي) دلته بوخ بوخ غوږونه دغړکې د پښو

د پښانګوسره تشبیه دي چې د سړلو په وخت کې پورته ولاړوي، ډول وهل د غړ کې ښورېدل اومښل دي .نو ددې کیسې ځواب (غړ که) دی .

۹۱-داڅه شی دی ؟

« پرتکی پرتوونکی دی * په وچ کمره ختونکی دی »

خوک چې ددې کیسې په معنی باندې خبر اوپوهوي وایي دا به زه وښیم ، که غلط نشم دا خو پیری دی ، ځکه خلکوایي چې پیریان په لوړه ، ژوره ، سمه اوغره خیژي دا نو پیری دی .

۹۲-داڅه شی دی ؟

« دوې خویندې دي ، په منځ کې یې ستر اولوړغر ولاړدی»

د سخامخ ډلونه کومه ډله چې داکیسې واچوی بله ډله یې په ښیلو باندې ځان مجبورښولی اووایی تاسی کیسې واچوله سونبر به یې دنر په شان ځواب درکړو اووار به درځخه ونیسو، دسلګرو له منځ نه چې چاته جوته وي بې له درنګ نه وایی ستاسو په خوښه اورضا به یې زه وښیم، سلګري ورته وایی ژرشه صرفه مه کړه داخو به دې سونبر نیکی وګڼو ، دی وایی که غلطنه وم دا خودانسان دوې ستر ګې اوپوزه دي یعنی سونبر دوې سترګی لروچې د خویندو سره تشبیه دي ،

لوړ غرد سترګو تر منځ د پوزې سره تشبیه شوی دی ، اوس به درته پوره معلومه شوې وي او کەنه؟

۹۳-داڅه دي ؟

« د غره په سر ټوکر کی * ورکې ناست دی خټو رکی »

کومه ډله چې داکیسې واچوی ، بله ډله یې په ښیلو اوجوتولو باندې پیل کوي ، دښیونکيډلې ملګری کوښښ کوي چې سم اودرست شکل یې پیدا کړي اوپه دې توګه د کیسې سرمات کړي اووار ورځنې وګټې نو چاته چې معلومهوي ورته وایي غوږونیسیء اوځواب یې واوری ء چې سمدی اوکەنه، کەسې خدای غلط نه کړي دا خو (پرګی) دی پرګی د څېړی دونې میوه ده بیخ یې ګردی د ټوکری په څېر کلک پوټکی لري اوهغه د پرګی ددوهم نرم پوټکی اوپوستکی نه پلمدی ځکه وایی چې د غرەپه سرټوکرکی. دا دغره په سرټوکرکی د څېړی د ډکې په سرکې د پرګی د کلک پوټکی معنی لري او خټو رکی په خپله د پرګیمیوه ده. په دې ډول سره د کیسې ځواب ورکوي .

۹۴-داڅه شی دي ؟

« زېړه غوائی * په نړۍ »

داکیسې چې چاته معلومه وي سمد لاسه اوبې له درنګ نه وایي

چې دا خو د ډول وهل دي چې دورا ، لښکر اواخترنو په وړځو کې ترسره کيږي .

۹۵ـدا به څه وی: اوښوک به يې وښيي :

« شور وا يې خوړل کيدای شی اوغو ښه يې نه خوړل کيږي » دسيالو او مخامخ ډلونه کومه ډله چې دا کيسی واچوي بله ډله يې سرورما توي او ځان اړبولی چې ځواب يې درست ورکړي که دښيلونه عاجزشی ورته وايی په سونږ سويوه باندې اووار دستاسو وي اچولې سوده ويې ښيی ع . په دې ډول اچوونکی ډله کيسی دامې ورته ښيي دا خو چنگاښ (کينی کبر) دی ، دی په اوبو کې ژوند کوي اوبه خلک کورونو ته راوړي او څښيي ، دلته اوبه دشورواسره تشبيه دي اوخپله چنگاښ چې څوک يې نه خوري دغوښې سره تشبيه شوی دی ، په دې توګه سم اوصحيح ځواب ورکوي ، اودبلې کيسی په اچولوچې واړيی ځنې ګټلې دی پيل کوي .....

۹۶ـدا به څه وی:

«غوړونيسه شاعره(شوبره)په هوا(او و)کې يوه کلاده«د و»
سر يې دې مخ ښکته(مخ کوړته) ټول الم(عالم)ته بر الله ده(دو)
مخلوق ته ضرر يې ده(دو)ټول الم ته بر الاده .

ځواب(ځووب)درځینی(درنه)غواړمه(غووړم)راته(روته)ووایه‌حالونه(الونه).»

یادونه:داکیسې دلغمان پەسیمه کې وجودلري.

دکومې‌ډلې‌چې‌دکیسې‌د ښیلو وارويې‌او کوم‌تن‌ته چې‌جوته ويې‌سم‌دستی وایی :داخو د غومبسو (سچیو) ګړی او کور دی،دغومبسو او سچیو کور په هوا کی مخ‌ښکته او کور ته جوړیږي. هغه مخلوق چې پکې‌اوسیږي غومبسی‌دي، څنګه چې‌غومبسی‌او سچی‌سړی‌چیچی‌نو ځکه‌وایی الم ته‌ضرري دی.

څنګه‌چې‌غومبسی‌خپله‌چته او کور په هوا کې‌مخ کور ته جوړوي،نود لته‌په هوا کې کلادغومبسو دګړي‌سره‌تشبیه‌ده‌او غومبسې‌دخلکو سره‌تشبې شوې‌دي.

۹۷-دا به څه شی وي ؟

«دوه‌دبرش يې‌دي‌گوتې ،يوه‌پښه دوه‌يې‌غوړونه، داخه‌شی‌دي‌شاعره‌دده نشته‌دي‌لاسونه».

یا داسی :

«دوه‌دبرش‌يې‌دي‌گوتې،مدام‌گرځی‌سر گردان.

داتوله‌ورځ خورځ‌دن‌کا،نه سخن‌کانه پريشان .

داتوله‌ورځ خوژاړی‌مداماً لکه حیوان.»

چاته‌چې داکیسی‌معلو مه‌وي‌داسی يې‌سرما توي: دوه دبرش غاشونه دژرندې‌دخرخ‌دپرو (لرګینو درو)سره‌تشبیه‌دی،ژرنده‌ژ به‌نه‌لري‌چې‌څه‌پرې وو ایی‌او خبرې‌پرې‌وکړي دلتدیې‌ژړا دژرندې‌درته‌او خرخ‌دپرو دغږسره

تشبیه ده.نو د کیسی سم ځواب ژ رنده اودژرندې گرزېدل (گرځیدل)دی .

۹۸-دا به څه وي او څوک به يې سم ځواب را کړي؟

«یوشی سی دی لیدلی دستنی په مقدار .

شل دېرش خروره (خرواره) پروتوي تل وربانديې بار .

نه ستړی نه ستومانوي يم حيران په داسی کار .

شاعر دې ځواب را کړي دالاڅه بلاده.»

ددې کیسی په اوریدو سړی اریانیږي چې دا نو څه دي، دستنی غوندې شی باندې دېرش خرواره بار دعقل نه لرې خبره او کار دی، خو د کیسیوارزښت هم په دې کی دی چې ذهن په کار اچوي او ښیونکی ډېر فکر پکې کوي څوچې سم ځواب برابر او کیسی په اصله ښه وښیی.د کیسی ښوونه ددې ډېر پام او سوچ پواسطه ترسره کیږي،چاته چې دا کیسی پوره جوته وي نو بې له درنګ نه وايي: داخو د وتر دی،دلته موتر دستنې سره تشبیه دی.موتر باروړي سمه ښه بې بار او ډک موتر دی.

۹۹-دا به څه وي؟

«دا کوسه هګی(وییه) ده(دو)چې بې سوره وشرېږي.

او وه میاشتې دامړه وي په اتمه (وتمه)ژوندی کیږي.

په وخت دلمر خاته (خوته) دا(دو)بی سوره وزیږي .

یوه دوې میاشتی داژوندی پسې سړی دځنکدن (زلکدم)وي. »

دمخامخ سیالو ډلونه د کومې ډلې چې دښیلو (ښودلو) واروي او چاته چې د اکیسې معلومه وي په ښیلو یې پیل کوي ، که سم ځواب ورنکړي اچوونکې ډله د پیغور په ډکه خوله ورته وایي: (یوه سې درنې وو ښته «دربانديشوه» دایې پسې بله) تاسو خوزده نه ده دا به مونږ درته وښیو مخامخ ډله ورته ښه کوي. ښه ده تاسې یې وښیې ء: دادې چمچی (چینجی) هګۍ او دچمچی (چنجی) دپیدا کید و او مړ کیدو حال دی .

۱۰۰- دا به څه شی وي؟

«داخه شی دي شاعره (شوبره) راته وو ایه (وایه) حالونه (الونه).
چې یو یې دی ګریوان (ګریوون) دوه وباسی (ووبسی) سرونه .
پر منځ سر خوراک لري او سپین یې دي سرونه .
لکی یې د زمري ده (دو) ټول خلك یې کی دیدنونه.»

هغه ډله چې دا کیسی ورځواب کوي او دوی نه کوم ځوان ته دا کیسی معلومه وی ورته وایي: دسلګرو په خوښه به زه دا کیسی وښیم، دمخامخ ډلې سلګري ورته وایي زرشه سرپه (صرفه) مه کوه، که ته یې نشې شیلی مونږ به یې وښیو او بیا به بله پسې واچو او دا به دربانديشی . هغه ځوان چې په معنی یې پوه وي ورته وایی غوږ ونیسی ء که ماسم ځواب درنکړ بیانو تاسی کولای شی ء چې په خپله یی وښیې ء دا ده د دوی کیسی چې اچولې یې ده ورته معلومه به شی او داچولو واربه ونیسو دمخامخ ډلې سلګري ورته وایی سمه ده زمونږ غوږ دی:

داخودسالو چودتکولو «ډنډس ، ډپډپ»دی.په‌دې‌دول مخامخ ډله‌قناعت کوي .
او و رته‌وایی شاباس سم ځواب مورا کړ او صحیح مووښیله .

۱۰۱- دا به څه‌وي ؟

«غاښو نه‌لري او خو رو ک(خو راك)نشی‌پرې‌کو لای.»

د کلیو او باندو هلکان چې دا کیسی‌سره و اچوي، هریو تن کوښښ کوي چې‌دنو رو ملګریو نه مخکی‌کیسی وښیی او په‌دې‌توګه دملګرو منځ کی نو م‌پیدا کي‌نو چې‌چاته‌داشی‌جوت‌وي‌و رته‌وایی: که‌مې‌خدای‌پاك غلت (غلط) نکړي داخو ګمنځ (غمنځ ، ډمنځ)ده‌چې‌خلك سر و نه پری ګمنځوی . د کمنځی‌په غاښو و ینښتان ګمنځ کیږي‌نو ځکه‌وایی غاښو نه‌لري او خو راك پرې‌نه‌کوي.

۱۰۲- دا به څه‌وي ؟

«از و م(از ان) کوي‌سلو (ملا)نه‌دی*،شو (شا) لري‌بنده(انسان)نه‌دی.»

دمخامخ ډلونه کومه‌ډله‌چې‌دا کیسی‌واچوي‌بله‌ډله‌يې‌په‌ښیلواوښودلوبرید کوي،ددوی دمنځ نه‌چې‌چاته‌جوته‌وي‌يې‌له‌درنګ‌نه‌وایی: داخواسانه کیسی‌ده‌غوږونیسی‌عجه‌درته وی‌ښیم‌داچرګ‌دی چرګان‌بانګ‌اواز ان کوي ،شالري‌ملااوانسان نه‌دی‌بلکه‌سرغه‌دی.

۱۰۳- دا څه‌دي؟

«و وته(اته)شله‌يې‌غاښو نه (غوښو نه) په‌و وتو(اتو) پښو رو و ن (رو ان) دی،داڅه‌ر کم (څرنګه)انسو ن(انسان) دی. »

د دې کیسی په‌او ریدو سره سړی‌ار یانیږي،داڅکه یو انسان ۳۳او.۳ غاښو نه

اودوې پښې لري، داچې اتهشلهغاښونه اواته پښې ښودل شوېدي رښتيا هم‌سړی حيرانوي ،سګرداچی کيسې دذهنې مسابقې‌اوتيروتنې‌په مفهوم‌ويل کيږي نوځکه ارزښت لري ، داکيسې په زړه پورې بڼه اوڅيره لري ، ددې ارزښت دښيلونه بڼه‌جوتيږي، داپه‌دې‌معنې‌داخوسړی نه دی چې په اتو پښوروان وي‌اواته شلهغاښونه‌يې‌په‌خوله کې‌وي.ځوکځې‌چې پرې‌پوهيږي داسې يې‌ځوابوي: دادسړه‌دجنازې‌دوړلوحال‌دی.سړی‌په‌کليو اواو باندو کې په کټ کې وری،دکټ څلورپښې يويوکس‌نيسي‌او په‌اوږو باندې‌يې‌ږدي . داڅلورتنه‌اته‌پښې‌لري اودسړه پښې‌هم‌ورسره حسا يږي‌اتهشله غاښونه دڅلورتنوچې جنازه‌وړي اودسړه هم‌ورسره حسا بوي.اوس جوته‌شوه‌چې دادې‌جنازې‌وړل‌دي .

۱۰۴-داڅه‌دي؟

«دآبالونګی (لنګی) مې‌دوسره ده،چې ټولوم يې‌نه‌ټوليږي.»

چاته‌چې‌داکيسې‌مالوسه(معلوسه) وي يې‌له ډيل‌نه‌وايې‌داخولار(ليار)ده په‌لارچې سړی‌ځی نه‌خلاسيږي، دلته‌دسړی‌تګ په‌لاره‌باندې‌دلنګی‌دټولېدو سره‌تشبيه‌دی.

۱۰۵-داڅه دی؟

«وس (آس)وبلوړ(ولاړ)* نس‌يې‌لوړ(لاړ) .

کومه ډله چې کيسې‌ښيي هغه دستي‌ورته وايې داخوتوپک دی چې

وارپرې وکړ ې سړ د کی يې سمدستی له نس نه وځی او لږ ې ځای ته رسيږي، دلته آس دتو پلکسره تشبيه دی .

۱۰۶ـ دا به څه شی وی؟

«وو ته وو ته (اته اته) يې پښی دي *په خپل منځ کې نه لنډ ې نه اوږ دې دي نه سمې نه کږې دي.»

نو به څه وي .؟

د سلګرو د منځ نه چې چاته دا کيسی ښکاره وي او پر ې پو هيږي يې له درنګ نه و رته وايې : که خدای می غلطنه کړي داخو کينی کبر دی ،د کينی کبر خوار پښې د ږې او کږې و ږې دي (کينی کبر ،پنج پاړو، پنج بابا، کنجی پوړ)

۱۰۷ـ دا څه دي؟

«بند په بند، *ار (هر) بندې لري خو ند.»

دا کيسی په عمو سی تو ګه هغو سيمو کې رواج لري چې هلته ګنی او نيشکر کرل کيږي. د د ې کيسی ځواب دبو رې او ګو رې ګنی دي ، ګنی خلك بند په بند پر ې کوي، سپينوی يې او بيايې منځ ځيښی (ژوبې) او خو ږه (خوګه) يې تيروي.

۱۰۸ـ دا څه شی دی؟

«څی (څی) څی* نه دريږي.»

دسيالو او مخامخ ډلو نه کو مه ډله چې د ا کيسی و اچوي بله ډله يې سر و ر

ماتوي او وار ځینی نیسی اودا کیسی داسی ځوابوي: داخوو به(اوبه) دي او به پرمخ روانې وي او نه دریږي.

۱۰۹-دا به شی څه وی؟

«څلور پې پښې ،تریسوب(حساب)پې تېرې دي کولمی.»

دا کیسی چې چاته ښکاره او څرګنده نه وي او وایې وري نوو رته اریانیږي دا په دي معنی،څلور بولی ژوي حیوانات چې څوک حلال کړي کولمی پې شمارلی اوګڼلی شی، داچې داسی یوشی چې څلور پښې ولري او کولمی پې ترحساب تیروي ربښتیاهم سړی په اشتباه کې اچوي، نووایی چی دابه څه وي؟چاته چې مالومه (معلومه)وي پې له کومې خبرې او فکر نه وایې :داخو کټ دی ،کټ څلور پښې لري او کله چې په کټبون و پیر لشی نود کټبون(بوڼ) پیر ل د کولمو سره تشبیه دی او چاشمارلی نه دي.ځکه وایی څلور پې پښې تریسوب پې تر پې کولمي...

په دې توګه دسیالو و او مخامخ ډلوترمنځ دافولکوری لوبه دوارپه نیولو سره کله کله په ویجرو(دیرو) کې ترسره کیږی.

۱۱۰دا څه شی دي ؟

«څلرویشت ساته گرزي (گرځی) خوب نه لري .»

دابه نو څه وي.

څوک چې دا کیسی واوري حیرانیږي دا ځکه کوم شی چې سپلوي ولري هغه خامخا

خوب کوي اوبې خوبه نه پاتې کیږي،داسې یوشی چی ځلرویشت ساعته وګرځی او خوب ونکړي .نو ربښتیا هم په لومړي نظر سره سړی په فکر کې اچوي اووایی چې دابه نوښه وي ؟خو چاته چې داکیسی معلومه وي دستی وایی: داخوساعت دی په ساعت باندې وخت معلوموي.ټوله شپه او ورځ څه چې خراپ شوی نه وي خپل ټیم دتل دپاره وهی اوګرځی .(ساعت ، ګړی) .

۱۱۱-داڅه دي ؟

«چې څم (ځم)رنه (راڅخه)پوتې (پاتې) کیږي) .

داخو ښکاره اومنلې، خبره ده څوک چې له یو ځای نه بل ځای ته ځی څه مال له ځان سره وري اویابه څه پر یږدي ،خو داچی هر وخت ځی اوڅه و رنه پاتې کیږي داحال څه فکر غواړي اوخبره دومره په اسانه نه معلومیږي،چاته چې داکیسی جوته وي اوپرې پوهیږي وایی ددې کیسی ښیل خو اسا ن دي دومره فکر نه غواړی غو ږونیسیء چې زه یې وښیم :داخو دپښو پل اوکدم دی ، سړی چې په لار ځی دپښو پل یې پاتی کیږي ،نو ځکه وایی چی ځم رنه پوتې کیږي.

۱۱۲-دا به څه شی وي ؟

«چې څم(ځم) رو سره (راسره)څی * چې نه څم نه څی.»

ددې کیسی په اوریدو هم سړی اریا نیږي ، دا په دې معنی داسې یوشی چی ځې درسره ځې اوچی نه ځی نه د رسره ځی ربښتیا هم سړی په فکر کې ډوبوي .

داځکه ډ پر شیا ن دي لکه قلم ، ګمنځ ، د لاس لکړه اونو ر سړی

دځا ن سر ه وړلی او راوړلی شی خوسره ددې هم داشیا ن ورکه لري او ماتیږي نو له دې امله سړی په اشتباه کې لو یږي چې دابه څه وي ؟ هغه څوك چې پرې پو ه وي بې له ډیل اودرنګ نه وایی داخو زمونږ د وجود (تنې ،ونې) خپله سیو ر (سبره) ده . سړی چې روان شی سیو ره یې هم ور سر ه کله ترڅټ اوکله ترمخ په لاروړسره رو ا نه وي ، د سیو ری څټ اومخ ته کښ ل په ر نا اودلمر په وړانګو پو ري اړه لري .

۱۱۳-دا به څه وي ؟

« دی الو ل (حلال) دی * ،رنګ یې دسړدوړ (سر دار) دی .»

داکیسې چې چاته معلومه وي ،بې له ډیل نه وایی داخو شکوڼ دی، دشکانه غو ښه د خو راك دپا ره ډېره په زړه پو ري ده ، داچې د ده رنګ خلکو ته خو ندنه ورکوي نو وایی دی الو ل دی رنګ یې دسړدوړ دی . .

۱۱۴-دا څه دي ؟

«یمو (زما) داري(داسې)یو شی دی *هر چېر ته دی اوپه هر څه دپوسه سپو ر دی.»

دمخا مخ ډلو نه کومه ډله چې داکیسې واچوي دبلې ډلې ملګري یې په ښیلو برید اوپیل کوي ، ددوی نه چې کوم تن ته معلومه وی دنو رو ملګر و په خوښه خپلې سیا لې ډلې ته ځواب ورکوي اوښیی یې. دی دسیا لې ډلې په ملګر و غږ کوي اوپه خند اورته وایی غو ږ کیږ دیء زه به یې و ښیم . دسیا لی ډلې همځو لی (امزولی)) ورته وایی زر شه

دابه ډېره ښه شی: نو داسی په خندا وایی، داخو داسما نستر گه اولمردی، دلمر وړ انگې اور نادنړی پر مخ خوره ده اوهر ځای ته یې ر نا یې ر سیږ ي هو! لمرد نړی د پاسه ولاړدی.

۱۱۵ـ داڅه شی دي ؟

«یو خخ (خښ ،شخ) که (کړ ه) * ډ یر و بسه (وبا سه) ، و کا ړه (وو کړ ه) .»

د کلیو اوباند وخوار اوبیوزله خلك په خپلو و ړ و پتیو (کمو مخکو) کې کله کله د کتغو د پاره الگون (کچالو) کري اوهغه د خوراك د پار ه استعما لوي، د کچالانو یوبو تی خودانی نیسی. نوځکه وایی یو خخ که ډیرو کاړه. دادالگونولکو ل دي چې په دوچو کې یې یویو لکو ي اوپه خاو ر و کی یې منډ ي خوچې وشی او حاصل ور کړي.

۱۱۶ـ دا به څه شی و ي ؟

«خر بوزه (خټکی) خلو سیږي (خلاصیږي) نه * لگن ډ کیږی نه * چاتو پخیږي نه .»

دابه نوڅه وي .

دا کیسی دیو ي خو انه سړ ي ته اسا نه په نظر ورځی او داسی به یې وښیی چې خر بو زه ده اوخامخابه یې سړ ی وخو ری که په یو و ار یې خلاصه نکړي بل و ار ته به خلاصه شی ،لگن هم تر ی ډ کیدای شی اوچا کو هم خامخا پخیږي. مگر د ا چې کیسی د ذهنی قوت او فکرغو ره لو به او تیرو تنه ده .نو د کیسیو ارزښت هم په دې تیر و تنه ا و اړونه کې دی ،چاته چې دا کیسی معلومه

وي‌داسی‌به يې د ډ يرو نا د رو اوغوره تشبيها تو په ښيلو سر ه و ښيی :
خر بوزه دانسا نا‌وخلکو سر ه‌تشبيه‌ده ، د وی وايی خوك‌چې‌سړ شی‌په هغه‌دنيا نه
ورا نيږ ي ځکه نوي‌خلك‌بيا‌پيد ا کيږی،لګن‌دځکی‌سره‌تشبيه دی،سړی‌په‌ځکه کی
خخيږي‌اوتر يې ډ که شو ي‌نه ده‌دا‌په دې معنی‌چې‌دنړی مخ ټول‌ادير يې نه دی
نيو لی ، دچا کو نه پخپل دسر ګ سر ه تشبيه د ی ،يعنی سړي مړي او دنيا
تړې پا تې کيږی ، سر ګ پخپل نه لري تل جا ری د ی ،پخ
چا کوچاته‌په کا ر نه‌ورځی‌سړي‌چې‌مړه شی‌خخوي‌يې‌نوځکه سر ګ ډير تر يخ دی.

۱۱۷ -دا به څه شی وي؟

«ډيرې بلډيري د جنت په غوړه خيرې * نه وو ښه (واښه)خو ر ي نه سر
ګړي .»

د کومې ډلې چې د کيسی دښيلو اوسر و ر ماتولو واروی دسلګرو نه‌يو
تن چې په د ې ا ړه پوه وي وايی غو ږ ونيسی‌ء کيسی به زه وښيم ،که سې‌غلته
کړ ه بل‌تن به‌يې وښيی ،که زمونږ ډلی د سلګرو نه څوك په دې
بريا لی نشی چې د کيسی سر در ما ت کړي نو به تاسې کيسی وښيی‌ء
او بله به هم واچو ی‌ء دا به‌ستاسې‌پر مونږباندې شی‌اوستاسو به په‌مو نږ يوه ز ياته
واوړي ،ددې خبر ونه وروسته بيا په نر سه ژبه ورته وا يی داخو ماهی دی
ماهی په او بو کی ژوند لري هغه واښه اوسرګړ ی نشی خو ړلی ،(ماهی)

۱۱۸-داڅه دي؟ وی ښيه:

«دبرهسر ه سپږه (غرڅنی) روغله (راغله)، ولده (ولیده) ستر گو خپلو، ونو ه (و نیو ه) گو تو خپلو، سړ ه کړ ه نوکوخپلو.»

دسلگرو دسنڅ نه چاته چې داکیسی جوته وي بې له ډیل نه و ا یی داخو سپږه ده په کلیو اوبانډ و کی خلك عصری او سړن اسامونه (حمانو نه) نه لري، دوی دخوا ریو اوغږ ییږو دلاسه دې ته نه لایه (وزگار) کیږي چې هره و رځ ځانونه و مینځی اوخپل سر ونه پاك کړ ي، کلیوالی ښځی د کو رو نو مخی ته په انگړه اوپیتا و یو کی کله کله سر ونه سره غواړي اود سپږو نه یی پا کوي نو ددې کیسی ځواب سپږه د ه، د لته سره سپږه دتو رې سپږ ې سر ه تشبیه ده، سر په گوتوغو اړي، کله چې دسر دغو ښتلوپه وخت کې دو یښتا نو په سنڅ کې سپږه ووینی په گو تو یې نیسې، په نو کانویې وژنی د اکیسی دسپږې وژ ل دي، ځکه وایی و لده ستر گو خپلو، و نوه گو تو خپلو، سړه کړ ه نکړ خپلو (سپږه).

۱۱۹-داکیسی په دې ښه هم اچول کیږي.

«ځنگل کې غل د ی و لید ستر گو خپلو، ونیو گوتا خپلو، سړ کړنو کاخپلو.»

۱۲۰-داڅه شی دي

«چې ور ته و یا یې (ووایې) روڅه (راڅه) نه روڅي (راڅی)، چې ورته ویایې

(ووايي)سه روخه (راځه) روخي (راځی).

خوك چې په‌پو هيرې‌اوورته‌مالومه (معلومه) وي وايی:داخو دانسان شنډې دي .داپه دې معنې کله‌چې يو تن داسې ووايی چې راځه شنډې يو تر بله نه سر ه لګيږي اوچې ووايي مه‌راځه شنډې‌يو تر بله سره لګيږي .

۱۲۰-دا څه‌دی ؟

«ګړ چو پيره (چاپيره) ګړ و نه‌دي * ، په منځ کې بې سر ه سپی غپيږ ي . »

دپکتيا ډير کا سونه (منګل ،ځاځی، ځدران ، څکمنی ....) دخپلو کښو اوپټيو دسا تلو دپا ره چې دخو ړ اولګه تر څنګ پر اته وي ،ددې دپا ره چې توې (نيز ،سيلاب)بې يو نسی او آبا د پټی بې شنډ نشی دسيلاب اوتو ی دمخنيوي دپا ره‌دپټيو په سر و کې د لمنځو غټې ستې دروي او ګړ و نه ور ته‌و يل کيږی ، چا ته چې دا کيسی معلومه وي بې له ډيل نه وايی داخو دانسان دخولې غاښونه دي ،دلته ګړونه دغا ښو سره تشبيه دي ،سره سپی په خو له کې دژ بی سر ه تشبيه شو ې ده .(غاښونه‌اوژبه)

۱۲۱-دا به‌څه شی و ی ؟

« يمو(زما) پنځه ګلونه دي * د وه په لمر کې د ي * دری په سيو ره (سپره) کی . »

د سيالو او مخامخ ډ لونه ،کومه ډ له چې د ا کيسی وا چوي بله ډ له

یې په ښیلو پیل کوي چا ته چې د ښیونکې ډلې نه جوته وي وایي پنځه ګلونه په ورځ کې پنځه و خته لمونځ دی، مسلمان په ورځ کې پنځه وخته لمونځ ادا کوی د ماسپښین او ماز د یګر لمو نځونه لمرچې ولاړوی ادا کیږي دسهار ، ماښام او موستخن (ماخوستن) لمنځونه په تیاره کې ادا کیږي.

۱۲۲-دا څه دی؟

«و روخی (څی) په نخروخی (څی) * ، دروزه (دروازه) یې ډلو څی .»

څه وخت چې د یوې ډلې له خوا دا کیسی وویل شی دویمه ډله یې په ښیلو ځان مجبور او ګڼي د دوی د منځ نه چې چا زده وي نو داسې یې ښیی: که سې خدای غلت نکړي د اد ناوې تلل د ی ،ناوې دپلار له کورنه د خسرګنی کورته ډ پره وروو رودروسی، د ناوې سره ورا روانه وي، وروڼي هغه خلك او ځوانان دي چې آتڼونه کوي او ډالونه پکې وهل کیږي. (دادناوې واده دی).

۱۲۳-دا به څه وی ؟

« نازو، نوزکه (نازکه) ژوړي (ژاړي) . »

چاته چې درا غو نډو او را ټولو شویو ملګر یونه دا کیسی مالومه (معلومه) وي په ښیلو یې پیل کوي او مخکې له مخکې نه ملګر یوته وایی دا کیسی ماته جوته ده ، که ستاسو خوښه وي زه به یې سر و رمات کم ملګر ي ورته وایی ډېره ښه ده زر شه چې وا رونیسو سر په

او ییله مه کوه کیسی‌وښیه . د ا شپیلی (شپولی) ده، په کلیو اوبانډو کې شپا نه په خپلو تورو رمو(غښلو) پسې د خر ولو او غره‌ته د پوولووخت کې شپیلی وهی ، دلته نا زو نوم د ی او نو زکه د شپیلی سره تشبیه ده ، د نوزکې‌ژړل د شپیلی دو هلو معنی لري .

۱۲۴- د اڅه شی دی؟

« وو (او) کېږه وږه * پیغله جل‌دې‌لوندې (لا ندې) کړه . »

د ا کیسی ډېره په زړه پوري او خوګه (خوږه) ده، په دې اړه کې دوې خوندوري اونا دري تشبیه موجو دې دي . یوه نا ببره غږ کوي او کېږه وږه پیغله جل د لا ندې کړه ! دلته سړی نه پوهیږي چې د کو سې پیغلې له خوا په یوه کا ږه وا ږه ځوان باندې غږشوې دی . که‌څه‌دې؟ خوحقیقت‌د ا نه‌دی د کیسی‌تیر و تنه‌او ا ړونه‌بل ډول ده . څو ک چې په پوهیږي دا سی‌یې ښیی : داوو بن (او بن) او څو نګشه (څینګښه) دي ، کو ږو ږد او بن سره تشبیه دی ، پیغله‌جل دخینګښې سره . دا کیسی د یوې کوچنۍ خبرې او کیسې په شکل وجود لري ، دا کیسه د اسې ده : وا یی چې یوو خت څونګشې وو بن ولید چـــــې د دې وخوا ته را روان دی ، څونګشې چې دده را تګ په منله ولید او په دې پوه‌شوه چې تري خلاصې دی نشم ، خا سخا به د ده تر پښو

لاندې شم ، نو د ځان دوېرې او ډار له غمه چې سړه به سې کړي بې وا ره بې وویل: او کړه وړه ، پیغله جل دې لاندې کړه ، پوهیږې نه، سترګی نه لرې ؟او بس چې د څو نګشې دا سختې،سپکې او ستوغې وا وربدې بې له درنګ نه یې دا سی ځواب ورکړ: « وه (او) خوشتې (توندې ، لمدې) پوشتې* ته سوځه لیدلې وې . » اې کوچنۍ بلاچې په سترګو نه لیدل کیږي ، ماڅه لیدلې وې ښه دې وکړه چې ځان د ې په خپله له سرګ نه بچ کـــــړ .

۱۲۵-دا به څه شی وی ؟

« وه (او) تورې سرغو وی (سرغی)* په وو بو(او بو) وې (وهې) بوزی (بازی) . » چا ته چې دا کیسی ښکاره وې ، ورته وا یی دا خو څمڅه(چنچه، ملاقه) ده ، په کلیو او باندې وکې خلک د ځان د پاره له لرګیو نه څمڅې جوړوي او دپخلی او پختن د پا ره یې ا ستعما لوي ، دا چې کیسی د تیرو تنې او اړونې په معنی دي ، نو د لته توره سرغی د څمڅې سره تشبیه ده ، په او بو د سر غی بازی و هل په د یګ او کټوه کې هغه او به دي چې د غوښې،ورېجو اونورو کتغود پخولو د پاره ورنه کار اخیستل کیږی اود پخیدو په وخت کې څمڅه په کټوه اود یګ کې ښورول کیږي ،دا ځکه چې غوښه اوئورد پخلی کټې و نه سو ځی . (څمڅه، کټوه او د یګ)

۱۲۶- دا په څه وي؟

« پنځو ونوه (ونیوله) * دوود پر شوه وته (ماته) کړه. »

هر څوك چې پرې پوه وي بې له ډیل نه وایی داخو د ډوډۍ او سړی خپځه (ګوله، لقمه، شخوند) ده، دلا س په پنځو ګو توسړی د غوري، کاسې او لګن نه خپځه راپورته کوي او خولې ته یې را اخلی خه چې د لاس پواسطه خولې ته ورسیږي په خوله کې د وود پر شوغاښو پواسطه ژوول او خوړل کیږي، دلته پنځه ګوتې د پنځو سړیو او د خولې لاندې غاښو نه ددوه د پر شو تنوسره تشبیه دي.

۱۲۷- دا په څه شی وي؟

« یمو (زما) یوشی دی، ټوله ورځ ګرزي (ګرځی) چې شپه شی د یو غران ځوی (ځای) ونیسي. »

د مخامخ اوسیالو ډلونه کومه ډله چې دا کیسی وا چو ي مخامخ بله ډله یې په ښیلو پیل کوي، د د غې ډلی د ملګرو نه چې چا ته خرګنده وي په خو را خو شا لی اوخندا وایی: زه به یې و ښیم تاسو غوږونیسیء، که غلته مې کړه یا به یې بل تن وښیی، ملګري ورته وا یی ته ډ پروو ښیار (هوښیار) یې ته هره خبره په پوره والک او رښتینی ډول کوي، دا سړی نه په تاکه شته مونږد ې پیژنو، زرشه د کیسی سر ورځواب کړه چې مونږ وا رتسره ونیسو او کیسی وا چو، د د غو خبرو سره سم وایي دا خو دلاس لکړه ده، د کلیو سپین ږیري او

ګوډ خلک د لکړې په کومک او سرسته ځی ، د شپې له خوا چې کورته راشی لکړه په یوه کونج کې دروي او هغه د یوه غران په اندازه ځای نیسی . دا نو لکړه (اسما) ده .

۱۲۸- داڅه دي ؟

« تور تلیلی* ډمه بوندې (باندې) که دېګی .»

په دې کیسی د سلګرو د ډلې نه چې څوک پوهیږي بې وارو وایی دا دې خوړې (وا ده) باندې کول دي ، په کلیو کې دواده وریجې ډمان اویا په خپله کیلوال پخوي نو ځکه وایی تور تلیلی ډمه بوندې که د یګی. تور تلیلی په دیګ پسی د لرګیو بلولو او د لوګی حال دی ، په لوګی د یګ تور یږي ځکه وایی تور تلیلی ډمه باندې کړه دیګی. د کیسی سمه بڼه (دیګ، اودم) دي

۱۲۹- داڅه شی دي ؟

«نه ستړې کیږي * نه دریږي ټوله ورځ ییږي (بهیږي) .»

څوک چې دا کیسی واچوي نو رسلګری په خندا ورته وایی اړین (آفرین) نړه داسی اسانی کیسی چوډ چې سونږ یې واردوار ه وښیو دا خواو به دي، اوبه په لښتی اویا له کې ییږي. نه ستړې وي اونه دریدلې وي روانې دي اوییږي .

۱۳۰- داڅه دي ؟

په لووړه (غټه) یې ځوریږي * په منډیه (میده) یې خوشولیږي (خوشالیږي) ، ژوند یې پرې نه کیږي . »

دا کیسې ډکر او سو چ غواړي،ملګر چا ته چې ما لومه (معلومه) وي وایي دا خو غله ده .غنم او جوار چې وریښې شي بیا درند(درنده) کیږي،درند ماتیږي ، اوورپسې بارانونه پاکیږي ،ترڼ وروسته پاکیږي ،دژرند ډپاره غنم او جوار لمر ته وچیږي ، بیا له خاورواو شګونه څپول (غلبیل) کیږي غنه چې په ژرند ه وړه (سندیه) شوې نه وي او دانه یې لوړه وي ستونځه او تکلیف لري کله چې سیده (اتام) شي نوستونځه یې کمیږي دخوشتو لواو پیښتن (پخولو) ته سمیږي په خوړ لواو خوراك یې ژوند جوړ یږي ، ځکه وایي چې لوړه وي سړی پرې ځور یږي چې سیده شي خوشالی کوي اوژوند یې پرې ښه کیږي نودغلی ټولول ،پاکول او سیده کول او پخول په دې کیسې کې نغښتې دي .

۱۳۱- دا به څه شی وی؟

«نه تي زرې نه تي *څلور یې کدر بوز (باز) دوه یې چتي .»

چاته چې دا کیسې مالومه (معلومه) وي ملګروته وایي غوښتنې چې له دې ستونځې سوزه خلاص کړم اوکیسې به درته وښیم ، ملګري ورته وایي عمر دډیر شه زرشه وایه چې څه دي ؟

دی وایي: «نه تی زرې نه تی» دسپی تیوته ویل کیږي دا څکه سپی نه تی لري د دې دپاره چې سړی ور باندې تیر وزی نو دایې ورسره زیات کړی دي «نې تی زرې نه تی» څلور یې کدر بوز .دغوا غولینځ څلور تی لري .دا

دغواد تیوپه معنی دي، اودوه چتی دوزودتیوسر ه تشبیه د ي (دسپی، غواوزې تی).

۱۳۲ ـ دا څه دي ؟

«پروي پر ویتونکی *په وچ کمره ختونکی » .

څوك چې پری پو هیږي سمدلاسه وایی داخودسترگو دیداو نظردی دسترگو نظیر په لو ړه ،تیټه ،کمره ،ګړنګ ، هواره ، اسمان ختلی شی ، دلته د ختاونه مقصد لیدنه اوکتنه ده یعنی په سترگو هرڅه لیدل کیږي .

۱۳۳ـ داڅه شی دي ؟

«تو له و رځ گر زي (ګرځی) * دشپی دوه لرګی په سر رو و ر ي (را وړي) . »

چاته چې دا کیسی مالومه (معلومه)وي بې له د رنګ نه وایی دا خو وزه ده دسها ر له خوا شپا نه دوز و رمې غر ه ته دپوولو اوخرو لو دپاره بیا یی ، دشپی له خوایې چې بیرته کو رته راولی په شپوله (شپول) کې بې ویساروي ،څنګه چې وزې دوه ښکرلري نودلته دوه لرګی د دوو ښکر وسر ه تشبیې د ي .

۱۳۴ـ دا څه شی دي: ؟

«په لیا ره(لار) څم (څم) *دریچو ډکه سړی (ډوډی) خورم .»

چاته چې دا کیسی مالومه (معلومه)وي بې له وار ه ورته وایې دا انځردی. دانځر په سنځ کی و ړې و ړې سپینی دانې بې دریچو سر ه تشبیه کړی دي

۱۳۵- دا څه دي؟

«څې (څې) او روڼې (راڼې) * کونه يې پرڼې (ڼای) .»

دا ددرو ازې(درې)پورې کول اولرې کول دي،دد ړې د خلاسيد واو تړلو پەوخت کې دهغې لاند يې اوباند يې د لپچيو پونکې(يعنی څنګ بيخ يې ڼای پر ڼای و ی)پرڼای وي اوحرکت نه کوی ،ځکه وايی ڼې اوراڼې کونه يې پر ڼې.

۱۳۶- دا به څه وي ؟

«اوردی ، لاوور (لای هور) دی * دسرې کېږی په ډکی سپوردی »

څوك چې پرې پوهېدلی وي اودکيسی مطلب ته رسېدلی وي وايی داخو سره سر چ دي دسرچ رنګ دا ورسره تشبيه دی ،دانورې زيا تی خبرې يې دتيرو تنې دپا ره ورسره راوړې دي .

۱۳۷- دا به څه شی وي ؟

«دېرش تنه پيکوويي(وهی)*يوه ليلو (ليلی) يې ورته رو ړوي(راړوی)»دا په خو له کې د خمڅې اوشخو ندخوړل دی خمڅه په خوله کی دغا ښو پەواسطه سيده کيږی او دژبې پواسطه يوې بلې خواته اوړي،دېرش تنه دغاښواويوه ليلی دژبی سره تشبيه دی؟..

۱۳۸- دا به څه وي ؟

«سوردې سپين ورته سوله (ډا له) که * پلور (پلار) دې سور پرې ږنکوره (راښکاره) که.»

په کلیو کې خلك و ریجی په ښنك او دخاورو په کونډول کې د تلبر په څېر جوړوي اویا یې د کېول غړي خوري ،سپین ساله کول په ښنك کې دوریجو تلبر اوسورپري راښکاره کول دلاس درا ایستلواو مینځلو په معنی دی .

«دوریجو تلبر او لاس »



دسنګلو فولکلوري ادب
ته لنډه کتنه

ډير پښتانه په تيره بيا سنګل اودپکتيانو رخلك دعلم او پوهې نه بېرته پاتې دي او دژوندداړ خ يې لا روښانه شوی نه دی، کوم ملی ادبيات چې په دې سيمه کښې شته په شفاهی ډول دولسی شاعرانو اوولس په خولو اوسينو کې دی، دا ځکه چې شاعرانو او خلکو ليك او لوستنه دی زده . څوچې داملی مرغلرې دليك په ژبه وليکی ...

دمنګلو او پکتیانو روکا مونو شا عرا ن د خپلو کلیوالو ا و و لسیځو انانوپه سلګرتیا دوا ده، ییدونو (اخترونو) دزوی‌د پیداکیدو پەمراسمو، دوطن‌د خپلوا کی پەورځ‌او دکارو انونو دکولوپەوخت‌کې «دشاری» پەنامه سندرې اوشعرونه وا یی.

کەدپکتیا ولایت پەسیمه کې‌یو فولکلوریست وګرځي اودټولو کامو ولسی ادب‌راټول کړي دابەورته جوته شی‌چې‌ددوی ولسی ادبسره نیږدې او یوشان دی، کومې سندرې اوټکی چې‌په یوه کام‌کې رواج لري، مګه سندرې‌پەنورو کامونوکې‌پەعین شکل‌او بڼەویل‌کیږي او کوم توپیرنه پکې‌لیدل کیږي، لەدې‌ټکی‌داجوتیږي چې‌دپکتیاولایت اوسیدونکی‌بەدیومرکز نەلږ‌دیدلی وي، دانەمعلومیږي چې‌ددوی لومړی استوګنځی اوټاټوبی بەکوم ځای‌وي...

ددې‌دپارەچې خپلەموضوع راڅخەپاتې نشی لاندې بەددوی‌د فولکلوري ادبځینې نمونې چې‌دولسی‌اواسی شاعرانو لەخوا ویل‌کیږي دمثال دپارە ولیکو:

خنګەچې دپکتیاخلك اوسنګل داوښانوپە ډډواو د خپل مټپەزورځانته کورنی نفقه پیداکوي‌نو کله چې‌دوی دا وښا نو کاروان بارکړي‌او ددې‌او سیالي دپارە ځوانان یوځای کې خپل کاروانواړوي‌سرە راغونډیږي‌دساتیری او خوشالي‌دپارە «شاری» کوي خوچې سفر یی پە خوښي سرە ترسرە شی

په دې لړ کې به دمثال په توګه دوی د شاريو خو نمونې په لاندې ډول وړاندې شي:

وورکی بهير چې شول، جونه ټولې چای خورې شوې

داوښو ډډې سرې شوې

خلك په چول کې تالا کيږي * داوښو ډډې سرې شوې

زداشنادسينې لاندې تالاشومه * داوښو ډډې سرې شوې

وورکی بهير چې شول، جونه ټولې چای خورې شوې

داوښو ډډې سرې شوې

يادا چې :

جانانه چيرې دې بانډې وتلې دينه

بونډو (بانډو) نه روشه (راشه) ميلمونه (ميلمانه) راغلی دينه

کهزه خبر وی چې بيلتون دی * بانډو نه راشه ميلمانه راغلی دينه

مابه جانان تر لاس نيولی گرزوونه * بانډو نه راشه ميلمانه راغلی دينه

جانانه چيرې دبانډې وتلی دينه * بانډو نه راشه ميلمانه راغلی دينه

داختر په ورځ داختر خوشالی داسې پرځای کوي:

سبا اختر دی ډول نور کمه

پيزوان به پاس په شنډو سوړ کمه

لنډۍ داسې پکې تکراروي :

چې سخاسخ مې يارولاړوي * پيزوان به پاس په شنډو سورو کمه

که دچاړو په خو کولا روي و ر به شمه * پیز و ان به پاس په شنډو سو ر کمه
سبا اختر دی ډو ل نو ر کمه

پیز و ان به پاس په شنډ و سو و ر کمه

البته داشاری دخو انانو له خو ادډو ل، شپیلۍ خپیو اچولو او ټکو و یلو سره په خو ر اخو شالی او خو ړ بدارګه کیږي.

د ګلو نو د مو سم او مني یا دو نه په شار یو کې د اسې کوي: :

باغچې ته لو ړ شه (لاړ شه) ر نګ په ر نګ ر او ړه ګلو نه
خز ان چې ګډ شی بیا به و کې ار مانو نه
په جګو غر و کې مې مرګی کې * خز ان چې ګډ شی بیا به و کې ار مانو نه
چې جنا زه مې د نبتر خانګې و هینه * خز ان چې ګډ شی بیا به و کې ار مانو نه
باغچې ته لو ړ شه (لاړ شه) ر نګ په ر نګ ر او ړه ګلو نه
خز ان چې ګډ شی بیا به و کې ار مانو نه

داشاری هم و ګو ری ؤ :

ته شو ې ر انه پاتې زه پر دې و طن ته لاړم * خپه یم ځکه ژ اړم (۱)
چې ساز دیګر پر ې ښه ښکار یږي * خپه یم ځکه ژ اړم
هغې جلکی ته سو ر ګړی نه و ر کو ینه * خپه یم ځکه ژ اړم

(۱) محمد عارف غر و ال، کابل مجله، ۱۳۰۰ کال، ۱۱—۱۲ ګڼه .

ته‌شو‌ې‌رانه‌پاتی‌زه‌پر دی‌وطن‌ته‌لاړم * خپه‌یم څکه ژاړم

دپکتیااو ښنګلو ولسی‌ادب تر عنوان لاندې سوبر لنډی ، سرو کی ، ستلو نه ساندې (په سړه غږ انګې ، کوکی)دوا ده په وخت کې د ښځوسند ري ، پام او نو ري‌فلکلو ر یکی‌خوا تر سمکنه‌حده‌پو ري‌څېړو ...

لنډی

فولکلور خاصې نورمې لري دهغوله لړی نه په پښتو ولسی ادب کې لنډی ډیره قیمتی پانګه دهچې دپښتو په بر خه ده(۱)ددې ټکی پر بنادې ته اړیو داجو ته کړو چې لنډی خه ډول ملی اوولسی سندرې دي ؟

پښتو لنډی په پښتو ملی ادب اوسندرو کې ځانته ځا نګړې بڼه لري ، چې په نورو ژبو کې داشان شعرونه اوسندرې نشولیدلی . لنډی دنورو نظمونو

---

(۱)دوست محمد «دوست» ـ د زیړي جریدې ۱۳۴۸ کال.

او شعرونو په خیر ښدونه او بیتونه نه لري، بلکه هره لنډۍ په لومړۍ مسرۍ پیل کیږي او په دوهمه مسرۍ باندې ختمیږي، دلنډ یو لومړۍ مسرۍ (۹) سیلابه او دوهمه یې (۱۳) سیلابه وي.

دا پښتنۍ مرغلرې دژوند په هره خواکې ویل شوې دي، دوی خاص او ځانګړي ویونکي نه لري بلکه د پښتنو زړو اوورو زده دي، داملي شتمنی دنر انونه دښځو سره ډېره ده، دپښتنو او پښتونخوا په هره سیمه کې ځانته ځانګړې لنډۍ شته چې دخلکو په خولو او سینو کې خوندي ساتل شوي دي، داو لسی زېرمه تر او سه پورې په مکمله توګه نه ده راغونډه شوې، که څه هم دپښتو ټولنې له خوا داو ظیفه ترسمکنه حده پورې ترسره شوې ده، خو که دې بر خې ته نوره پاملر نه هم وشي، هیله ده چې داشفاهی ګیډی به پوره او دلو ستونکو تنده به پرې ماته شي. مونږ په دې ټونه کې هغه لنډۍ راوړو چې په کتابونو کې نشته، دادې دپاره که چېرې دپښتو ژبې دفولکلور راټولوونکی دخپلې هڅې په ترسره کېدو کې د کلبو او باندو دخلکو نه وارې په وار دهرې سیمې لنډۍ راټولې کړي. مونږ باور لرو چه زر تر زره به د پښتو دلسی ادب دا نیګمړی خوا پوره شي او د اوستونکو دپاره به پښتو شفاهی ادب په لیکل شوې بڼه منځ ته راشي او بیا به یې دور کېدواو هېر ېدو وېره دتل دپاره دمنځ نه وړلاړه شي. دا لاندې لنډۍ دمثال دپاره وګورئ چې دسنګلو په یوه کوچنۍ سیمه کې ویل کیږي:

څوکی کې دوه تر هر و نه خوند کی

چې یو زخمی وي بل پتې په لګو ینه

جنګ د جوس پتی ته رو غی (راغی)

و و ړ کی څنګلې لګوي جوس ګټینه

* * *

د اوبو غوړپ کولی نشم

په زړه می ستادسینې لیک دی و ران به شینه

په ګو ره یې تو پک سې سړ کړې

خبر سې مه کړې دلیلودو دزانې نه (و داز نه)

دسپینې خولې یاران دې نو ر دي

شو تالو پنډو ته دې زه نیولی یمه

که سې جو سات په مخکې نه و ای

په ډ ک ګړي به سې و یشتلی و ې مینه

* * *

چې ګو رستان تپه تیاره دی

ر نا به نشی که لمر و خیجی په غر و نه

---

(۱)—و دزانې وا ده کولو او و ر کولو نه مطلب دی.

کفن مې او ږده و نيسه سو ري

زه د ځوانۍ عمر کفن کې تير ه و مه

چې تو ري خاو ري انبار و نه

پکې پنا کيږ ي سپينې خو لې غو نډې بريتو نه

دو و ږ کيو بو تې بو تې څڼ يې

يا يې سيږ ي خو ږ ي يا يې خاو ري زړ و ينه

* * *

په مرګ به و ا ړه سره بيل شو

ار مان ار مان دې ژ و ندانه سخته بيلتو نه

سر ګي په جګه غو نډۍ ناست دی

لو ر يې په لاس کې د ښو ځو انانو لو کو ينه

* * *

په ځنکدن کې ر احاضر شه

په خما ري ستر ګو مې ته کيږ ده لاسو نه

چې په ديدن دې سړ ه نشو م

په بيلتانه دې لکه و او ره و يلې شو مه

يادو نه: دالنډۍ پښتنې سندر ې کتاب کې نشته بلکه هغه لنډۍ دي چې دمنګلو او د پکتيا ځينو نو رسيمو کې ر و اج لري البته په دغو لنډ يو کې عشقي، حماسي،

غم او نو ر ې خو او ې جو تې شو ې دې چې د اخاصه او مـېز ه د لنډۍ دلو ستلو نه پو ر ته معلو مېدای شی ...

د اچې مو نږ په دې ټولو نه کې د پښتنو پسو ل (ګانې) ته څه اشار ه نه ده کړې ، غو اړ و چې د پښتنې پسو ل نو مو نه په لنډیو کې یا د کړو ، که و خت و ، پښتنې پسو ل او پښتنی لاسې خاو ر ین لو ښی او کالی به په بله لړ ۍ کې دفو لکلور مینانو ته په مینه و ړاندې شی. داځل دلنډیو په ښو دنه خپل معذرت پو ر ه کو ل غو اړ و :

شا شت په شاشت، گو ت یې په گو ته * داسپین بوگون (با هو گان) سې په یار ۍ گټلی د ینه
چې سپین بو گو یې په لاس نه و ي * هغه د او س د ی چې سړ ۍ په پخو ینه

* * *

اسیل و ښی د ي که بنگړ ي د ي * اسیل و ښی د ي بنگړ ي چو غې گډو ینه
بنگړ ي سې ستا په کټ کې سو ت (مات) شول * که سپرنی و ې او س به ډک کې و ړ ندو نه
د نیمې شپې کټو نه ډ یر د ي * بنگړ و ته شر نگ و ر که چې و د ي پېژ نمه
گو ت یې سې وې په لاس سې نه کړې * د د ر سنده چر گې شړ م په تش لاسو نه
گو ت یې په گو ته که ر ا و زه * لاس په تندي کښې ر د ه چې و د ي پېژ نمه
لښتی سې وې په غو ږ سې نه کړې * او س مې یاد یږي د ر و پیو کتار و نه
د و ر و ر خو نه سې په لو ړ د ه * د اسو ر گړ ي په څنځیره و ر خېجو مه
د جلکی د ر ی ر و پی په ټنډ ه * مینه منځ ر و پی پی نیسه په غا ښو نه

روپی‌مې‌واړه‌یوه روپی ده * دادغونډی‌روپی‌دریس ځواب کوینه
خدای دې‌په‌داسی‌ځای کې‌راکه * چې‌د ټټر روپی دې ګډې وډې کمه
چې سپین ټټرمې په ټټر دی * خدایه کوملک‌راکړې چې‌ویډ‌ربوسه
تیک‌دې‌په‌پوزه که‌خدای‌یادکه * ګوندې‌نصیب‌دې‌شوځوانانو سره‌شینه
په سره‌قرآن به دې غوخ نه کم * که‌لکه‌پوزه بی چارګله زړه کمه
پیزوان مې خړواوبو یوړ * دکونډې‌زویه‌ورته ونیسه ورخونه
پیزوان کودی که اوبه‌راکه * یودې‌ثواب دی‌بل‌دې‌یارله‌تندې‌سرینه

* * *

ستادې‌قسم‌وې‌چې‌زرګرشه　　زماخیالی‌اوربل‌ته‌جوړ که‌تاویزونه

* * *

موریې‌په کلی‌دروبزې کی　　لوریې‌چارك ووډی‌په‌غاړه‌ګرزوینه

* * *

ووډی مې‌بندپه‌په‌بندپرتې*واړه لالونه
سپینې ویجړې به لټوم که یارمې وینه
مخ‌دګلاب شنډې د پانې*واړه لالونه
دانری ژبه‌دې قلم‌لیکل کوینه*واړه لالونه
ووډی مې‌بندپه‌بندپرتې * واړه لالونه
سپینې‌ویجړې به‌لټوم که‌یارمې‌وینه

دګل سپخیو دې شر نګاشوه ماوې پښناست دی تبر ګی تیره کو ینه
ګینګړ یو ډ که په سخ را غله ماوې لاری ده د کابل پیره کو ینه

* * *

لاس به دې و تړ م په زلفو پهلو نګین به دې وهم چې سړ دې کمه
تینګه مې مه نیسه په غیږ کې سبابه بوی د لو نګین درځخه ځینه

* * *

اسپل د سر و زرو مزه کې یار مې غریب دی زما نشته اسپلو نه

* * *

یار مې په ډله کی معلوم دی پتکی یې تورځونډې یې ماجو ړکړې دینه
لنډۍ په سر و شنډو مزه کی د مسافر و لنډۍ څی په کا غذو نه

سروکی

سروکی د پښتو ولسی ادب په زړه پورې فولکلور ې برخه ده ،، دا فولکلوري ولسی ګډې منګل اود پکتیاکا سونه دوا ده په وخت کې چې ځوانان آتڼ کوي وایی ، دسروکی له کلمی نه جو تیږي چې په عمو سی ډول یوبیت اودوې مسری لري ، دا ممیزه اوخصوصیت په سروکیو کې جوت دی چې لومړی مسری یې تردو همې اوږده ده .

سروکی سکملې اوبشپړ وونکې لنډۍ دي چې په اوسنۍ اصطلاح کې ورته «سروکی» یانیمکۍ ویل کیږي، په دغو سندرو کې چې کومې لنډۍ تکرارېږي هغوته «ټیکی، ټکی» وایی، په سروکیو کې ټولې لنډۍ ویل کیږي او راوړل یې کوم قیدنه لري، ددې دپاره چې دا ښه خوند وره وي په عمومی توګه هغه لنډۍ چې دسروکي سره اړه لري دراوړلو لوړی حق لري (۱).

د نمونې د پاره داورسته بیتونه وګورئ چې د پکتیا والو ګډ اوشریک مال دی :

چې ورك دې نشی د خیالی او ربل ګلونه لیلی	ورو ږده کدمونه لیلی
سخ دې له بامه را ښکاره کړ	ورو ږده کدمونه لیلی
لکه سپوږمی د غره په سر شوغلې وینه	ورو ږده کدمونه لیلی
چې ورك دې نشی د خیالی او ربل ګلونه لیلی	ورو ږده کدمونه لیلی

* * *

ته چې پناکیږې غونډې منډې سخ را واړوه	خاورې په ماواړوه (۲)
زماد څه وکړه چې لاړې	خاورې په ماواړوه

(۱) حبیب الله رفیع ، د خلکو سندرې، ۱۳۴۹ کال، د تاریخ او ادب ټولنه.

(۲) محمد عارف غروال، کابل مجله، ۱۳۵۰ کال ۱۱ او ۱۲ ګڼه .

ځان دې په ځپله بې د یدن کړ مینه خاورې په ماوا ړه وه
ته چې پنا کیږې غونډې مندې مخ راوا ړه وه خاورې په ماوا ړه وه

* * *

د زړ و ګلو خونګې مه نیسه سو تیږي زړه مې په بد یږي
دا سپینه ټنډه دې غونډې د ه زړه مې په بدیږي
تو رې بیچکې دې رمې په پنډې د ینه زړه مې په بد یږ ي
د زړ و ګلو خونګې مه نیسه سو تیږي زړه مې په بد یږي

دا باید څرګنده شی چې سرو کی د ځوا نانو له خوا په لوړ او ا ز ، ډول شپیلۍ ، ټکو ، غورځیو ا و تو پکو په غږ و او ډ و سره په ډ ږ جم جوش بدرګه کیږي .

متلونه

متل د فولکلور یوه مهمه خانګه ده، د هرې ټولنې اوولس په فولکلور کې متلونه غوره ځای لري .متل د ژبې باارزښته پانګه ده، د بډا یو ژبو یوصفت دا دی چې په متلونو هم بډا یې وي. متل اصلاً د کوم یوه عاقلانه وینا «مقوله» ده چې په قصدي! و یا اتفاقي ډول یې ویلې وی.

متل دانساني خبرو يوه لنډه جمله ده چې د لفظ او معنی په لحاظ بشپړه او د مفهوم او سورد په لحاظ عامه وي (۱) د متلونو لفظی او معنوي بڼکلاتل د ژبنيو پو هانو توجه ځانته اړولې ده، او بشپړې مجموعې يې ورته غونډې دي .متلونه د خلکو هغه سپيڅلی، پاکې معنالرونکی لويې لويې جملې دي چې دولس د ثقافت، پوهی، کړو، وړو او علم څرګندې نښې پکی نغښتی دي او هم دولسی پو هانو د لوړو فکرونو څرګندونه کوي (۲). د بشري افکارو او تجربوه زېرمه اوخزانه چې په زرګونو کلونو کې د متلونو په ذريعه راتوله شوې ده، له نيکه مرغه د تل د پاره په الفاظو کې خوندي ساتل شوې ده، نورې خزانې افت او خلاصون لري مګر دا دولس دشفاهی اثارو خزانه ورځ په ورځ، کال په کال او پيړۍ په پيړۍ لا پسی غنی کيږي، په کوم بڼکاره او قوي ډول چې دولس فکر، هو ښياري، ملی تاريخ، اجتماعی جوړښت، ژوند، جهان بينی، کړوړه، عادات او کلتور په دې اولسی پوهه يعنی په متلونو کی څرګنديږي، هغسې د ژبې په نورو

(۱) دوست محمد «دوست»، زيری، ۱۳۴۸ کال، ۸ ګڼه.

(۲) حبيب الله «رفيع»، د خلکو سندري، ۱۳۴۹ کال، تاريخ داوادب تو لنه.

اثارو کې نشی څرګندیدای ، ځکه وایو متلونه یادولسی حکمت خزانه(۱) پښتو متلونه دپښتو شفا هی ادب غوره برخه ده ، دا متلونه د ډېرې پخوانه موجود اوزمونږ د نیکونو غوره قیمتی تللې اوپخې وینا وې دي چې د نکلونو او کیسو په شان خوله په خوله تر دې وخته را رسیدلی دي ، د پښتو متلونو دویلو تاریخ د لنډ یو په څېر معلوم نه دی اوویونکی یې هم نه معلومیږي چې څوك به وي (۲)

متلونه په هره زمانه کی ویل کیږي اوهر څوك یې وایی ، پښتانه متلو نوته په کلیواو باند وکې ډیر اهمیت ورکوي ، متل ددوی په ژوند کې د هرې پېښې په باره کې ویل کیږي اوپه هغه کې د ژوند سمون وینی ، د مثال د پاره دا متل وګورئ .

۱ــ له ولسه ووزه (وځه)، له نرخه مه ووزه (وځه) .

۲ــ چې څه کړې ، هغه به ریبی .

پښتو متلو نه د لنډ یو په شان په هر ه سیمه کې د خلکو په خو لو اوسینو کې ځای لر ي ددې د پاره چې داولسی زېر مه تر خاورو لاندې نشی د نور وفولکلوري سرغلرو په شان د فولکلور او پښتوژبی شفاهی ادب

(۱) محمد اکبر معتمد ، کابل مجله، ۱۳۰۴ کال ۳ ګڼه.

(۲) پښتو متلونه، پښتو ټولنه.

سیانونه هیله لروچې هر څوك به د خپلې سیمې متلونه راغونډ کړي او د خپلې هڅې او پښتو ژبې سره د مینې له مخې دې د نشر او خپرونې میدان پرې ښکلی کړي.څوچې زمونږ داولسي لالونه(لعلونه)را نه ورك نشي.

په هر صورت هغه پښتنی انصاف، غرور، عدل، ذهنی قوت چې په متلونو کې لیدل کیږي تل د پاره به پکی وي، څوچې داتبر ژوندی وي دا ملی فولکلوري ګلونه به یې په نصیب وي، هغـــه متلونه چې دلته مونږ دنمونې په توګه راغونډ کړي دي. د سنګلو په سیمه پورې اړه لري دا باید جوته کړو چې متلونه په سنګلو کې د نظم او نثر په شکل ویل کیږي او څه متلونه دا دي :

الف: د نثر نمونه:

یږي خوره * سپله‌به(سې) ډاګده.

په هر چا یږي * په ادې ا بایږي؟.

څې(هسې،څنګه) ګوګره * دارې یې کر بوړی.

څې (هسې) غر *دارې یې څناور.

ادې ! ته‌به‌څه‌څې؟.

زې ! ته‌به‌څه‌څې ؟

تر بور سړ که ، لمر ته یې مه چوه (اچوه).

په لاس ووزی ښه دی x نه په نسیه غونډی هدوکی.

په پردي لاس منگو رمه وژنه .
غله‌ته‌مه وا یه چې غله ، ځان په خپله تر پې ساته .
د تر بره (تر بور) په نرۍ پوه شه .
کنډو ته تش لاس مه‌خه .
اسیل آس په زاړه ځل کې معلوم وي .
په‌ښه خوله ، منگور د غاره ووزي .
د بنې بنزي * دگور چمجي(چینجي).
چې‌چېرې کلی وولې (هلی) غږ.
چې چېرې لوښی وولې (هلې) ګړب.
چارې زرکی*نه یې پاد شاه نه یې نوکرکی .
که عمر پس وي * د سو ریو زوی بس وي .
سمه سویه ووته *سم توزی ته غول ورغله .
نه یو وخت نه بل وخت* را غی د غو بل وخت .
د خدای کړو* د بنده ورته کا ته و.
چې خپل دې نه وي*په تلبر مه کېنه .
چې خپل دې وي ، په تلبر دې وي .
چې نه وي دې سړي *مه کورت خوره مه غوړي .
کال به تېرشی ، ستاسوی ادوم به مې هېر نشی.
د زوراوبه په پېچوسی خیجی(خېژي).

لاس چې مات شی* غاړې ته څې .
دتو پك ویشتلی جو ړ یږي *دخولی ویشتلی نه جوړیږی .
دونې سل کا له*دمرغی یو ه شپه .
تشه لاسه تهسی دښمن یې .
هډ بی پیوند ه نه پرې کیږي .
بخت پهټنډه دی * نه په منډ ه .
مرګ نه په واړه دی * نه په زاړه دی.
پهسختی کې مرګ نشته .
دګورشپه نه په کورکیږ ي .
پهډیروکیبیخوره * پهلږ وکې یې ویشه.
چې لږوي خپله یې خوره *چې ډ یر وي په نو رو یې و یشه .

ب ـ د نظم بڼه :

سل رپې پورکه — د اختر شپه په کو رکه
دښه پلوره دښې سوره — بلو(بلا) وشو ه تکه تو ره
نغن دسپڅې — زوی د خپڅې
اویه دتویه (۱) — انصا ف یې ښویه

(۱) تویه —نیز ،سیلا ب ،توی

بدې چې نه کړ ای بدې چا ري *بدی به چا واژه بې لا ري
اوښ يې چې په نته کی نو يې او رته کی
دخد ای اسر چې وشی پلو ريې نه وي زوی يې وشی
وکسه (وګوره) سړی ورته واچوه څکلی(۱)
که سپړه سپړه وي پخ لو ريې تېره وی
لندونه يې درويزې کی نیکمر غه يې مزې کې
چې نه بی وې سړي نه دې کورت خوري نه غوړي
سونږ سره ورونه يو دیوې ونی ګلونه يو
اتو م خوشته پوشته کې مینت په تنوره (تنا ره) کې

(۱)-څکلی د پزی اوښ کی کوچنی توتی ته وایی

ساندی او په سر ه غړ انگی

جو ته اوښرگنده خبره ده چې د کو ر نې او کلی نه به کو م غړی چې په کلیو اوبانډ و کې کمښدو (سړ کیده به) دپاتی کسا نو دغم، خوا شینی اوخپگان عاسل به یې منځ ته راوړل د کو رنی او کلیو الو دغم اوخپگان احساس به په ژړا ،او ښکو تو یولو ،تندي وهلو ،سر شکولو ،گر یو ا ن ښرلو ،نظمو نو، آهنگ لر ونکو او شاعر انه جملو کې په ډیر بدحال ښرگندیده چې په پښتو کی ورته ساند ي دویر غړا نگی اوو یر نه وایی .

داخو معلومه ده چې په هر ولس اوټولنه کې د مړی خښو لو سر اسم اوساندې څه ناڅه يوله بله فرق لری په عربی قبايلو کې به چې کله دقبيلې کوم مهم غړی سړ ياووژل شود هغه دسرګ اعلام به ديوی خاصی ويرنی په بانګ سره کېده داشان په ختيځ کی دساندې او دمړی دخښو لوسر اسم د عقيدی داختلاف له مخی توپيير سره لری (۱).

ساندوته د پښتنو په بېلو بېلو سيمو کی تيکی، چيغی، ناری، کړيکی اوغرغړی هم وايي. منګل ساندوته غړانګی اودوير کوکی وايی چی دښځو له خوا په مړه باندی د کټ سر ته په خو ر ا غمجن غږ د لنډ يو ا و ځينو خا صو نظمو نو په ډول ترسره کيږي، هغه ښځی چې ساندې وا يی په کلی کې معلومې دي ،دوی د خپل مړه سر ه سينه لری کله چې دمړه کټ ته کينی داسی غړانګی پرې وايی چې در ابلل شو يو کسا نو ا وکليو الو زړو نه ورسره په يو درنګ کې غمجن کيږي ،کله چې د اد وير غړانګې دخلکو غو ږ وته ورسيږي چې هر څو سر ه سخت زړونه يې وی هم نري کيږي

(۱)— دزيا تو معلو ما تو دپا ره دزيری ۱۳۴۳ کا ل کلسيون وګو ری ښاغلی دوست محمد دوست په دې بر خه کې غو ره مواد را غونډ کړي دي او دفو لکلو ر يستا نو ښه تنده ما تولی شی .

اوبې له واړه دستر ګونه او ښکې تویوی ،ساندې اوغړا نګې پەمنګلو ګې دلنډ یو په شکل ویل کیږی ، خو په آخر کې یې دغم یو آو از چې « وی ، ای ، هی هی» په شکل په ډیر و یر سر ه و رسر ه غبرګوی ، د او ی ، هی هی چې سړی و او ري تەبه و ایی چې زړه سی له ګو ګلەووت ، دوسر ەبدەاغیز ەپەسړ ی کو ي چې په ژړا پیل کوی،داغړانګی ښغەو خت پەخلکو ډېر تاثیر کوي چې د کو سې ښځی سیږ ه ، زوی ، و رو ر اویاد کوسی پیغلی پلار اوو رو ر سړه وي، دوی د خپلو سړیو نو مونه اخلی او د کلی ملګري ورته یا دوي چې تاسی و لی ولاړ یې پلا نکی تو رو خاو رو ته روان دی .... دمثا ل دپا ره داغړانګې و ګوري ء :

تەړنګه شې غونډی　　درکې لو یږي د خیا ل پګړی
تەړنګه شې پښی　　درکې لو یږي دخیا ل غوټی

* * * * * * * * * * * * *

دمینځکی لاندې سی کـــو روای* وی وی
و وړ کې فر یا د کړ ای ماپرې پښی سلهمو نه * وی وی
مینځکی ته سړ ه مەشې * وی وی
و و ړ کی ستا نه کې رالیږې تش پالنګونه *وی وی

*　　*　　*

سر دار دخاو رو لایق نه دی *وی وی

و رته جوړ کړی ء دسرو ز رو بالښتو نه *وی وی

*　　*　　*

چې گو رستا ن ته یې ورټیټ کړی ء *وی وی

شنډې یې شکل کی ء بیا به ونیسی گړدونه *وی وی

چې گو ریستا ن ټپه تیا ره دی *وی و ی

رنا به نشی که لمر وخیجی په غر ونه *وی وی

*　　*　　*

چې چیرې څی واك مې درکړ ی *وی وی

دتو رو خاو رو واك به نه در کم مینه * وی وی

مرگیه ! مخ دې چاته مه شه *وی وی

ماته دې مخ شی (شو) له سیا لی دې ویستمه *وی وی

*　　*　　*

ولې به نه ژاړم المه *وی وی

په ور و ربې خاو رې اړوي ولاړه یمه *وی و ی

دواده په دود کی

دښځو سندري

دواده دود په‌لر واوړو پښتنواوپښتو نخوا کې يې له ځينو کوچنيو تو پيرونه په عمومي‌دول يوشان ترسره کيږي،دواده رواج او س هم‌د پلرونواو نيکونو په‌شان‌اجرا کيږي،پښتانه دخپلونيکو اوپلر و نو درواجو نوښنه کوي‌او خپل‌دودونه هماغه‌شان‌ترسره کوي،ځوك‌چې‌دپلر وله کړووړوسروغړوي‌هغه‌تپي‌او وايي: «پلانکی پښتوپر يښو ده.» د دغو‌تکيو په رنا کې‌د ا بايد و وايو چې په منګلو او پکتيا کا مونو کی‌دواده‌دوداوس هم‌دخپلو نيکو نو په ځير دعمل جامه اغوندی .

سره‌له‌دې په وړو ر ،خوړو اوبو ، کبو (کبا) او خونی کې د پخوانه تو پیر راغلی دی . کوم شی‌چې تغییر نه دی کړی هغه دواده په وخت کې دښځو سند ري دي‌چې دهلك د کو رنه دجلکې تر کو ر او بیا ببر ته دجلکې د کو ر نه دهلك تر کو ره پو ري په‌بیل بیل ډول سر ه ویل کیږي چې مونږ په‌و روسته ډول داولسی اوفولکلو ري سند ري تر څېړنې لاند ې نیسو :

څه‌وخت‌چه‌دواده‌سر اسم‌ونیو ل‌شی، دهلك‌خپلې‌خپلو انې‌ښځې‌د خښتواو دوستو په نو م‌د هلك‌د کو رنه‌د هغه‌دخسر کو رته دوراسر ه‌یو ځا ی‌روانیږ ي اوپه‌لار کې‌دهلك اوهلك د کورنۍ د غړیوستا ینه‌په سند رو کې‌په‌زړه و ړ و نکی‌آ و ازتکرا ره‌وي:

سو رسا لو مې کو ردی زه سر توري‌باغ ته څمه
واده د خیا ل مځ دی زه یې سیل ته و ړځمه

ښځې اوپښغلی دهلك د کو رنه دواده په نیت په خو را ښکلیو کا لیو ، سرو اوشنو جاولیو ځانو نه سنبا لو ي ،ډول ډول پښتني پسو ل په‌ځان کو ي ، لوی لو ی کوند ري دسیو و اوخو انیو نه ډ کې وي اوپه‌ډیر ه‌خو شالۍ دجلکې‌دراوړلو دپار ه‌دهغې د کو ر لو رته‌دسند رو او دایر ی‌په‌بدرگه‌خپل منز ل(منزل)لنډ وی:

دغر په سر سپو ږمۍ ده رڼا به را وړي
نعیم جان موښه تو پچی دي و ند یا ربه راوړي
دغره په سر سپوږمۍ ده‌رڼا به راوړي

عبدلرحیم سوبنه ګډیږي وند یا ربه راوړي

خه وخت چې دورا وروځی اوخیښې دجلکی کورته نږدې شی ،

دوستې(خیښې،ښځی)احساسات او پښتنی غرور داسی څرګندوي :

سپینه و یجره لایه (خلاصه) که په ساما ن کې درغلمه

نورمحمد ه! کوردې کوم دي زوګل په درغلمه

خه‌وخت چې دوستې او خیښې دجلکی دپلار کورته دننه ورننوزي ،له بنه راغلاست اویو درنګ دسې اوسیالې نه وروسته بیا په سندرو اوپام پیل کوي :

ننواتې سې وړې وړې ،تیګ سی سلامې زړګی سې ستا په‌شان زړې وړې

راغله محبوبه راغله محبوبه

ددې سند ړې سره نورې تکی وایی ، تکې وهی اودایره په کلکه ورسره بدرګه کوي اولنډی پکی تکرار ه‌وي :

ستا دقسم په‌حسن خپل وي * را غله محبوبه راغله محبوبه

چې د دیدن په ځای کې وروکه کدمونه*راغله‌محبوبه راغله محبوبه

ننواتې سې وړې وړې تیګ سې سلامې زړګی سې‌ستا په شان زړې وړې

راغله محبوبه راغله محبوبه

دا پام هم وګوری ع :

یا وسې نه لیدې مینه * په‌ژړالاړې ،په ژړا را غلې

سترګې تو رې نرۍ ښې دی * په ژړالارې په ژړا راغلې
داګډ ې ودې سترګې ډې تو ره وینه *په ژړا لارې په ژړا راغلې
یاوې نه لیدې سینه په ژړا لارې په ژړا راغلې
تر دې پا م اوسند رې نه و روسته بل پام اچوی ، لاندې پام و ګورۍ
چې یوه تا ریخی پیښه تر پ جو تیږي :

په سمه کو رسه مسلیان (۱) راغلی دینه وهی ډلو نه
سو یې(۲) وطنه و رکو ینه
په خند ا هر ه جلکی خا ند ي
سو یې وطنه ورکو ینه
دایو ه نیمه دزړه و لې پر یکو ینه
سو یې وطنه و رکو ینه
په سمه کو رسه مسلیا ن راغلی دینه وهی ډ لو نه
سو یې وطنه و رکو ینه

او یاداچې :— په سمه کو رسه مسلیا ن ډولی دینه
سمه کو رسه تالا کیږی وای نری باران دی .
مخ ته دې ځیر کتلی نشم * وای نری با ران دی

(۱) مسلیا نو نه دلته مطلب پجا پیا ن دي
(۲) سو یې، ماله

ستا دې چا رګل پرې مې سترګې بر ېښو ینه * و ای نر ی با ر ا ن دی
په سمه کو رسه سسلیا ن ړ ولی د ینه سمه کو رسه تالا کیږ ی * وای نر ی با ر ا ن دی.

تر دې و ر و سته د معمو ل ر و اج سر ه سم خېښو او دوستو ته چای او ډو ډی و ر کو ي
تر چای او ډوډی و ر و سته د جلکی کلیو الی ښځې و ر ته وایی: څه د خو ر ا ك د پاره
خو نه یې ء ر اغلی پام و کی ء ،ګډې شی ء د و ا د هشپه د ه و لې غلی ناستی یې ء. په
خېښو د د و ی خبر ه سخته تماسیر ي او ځانته یې پیغور ګنې د پخوا په شان بیا په خوراشوق
پام اوسندر ي د تېږکو او دا یر ي په بدر ګه پیل کو ي:

خو له د شاګر د و ن سخ د ې لو ګر د ی خو ړ (لګه ،سم) او بو ته سه څه ساز دیګردی
په خو له د ې هېڅ ر اته و نه و ې خو ړ ا و بو ته سه څه سا ز دیګر د ی
په سنجو لی سر د ې و نه پو هـــېدسه خو ړ اویه ته سه څه ساز دیګر د ی
خو له د شاګر د و ن سخ د ې لو ګر د ی خو ړ او بو ته سه څه ساز دیګر د ی

تر لږ د ر نګ و ر و سته د اپام بدلو ی او بل پسې اچو ي:

آدم خان یې په سینو کی ببیو نی (بیاني) ستر ماتو ي بانو ته څینه * سیلی

آسمان ته لا ر ې د ختونشته * سیلی
لیلی مجنو ن په قدر تو ختلی د ینه * سیلی

آدم خان یـــې په سینو کی ببـــیو نې ستر ماتوي با نو ته څینه * سیلی
تردې او ږ د ه پام وروسته کله چې شپه پخه شی اونیمې ته و ر سیر ي، د جلکی سو ر

اونږ دې خپلو انې دزړه لهسوختهاوخـــپگان نه خپښو او دوستو تهٔ ییا وایی، څهدسړې شپه خونهده، دواده شپهده دډوډۍ دخوړلو دپاره خونهيې ع راغلې و اده دی سم آتې و اچوی ءله خپل ځای نه پورته شی ءگډې شې ءاوپه پام شروع وکړی ء. خپښې ددې دپاره چې دجلکی خپلو خپلو انو پیغور و ر پاتې نشی له ځایه جگیږي او په ولاړ یو په گډیدا او پام پیل کوي.

د گډیدا حال :

په دې حال کې د خپښو له ډلې نه یوه پیغله په خپله خوښه ځان گډیداته جوړوي او دپام سر و کی و ایي نو ړې غبرگې غبرگې تکی و ر سره اچوي او په زړه وړو نکی خوندو و ر غږ سندړې سره وایی، داپیغله په ځینو ځینو شیبو کې دخپښو او دوستو په منځ کې دریږي او دشاعر ې (شایرې) بڼه پیدا کوي چې و ر و سته به و شو دل شی.

ولاړه پیغله دخپښو منځ کې دریږي تکی او سر و کی اچوي او په شرنگ شرنگ په سینه سینه گډیږ او سندړې داسې وایي :

ځنگه په شرنگ شوې ر انه تیره

لکه لرې چې دتوت کې باز ار ته ځینه (ځینه)

له دې سندړې و ر و سته دمیدان په منځ کې په گډیدا پیل کوي او نو ړې خپښې ددایرې په شان گردې سره کینی او ددې صفت داسې په تکیو کې کوي:

په لمن کې به دې نیسم زیږ ې ګلې
سو ر دې بو ره مه شه زیږې ګلې

پیغله په ډېر شو ق د سیدان یو سر نه دبل سرپو ر ې په نڅا او ګډیدا دخیبنو مجلس او پام تو دو ي او داسی تکی د ګډیدا په حال کې کو ي:

چې پیغلوالی سې په زړه شی
که سې په غیږ کې شهز ادهو ي سړ به یی کمه

ناستې سلګر ې د هغې د تشو یق د پا ره داسی و ایی:

ګر انی! او ر په لمن و ړې * دا ګړ ده لمن و ړې په دا ګړ ده لمن وړې (و ر ې)

ګډ بدونکی پیغله د سیدان له لر ې سر نه په ګډیدا د دوستونځ ته ځان رار سوي د هغوی د صفت په مقابل کې د پام سر و کی داسی و رار و ي:

په دالار به بیادر نشم نو ؟

هغه دو ستې چې د د ې نڅا ته ناستې او په پام اچو لو ځان و ر سر مشر یک بو لی داسی و ر ته و ایی:

شخلې خو ر ې و لې نو ؟

ولاړه پیغله د نڅا په حال کی داسی ځو اب و ر کو ي:

په دالار کې ګل مخ ر اته و لاړ دی.

کله چې ځو اب ور کړ ې تر ې تیر یږ ي د سیدان یو سر نه بل سر ته په ډېر شو ق ګډیږي او ناستې د و ستې داسی سند ره و ر ته کو ي:

دخت لمنې دې ډما نو ساز کوې

غونډې او ر په لمن و ړې غونډې او رپه لمن و ړې

کله چې ناستې خپښې د دې صفت په داسې خو شاله او غو ره لهجه و کړي، دانو ره هم په جو ش او شو ق سره خپلې ګډې داته دو ام و ر کوی او ددې ملګرې خپښې او دوستې ته یوځوان یادو ی او دا پیغله دتکرې پیځې یوې خوا اوبلې خواته دلاسوپه واسطه ښو رو ی او په تیزه ګډې دا کولودد وی خواته ر انیږ دې کیږې او ددو ی سره سندره غبر ګو ی :

غونډه ر و انه دعارف سلام ته څی

غونډه او ر په لمن و ړې

لنډی د اسې پکې تکرار و ې :

مین مې کړې خوشال مې نکړې * غونډې او ر په لمن و ړې

غونډې او ر په لمن و ړې

داسې مې وچ کړې لکه در و زه په و اتونه * غونډې او ر په لمن و ړې

غونډې او ر په لمن و ړې

دلنډی دتکرار و لو او اچولو نه و روسته لو ړی سندره له سره پیل کوې او تو لې یې په ګډه سره دتکو او دا ږې په و هلو بدرګه کوې او په ښکلیو غاړو او آوازو نو یې و ایی :

دخت لمن دډمانو ساز کوې

غونډې او ر په لمنو ړې، غونډې اور په لمنو ړې
دځه وخت د پاره چې خښې او و لاړه پیغله په ګډه د اپام سره و کړي د جلکی د سو ر
او خپلو خپلو انو ښځو له خو ابیا د پیغو ر په ژ به ور ته ویل کیږی تاسی دا یو ه پیغله
دګډ یداد پاره ر اوستلې ده ؟ او ر در پو ړې شه سبا به ناوې خنګه له مو نږ و باسی ء
ځه د خیر ات شپه خو نه د مسم پام و اچوی ء او ګډې شی ء دلته د خښو او دوستو له
منځ نه بله پیغله هم پو ر ته کیږي او دو اړې پیغلې په ګډه سره په نڅا پیل کوی
ناستې ښځې ټکی د دا بر ې دو هلو سر یو ځای غبر ګه و ي او ښې ښې ټکی و لاړ و پیغلو
ته چې ګډ یږي کو ي او په صفت یې د کو تې فضا ګر مو ی :

په سخه د و ې شین ختې (۱) ر اغلې * و ی واخ
زه پکې کو پکو شو م چې د کو مې یا ر ي کړ مه * وی و اخ

لنډه ی ه د اسې پکې و یل کیږ ی:

ستر ګو ته ر نګ د ر نجو و ر کړه * وی و اخ
شنډو ته ر نګ د د نداسې و ر کړ ه مینه * وی و اخ
په سخه د و ې شین ختې ر اغلی * وی و اخ
زه پکې کو پکوشو م چې دې کوسی یار ي * کمه وی و اخ

---

(۱) شین خت یـې، د و ې پیغلې چې شنه خت و نه (کمیسو نه) و لر ي .
(۲) کـو پکو ـ اک حیران.

هغه پیغلي چې ګډیر ي دناستو ښځو خو اته ر اځی، خپله نا امیدي او د خپلو خپلو انو کړه وړه یا دوی او ناستي ملګر ي یې ځواب و ایی :

و ی خدایه !

هی خدایه ؟ !

و لې خو ر ي ؟

څه دي خو ر ي ؟

پیغلي د نخا په حال د هی او و ی خدایه په و یلو سر ه تر ي تبریر ي او بیر ته پـــه ګډیدلځانو نه و ر ته ر ارسو ي او داسی و ایی :

دین ګل خپل و اده ته خبر ي نه کړ و .

ناستي ملګر ي داسي ځو اب و ر کو ي :

خبر ي بې کړه دین ګله ! تور لو نګ سي بند په بند *څنې دي مار ونه دي

څنې دي مار و نه دي

څنې دي مار و نه دي

په دي ډول سر ه داسو ال ځو اب د د و ی تر منځ دو ام پیدا کو ي، و لاړ ي پیغلي د خپلو خپلو انو نه ګیله کو ي او ناستي ملګر ي ډاډګیر نه و ر کو ي ، د دایر ي او ټکو وهلو غږ د د و ی سند ر ي لاپسې ر نګینې کو ي. دسوال او ځو اب بل شکل دادی. داوا ر ناستي پیغلي او خپښې خپلو و لاړ و ملګر یو ته چې ګډیر ي و ایی:

شو لې ټکو م جلی او س به دې واده کمه.

یمود خدای قسم وي آدم خان ته خودې وکمه.

ولاړې سلګرې په ځانځانځاددوی ټولي ته ځانونه رارسوي او داسې ځواب ورکوی:

یمو د خدای قسم وي هغه سې ترهدی وه بې نه کمه.

ناستې پیغلې بیاورته وایی:

شولې ټکوم جلی او س به دې وادې کمـــــه.

په خدای دمو قسم وي میر باس خان ته خودې وکمـــه.

ولاړو پیغلو ته یې که خر اپ او ساده سړی یاد کړی وي داسې یې غندي:

یمو دې خدای قسم وي هغه لیونی دی وه یې نه کمـــــه.

یادا سی:

یمو په خدای قسم وي هغه ړونددی وه یې نه کمه.

شپه چې تیره شی او سهار شی، ناوې د پلارله کوره را وباسی او د هلک د کور په لوردورا وروخی او دوستې ورسره را روانې کیږی او دهلکـــ خپل خپلوان، ښځې په لارکې بیاداسی یادوي:

په دا لوی لوی کنډ ورا واوړه

په حکیم خان سې سلام وا یه سورسالو مخې ته راوړه.

په دا بر بر کنډ وراواوړه

په دوست محمد سې سلام وا یه چې کجاو (کجاوه) مخې ته راوړه

نا وې چې سر ته کینوي خپلی خپلوانې هغه جوړوي (سینګاروي) او داوخت کې یې داسی ستایی :

زمونږ ناوې ورځه په مخ رو یداره شې
حکیم خان د ستاغلام ته یې سر داره شـــې

خښې چې ددوی داسپکې واوري ، نو دخپلو سلاتړ داسې کوي :

یې تو تر پښو دي مرغلرې
ناوې زرزرجوړه وه زمونږ وطن دی لرې لرې

* * *

په سرنې (باندې) دې د لاچې ورښمنو پخه (۱) ده
وه خورې خانانو ته دې مخه ده

دجلی خپلې خپلوانې د هلک او خښو خپل داسې غندي :

په شو دومې سترې دولې، په غوړومې غوړولې
اوس داسې خلکو یووړي چې زیې (۲) یې تولې ولې

دوستی او خښې ددوی پیغور داسی ورغبرګوي :

یوښه سړی تړې ګډ کړیء سلاتړ لی دې وي
یوښه سړی تړې ګډ کړیء سلاتړ لی دې وي

---

(۱) پخه— دمجاز په ډول دورښمنو شال او جاولی نه مطلب دی.
(۲)— زیې یوتوک سړه دوی—زیې یې تولې ولی— سوالګر او زیې خواره.

دلته د سلاتړلی سړي د ګډ ولونه مطلب د ښمنی ده اودا تعبیر داسې دی ، که تاسې پرې خپه وی عدر ته ناسته دې وي (یعنی مه یې را کوی ع) سونبر به خامخا څوك پرې سر کړو .

جلکی چې د پلارله کوره راوباسی اود خسر کورته یې راورسوي داسې سندرې ورته بولي :

یې ښکیه شمال را غی، ترتولو ونو جګ تبر شی (شو)
سونبر داسې ناوې راوړه آوازیې تر کابل تبر شی

* * *

سونبر ناوې راوړه ګنګړې په پورې
راووزه یارمحمده ! که ناوې ګورې

* * *

پورې غرګړ د ونیولی
سونبر داسې ناوې راوړه مخ یې سرو شالو نیولی

* * *

په وره کې دانګورونه ولاړه ده
ورته را شه دین محمده ! په وره کې د خیالی ننګور ولاړه ده

ناوی ستوری دې ببر دی

ځوانی‌دې ښه‌ځوانی‌ده، ترعمل‌دې خدای خبر دی

* * *

داچې دناوې دراوړلو په مراسمو کې د کلی ځوانان او سړی د هلکۍ دلوري نه د جلکی کورتـــه دوراوو وروځیو په نامه ورځی لازمه بولو چې دنرانو سندري چې د وادە په ورځ و یل کیږي دنمونې اوشال د پارە دگرانو لوستونکو لەنظره تیرې کړو.

دوادە په ورځ دهلکۍد کلی‌ځوانان او خپل‌خپلوان‌په ښایسته ملی کالیو ځانونه جوړوي، توپک اودکلتوسوکمر بندونه ترملا کوی اودغوا په زیړ وغوړیو خپل اوږده ویښتان غوړوي دکلی په منځ کې‌کله چې دډول غږواوري په ډېره مینه سره‌ټول ځوانان دکورونونه دکلی‌منځ ته راوزي‌مخکې‌لەدې چې‌د ناوې د کلی‌په لور حرکت وکی د کلی مشرانو له خوا ورته ویل کیږي :« تاسو کنډ وته روان یې‌ع دلته په خپل کلی کې یوه پنجه آتې اوپام‌وکړیء څوچې مونږ موووینو»، دمشرانو د خبرې سره‌سم یوه پنجه(۱) آتې په خپل کلی کې کوي اوورووسته له هغې د خیر اواتفاق لاس‌پورته(پورته)کیږی

(۱)یو پنجه— یوەدرنگ— یوسات (شېبه)

او په یوه خوله د ناوې د کلی په لور روانیږی او په لارکی ډول ډول سندرې د ډوله‌دوهلو، شپیلی‌اود توپکو د ډډو (!) او د زونو پواسطه بدرګه کیږي ، او داسی بیتونه وایی :

جلکی ودیري په‌سپین‌سخ یې‌او ښکی‌سوتې‌شوې
جاروطنه‌پوتې‌شوې
چې‌سپینه‌یې‌سزه دې نشته　　جاروطنه‌پوتې‌شوې
لکه‌سپینه‌واوره تله‌شی‌په‌غرونه　　جاروطنه‌پوتې شوې
جلکی‌ودیري په‌سپین‌سخ یې‌او ښکی‌سوتې‌شوې
جاروطنه‌پوتې‌شوې

*　　*　　*

ته شوې رونه(روانه) پوتې(پاتې) زه پردي‌وطن‌ته‌لوړم
خپه‌یم‌ځکه‌ژوړم
چې‌را په‌زړه شی‌حال می‌نورشی　　خپه‌یم‌ځکه‌ژوړم
کالی‌می‌اورشی‌انداسونه‌می‌سوځینه　　خپه‌یم‌ځکه‌ژوړم
ته‌شوې رونه‌پوتې‌زه پردي وطن‌ته‌لوړم
خپه‌یم‌ځکه‌ژوړم

---

(۱) ډډۍ اوډډو — د توپکو د زو ته‌وایی چې وروڅی‌یی یوځای وار په وار غبرګ‌عبرګ سره کوی .

څه‌وخت چې وروڅې د جلکې کلې ته‌ورسيږي د معمول رواج سره سم ګډيږي او ملي آتڼ په ډېر شوق سره کوي. د ملي‌آتڼ په وخت کې د ګډيدا په ميدان کې ټول ځوانان د آتڼ په ډګر کې نيم يوې خوا او نيم بلې‌خوا ته د ريږي‌او د هرې ډلې‌ملګرې خپل‌لاسونه‌سره ورکوي او د دايرې‌په‌شان‌ګردې‌حلقه جوړوي‌او هره‌خوا‌په خپل‌وارسره‌د ډول‌اوشپيلي‌په‌بدرګه بيتونه وايي‌او د هر بيت‌سره‌ځوانان‌دخپلوپښو تلو ته (کدم) حرکت‌ورکوي او ډېر په کراره‌کراره ځي.د مثال‌دپاره‌د ابيتونه‌وګورئ:

شنه‌شنه‌دې خالونه　　خيولي‌وو ربل‌دې جوړ کې‌ولونه‌ولونه

* * *

ښکليه کندووره ! (کندهاره!)　　څلوردې‌درويزې‌څلورباز وره

* * *

ټګې‌ليلوټګې　　ډستونې(لستو نې)روکوي لوس‌پکې‌نشته

* * *

جلکې کيږه وډه شوه　　تو ويز يې‌د نامه‌غوتې‌وينه

* * *

دا توچې‌يور (يار)نيولی　　دا غرې(داسې) يوربه‌جوړ کم‌له‌څرمنې

* * *

لونګ‌به‌پرې شنمه　　غوبل‌به‌د چټونو (۱)(چټانو) پرې تړمه

(۱)—چټون :ځوانان ، مستان ، ژنې .

څه‌خوري‌یاره څه‌خوري دتور پلکي(پیکي)نه‌لوندې سپینه خوله خوري

* * *

دپون(۱)خواته‌سې‌ستر ګی‌تو ره‌و لی ،پون‌را باندې‌را غی‌منګو لې‌سې‌په یار ولګو لې

* * *

فقیره د عاو کـــــه چې‌ږ نګښی‌دا و یلی‌قلمو نه

* * *

لښته‌یم‌غو ږ‌پر م در ښګو څلی‌نه‌یم‌چې‌ږ نګیږ م

* * *

پای—په‌مینه‌علي‌محمدمنګل ۱۸/۶/۱۳۵۴

(۱) پون: پان

4836



ددې کتاب لیکوونکی

علی محمد «سو بمن»

A Collection of Afghan Folklore

By

Ali Mohammad Sobman

Pashtu Academy

March. 1976

دولتی مطبعه